# شخصی زیری رسونه

GLOBAL UNIVERSITY

# شخصي زيرئ رسونه

آيا غواړئ وپوهيږئ چې:

- د شخصي زيرى رسونې لپاره د خداى اراده او پلان څه دى؟
- څرنګه کولاى شئ چې خپل ځان د زيري د بيانولو د کار لپاره په آغېزمنده توګه چمتو کړئ؟
- څرنګه کولاى شئ چې دا د خوشحالۍ خبر خلکو ته ورسوئ؟

که چېرې ستاسو ځواب هو وي نو داکتاب خامخا ولولئ. د دې کتاب وړانديزونه چې د عملي کولو وړدي، تاسو سره به مرسته وکړي څو د عيسى مسيح لپاره ښه ګواهان شئ.

دغه کتاب په ډېرې ساده او آسانه طريقې سره ليکل شوى دى چې لوستل او پوهېدل يې آسانه دي. فقط همدومره کافي ده چې د هغې لارښوونې په عمل کښې پلي کړئ او خپل ځان و آزمايئ.

دغه کتاب د هغو کتابونو د سلسلې يوه برخه ده چې د «مسيحي ژوند» په نامه يادېږي. د مسيحي ژوند سلسله ټول اته-لس کتابونه لري. ښه به دا وي چې دا کتابونه په پرله پسې توګه مطالعه کړئ.

## د عنوانونو فهرست

سرليک                                                    د پاڼې نمبر

لومړی لوست:

د مثالي نمونو پیروي وکړئ ---------------------- ۳

چمتو اوسئ ---------------------------------------- ۱۷

زيرى ورکړئ ---------------------------------------- ۳۳

خپلې تجربې سره شريکې کړئ -------------------- ٤٧

دنده او وظيفه وپېژنئ ------------------------------ ٦٣

پر خنډونو غلبه وکړئ ----------------------------- ۸۲

خپل سلوک ته پاملرنه وکړئ ---------------------- ۹٦

د اجرونو او مکافاتو انتظار کوئ ---------------- ۱۱۲

## لومړی لوست

# د مثالي نمونو پیروي و کړئ

که چېرې غواړئ چې تاسو یو کور جوړ کړئ نو لومړی ګام به موځه وي؟ تاسو باید د کار د پیل څخه مخکې د ځان سره یوه نقشه ولرئ. باید تصمیم ونیسئ چې څو کوټې جوړول غواړئ او دروازې او کړکی یې په کوم ځای کښې اېښودل غواړئ. د ودانۍ نقشه تاسو سره مرسته وکړي څو د هغه څه په پای کښې چې تاسو جوړکړیدی خوشحاله او د هغې څخه راضي واوسئ. په زړې لوظنامې کښې لولو چې خدای خپل قوم ته و ویل چې زما د عبادت لپاره یوه ودانۍ جوړه کړئ. او د دی کار په سرته رسولو کښې ئې د مرستې په توګه یوه نقشه هم هغوی ته ورکړه. خدای (۷) ځله په هغوی ټینګار وکړ څو په بشپړه توګه د هغهٔ د نقشی سره سم، خپل کار پرمخ یوسي. نو کله چې هغوی حکم ومنلو، او په بریالیتوب سره ودانۍ جوړه شوه، خدای هم خوشحاله شو. که چېرې غواړو چې خلک دې په عیسیٰ مسیح ایمان راوړي نو یوې مثالي نقشې او نمونوي دستور ته اړتیالرو چې خدای هغه د خپلې وینا په ترڅ کښې مونږ ته راکړېده. دغه نقشه او نمونه په عملي ډول د عیسی مسیح او دلومړنیو مسیحیانو په ژوند کښې ګورو. د خدای د نقشې په زده کولو سره به تاسو وشئ کړای چې نوروته د عیسیٰ مسیح د زیري په رسولو کښې هغه وکاروئ. چې دا هم هغه شخصي زېری رسونه یا بشارت دی.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به يې ولولئ

- د خدای نقشه
- د عيسیٰ مسيح ژوند
- د لمړنيو مسيحيانو نمونه

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي څو...

په شخصي پيغام رسونې کښې د خدای د ارادې او نقشې واقعي څرنګوالی او ماهيت وپيژنئ.
په خپل ورځني ژوند کښې مسيح او لومړني مسيحيان خپل د لارې مثال او نمونه وګرځوئ.

---

## د خدای نقشه

---

آيا تر اوسه مو په دې سوچ کړيدئ چې خدای دا نړۍ، آسمان، ځمکه، ستوري دريابونه، غرونه، درې، دښتې او بلاخره انسان ولې پيدا کړ؟ هو! ډير خلک دا پوښتنه کوي، خو ځواب ئې هم ډير ساده او آسان دی. خدای د ټولو شيانو لپاره يوه نقشه او پلان لري او هيڅ شی بغير د يو ښکاره هدف څخه ندی پيدا شوی. د هماغه پيل څخه، يعنی د انسان د پيدا ايښت څخه وړاندې خدای غوښتل چې انسان ته په هر څه کښې چې هغه ئې لري برخه ورکړي. او دغه مطلب د شخصي زيري ورکولو او پيغام رسولو حقيقي نمونه ده. يعنی په هر هغه څه کښې چې لرو شراکت او برخه

درلودل. مقدس کتاب وائي: "او خدای وویل چې آدم به د خپل صورت په شان جوړ کړو." (پیدا ایښت ۱: ۲۶)

خدای انسان په خپل طبیعت او شخصیت کښې شریک کړ چه دا د انسان لپاره د خوشحالۍ یو زیری ؤ. د هغه نه وروسته هر څه چې خدای پیدا کړل نو انسان ته یې ورکړل. وروسته بیا د عدن په ښکلی باغ کښې خدای دانسان سره لاس په لاس روان ؤ، او د آدم سره یې لکه د یو پلار په شان چې له خپل ځوی سره خبرې کوي، خبرې کولې. هغوی د یوبل سره مرکه کوله او د دواړو تر منځ یوه کامله پوهه او درک موجود وو او یودبل په طبیعت پوهیدل. کاش چې زه یو انځور ګر وای چې ددی صحنې ښکلا مې به یوۀ تصویر او عکس کښې تاسوته څرګند کړی وای. خو بیا هم پوره باور لرم چې زه به نه ووم بریالی شوی چې دا صحنه په مکمله توګه تاسو ته انځور کړم.

یو حیرانووکی حقیقت دادی چې د خدای مینه د انسان سره حتیٰ د ګناه کولو نه وروسته هم له منځه نه ځي. خدای سره د دې چې غمجن ؤ مګر خپل سوچ ئې بدل نکړ. هغه د دوهم ځل لپاره باغ ته راغی او انسان ته ئې د هغۀ د خلاصونکي د راتلو زیری ورکړ. د پیدایښت په کتاب ۳: ۱۵ کښې داسی لولو چې خدای مار، یعنی شیطان ته وائي: "د ښځې اولاده به ستا سر وټکوي" په دې ځای کښې خدای د خپل ځوی یعنې عیسیٰ مسیح طرف ته اشاره کوي. خدای وویل: "شیطان چې کله آدم ته وسوسه ورواچوله او هغه یې تیرویستـه ترڅوګناه وکړي نو په حقیقت کښې د هغۀ سرئې وځپه، مګر زه به خپل ځوی عیسیٰ مسیح واستوم څو په

خپله د شیطان سر وځپي." هوکی د خدای مینه هېڅ حد او اندازه نلري.

دیوحنا د انجیل په ۳: ۱۲ کښې لولو چې: "خدای د دې دنیا سره داسی مینه وکړله چې خپل یکی یو زوی یې هم ورکړو چې هر هغه څوک چې په زوی یې ایمان راوړی هغه هلاک نهٔ شی خودتل عمری ژوندون بیامومی." دغه پیژندل شوی آیت د شخصي پیغام رسونې د اهمیت په اړوند د خدای د نقشی زړهٔ او اساس جوړوي. د خدای مینه د هر چا لپاره په خاصه توګه موجوده ده. داسی بخشش او رحمت چې د هر چا لپاره یو برابر ده چې په هغې ډلې کښې تاسو هم شاملیدلی شئ.

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

صحیح ځواب په نښنه کړئ.

۱ـ خدای په شخصي پیغام رسونې کښې خپله نقشه:

الف) له آدم سره په یوځای قدم وهلو کښې څرګنده کړه .

ب) آدم لره په یو ښکلی باغ کښې د ځای ورکولو له طریقه څرګنده کړه.

ج) په خپل شخصیت او طبیعیت کښې د آدم د شریکولو له لارې څرګنده کړه.

۲ـ کله چې آدم ګناه وکړه خدای د..............................له لارې انسانانو ته د خپله بخښنه جاري وساتله.

الف) خپل زوی عیسیٰ مسیح د ورکولو

ب) مار يعنی شيطان ته د سزا ورکولو

ج) غمجن کيدو

۳ـ ولی خدای خپل ځان او خپل ځوی د ټول بشريت لپاره قربان کړ؟

خپل ځوابونه د لوست په پای کښې پرتله کړئ.

# د عيسیٰ مسيح ژوند

انسان ګناه کړې ده. غم، ناروغی، جنګونه او حتیٰ مرګ هم د ګناه پايله ده. که څه هم خدای نشو کولای چې له انسان سره د پخوا په شان اړيکي ولري خوبيا هم دهغه د ژغورنې لپاره يې يوه نقشه درلودله چې هغه د عيسیٰ مسيح رالېږل ؤ. عيسیٰ مسيح د خپل خدمت او دندې په هکله ويلي ؤ: "درب روح په ما نازل دی. ځکه چې زه هغهٔ مسح کړی يم، او دی له يې را استولی يم چې عاجزانو ته زيری ورکړم، چې قيديانو د آزادی او ړندو ته د بينايی اعلان وکړم، او چې ژوبل شوی مظلومان آزاد کړم، او درب د قبول شوی کال وعظ وکړم." (لوقا ۴: ۱۸-۱۹)

په دې نړدې وختونو کښې ما په خپل هيواد کښې چې په لويديځه افريقې کښې دی، په يوې عبادتي غوندې کښې ګډون وکړ چې د شپږو سوو تنو په شاوخوا کښې مسيحيانو پکښې برخه اخيستې وه. هغوی دغه روحاني سندره ويلي چې: ((ای مالکه! که چېرې ستا شفا ورکونکی او ژغورونکی قدرت نه وای، نو غرونه او غونډی به مو د اوسيدو ځايونه وو او دوزخ به زمونږ په برخه کښې رسيدلی وای.))

عیسیٰ مسیح په شخصي زېري رسونې کښې زمونږ لپاره یوه مثالي نمونه ده هغه د خلکو تر منځ هېڅ قسمه توپیر ته قایل نه ؤ. هغهٔ لکه څنګه چې له ګناهګارانو سره ډوډۍ خوړله، همدارنګه یې د تعلیم یافته کسانو لکه نیقودیموس او یوناني ښوونکو سره هم رابطه ساتله. په جذام (خوړونکې ناروغي) اخته شوي کسان به هغهٔ ته راتلل او هغهٔ به ورته شفا ورکوله. حتیٰ د شیطاني او شریرو روحونو په دام ښکیل کسان به هم د هغهٔ حضور ته راتلل او عیسیٰ مسیح به هغوی ته د شیطاني روحونو څخه آزادي ورکوله. کله به چې عیسیٰ مسیح استراحت او آرامتیا ته اړتیا درلوده نو خپل وخت به ئې د ماشومانو او کوچنینانو سره تېراوهٔ. کونډو او سرتېرو به د هغهٔ څخه مرسته ترلاسه کوله. څوک کولای شي چې هغه په دې تورن کړي چې ګنې هغهٔ د خلکو اړتیاو ته پاملرنه نه درلوده؟

عیسیٰ مسیح یوازې یو هدف درلود او هغه د هغهٔ چا د هیلې پوره کول ؤ چا چې هغه ئې استولی ؤ. پطرس رسول د عیسیٰ مسیح د ژوندون او خدمت په اړوند وائي: "...هغه به په هر ځای کښې ګرځیدو او هغه ټولو سره یې ښه کول، او څوک چې د ابلیس په قبضه کښې وو هغه به یې جوړول ځکه چې خدای دهغه سره وو." (اعمال د رسولانو ۱۰: ۳۸)

خدای د مسیح په وسیله ګناه معاف کوله او خلک یې خپل لورې ته راجلبول. عیسیٰ مسیح د دې لپاره چې د خپل پلار نقشه سرته ورسوي ډېرې سترې قربانۍ یې تر سره کړې. هغه اول خپل کور چې په آسمان کښې ؤ او خپل جلال او تخت پرېښود څو مونږ ته راشي. هغه په یوه اخورکښې وزیږیدهٔ او د هغو خلکو د مرستې

لپاره راغی چې هغه یې ونه منلو. خو دهغه ډیره لویه قرباني او سرخندنه هغه وخت وه کله چې هغهٔ د سولۍ(صلیب) پر سر یې په ډیرې لیوالتیا سره خپل ځان زمونږ په خاطر قربان کړ. او تر هغه وخته پورې هغهٔ خپل غږ پورته نکړ تر څو هر څه: "پوره شو." (یوحنا ۱۹: ۳۰) وګورئ. او هغه د بري اوکامیابۍ آواز ؤ. د هغهٔ دنده پای ته ورسیده او د شخصي پیغام رسونې مثالي نمونه او د خوشحالۍ زیرې ئې تر ابده پورې څرګنده او روښانه کړ. عیسی مسیح د مرګ مزه وڅکله څو مونږ او تاسو ته ژوندون وبخښي. عیسی مسیح زمونږ هغه پور چې مونږ باید خدای ته ادا کړی وای، په خپل ځان ومنهٔ او هغه یې ادا کړ.

عیسیٰ مسیح دا د پادشاهانو بادشاه او د مالکانو مالک، د دې ځمکې پرمخ دیو داسې خدمتګار په څېر ؤ چې د خپل سر د اینښودلو لپاره یې ځای نه درلود. هغه ټول دغه کارونه د دې لپاره په خپل ځان ومنل، او سرته ئې ورسول چې مونږ سره ئې مینه درلوده. آیا د دې څخه لویه د خوشحالۍ خبره او زیرې شته؟ رښتیا چې نشته.

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

۴_ صحیح عبارت په نښنه کړئ.

الف) عیسیٰ مسیح خدای راولیږهٔ.

ب) هغهٔ به خلکو ته پاملرنه کوله او دهغوی خیال به یې ساتهٔ.

ج) هغهٔ به هر هغه چاسره چې د هغهٔ لورې ته راتهٔ مدد نکوهٔ.

د) د عیسیٰ مسیح قدرت محدود ؤ.
ه) د عیسیٰ مسیح هدف د خدای د ارادې سرته رسول ؤ.
و) هغه قربانۍ ته لیواله ؤ.

۵ـ ولی عیسیٰ مسیح دې ته لیواله ؤ چې خپل ځان مونږ نه ځارکړي؟
خپل ځوابونه د لوست په پای کښې پرتله کړئ.

## دلومړنیو مسیحیانو نمونه

عیسیٰ مسیح راغی څو زمونږ سره د خدای او دهغۀ د مینې په هکله خبرې وکړي. خو شرارتکاره او بدکاره خلکو هغه د صلیب پر سر مصلوب کړ. مګر هغه په قبر کښې پاتې نه شو اوبیرته ژوندون ته ستون شو. هغه د مړو نه راپرته شو او اوس په آسمان کښې د خپل پلار ښي لاس ته ناست دی. د خدای ډیر شکر ادا کوم چې د هغۀ نقشه انسانانو ته د خوشحالۍ د زیري ورکولو په ارتباط یوازې تر میسح محدوده پاتې نه شوه بلکه مسیح خپله دغه دنده رسولانو او خپلو شاګردانو ته و سپارله.”بیا هغۀ هغوی ته وویل، د تمامې دنیا هری سیمې ته لاړشئ، او زما د زیری وعظ ټول مخلوق ته وکړئ.“ (مرقس۱۲: ۱۵)

دغه حکم یوازې رسوالانو، مبشرینو(زېري ورکوونکي)، دیني لارښوونکو، کلیسا پالونکو او ښوونکو لپاره نه ده، بلکه ټول مسیحیان په برابره توګه په کښې شامل دي. مګر عیسیٰ مسیح خپل شاګردان په څه ډول دي دندې لپاره واستول؟ دا د هغې دعا څخه را څرګندیږي چې هغۀ د خپل پلار حضور ته وکړه:

"لکه چې تا زه دنیا ته راستولی یم، دغسی ما دوی دنیا ته استولی دی." (یوحنا ۱۷: ۱۸)

او خدای په څه ډول عیسیٰ مسیح راولېږهٔ؟ خدای عیسیٰ مسیح په خپل قدرت، طاقت او یوې معلومې دندې سره دنیا ته را واستاوه. عیسیٰ مسیح راغی څو خلکو ته آزادي ورکړي، نه د دې لپاره چې حکومت وکړي او یا خلک محاکمه کړي. او همدغه دنده او مسؤلیت مونږ ته هم د هغه څخه په میراث پاتې شوې ده. لکه هسې چې مسیح وویل: «ای پلاره! لکه څنګه چې تا زه دنیا ته ولېږلم ما هم داسې دوی دنیا والو ته ولېږل. څرنګه چې دې زما ساتنه کوله دوی هم وساته، څرنګه چې دې زما خبروته غوږ نیولو، هماغسې ددوی خبروته هم غوږ ونیسه، لکه څنګه چې زماسره وې د دوی سره هم اوسه.» آیا دایو عجیبه حقیقت ندی چې مونږ دخدای له خوا رالېږل شوي استازې شو؟ اوس راشي چې د پطرس د پینطکاست دورځې پیغام ته چې د مسیح په هکله دی پاملرنه وکړو. دغه تاریخي پېښه درسولانو د عملونو په کتاب ۲: ۱۴_۳۹ کښې لولو. پطروس دیوې لوئې ډلې مخې ته په فرضي ډول په خپل ذهن کښې مجسم کړئ چې غواړي عیسیٰ مسیح هغوی ته وروپېژني. یو ځل بیا پطرس دیهودو دشورا پر وړاندې وائې: «څنګه زه د هغه څه نه لاس واخلم، څه مې چې لیدلی دي او هم مې اوریدلی دی؟» اوس د پطروس پسې د رومي صاحب منصب کرنیلیوس کورته ځو، یعنې هغه څوک چې د خدای په لټه کښې ؤ. تاسو ګورئ چې پطرس دیوې لویې ډلې پر وړاندې د عیسیٰ مسیح او دهغه د صلیب په اړوند خبرې کوي.

درسولانو د عملونو کتاب د پولس رسول او د هغه د سفرونو په هکله ډېر زيات جزئيات مونږ ته بيانوی. د پولس او دهغهٔ د سفرونو د پېښو پلټنه وکړئ او دهغهٔ ويناوو ته غوږ شئ. هغه د مسيح ، او هغهٔ هم په سولیٔ(صليب) شوي مسيح نه بغير نور د هېچا په هکله خبرې نه کولې. خپله ذاتی تجربه ئې د نورو سره يوځای کوله او خلک يې د مسيح لورې ته راوستل. او دغه کار د پولس رسول نه ماتيدونکي تنده وه. پولس حتیٰ د زيري د رسولو لپاره دې ته هم چمتو ؤ چې کړاونه وګالي. هغه زندان ته يوړل شو، په لرګو و وهل شو، په زنجيرو کښې وتړل شو، وږی او يوازې پاتې شو، ملګرو ئې هغه هېر کړ. مګر هېڅ شي هغه ته د زيري ورکولو په لار کښې خنډ واقع نه شو څو هغه دعيسیٰ مسيح د پيغام رسولو څخه لاس اخيستلو ته اړ کړي. که چېرې حالات داسې ؤ چې هغهٔ نشو کولای چې خبرې وکړي نو د ليکلو په وسيله به ئې دا کار ترسره کاوهٔ چې يا يې په خپله ليکلو او يا بل چا به ورته ليکلو. څو داسې يو ورځ ورسيده چې هغه وويل: "ځکه چه زه اوس قربانی کيدونکی يم او زما د رخصتيدو وخت راغلی دی. هغه جنګ چې ما ته په دې دنيا کښې کول وو، ما په ښه شان وکړو، خپله منډه مې پوره کړې ده، او هغه ايمان چې ماته سپارل شوی وو هغه مې محفوظ ساتلی دی." (د تيموتيوس په نوم دوهم خط۴: ۶_۷)

په تيرو زمانو کښې کله چې يو ښکاري به کوم فيل له منځه يووړ نو کور ته به راستون شو ترڅو دا د خوشحالیٔ خبر ټولو ته واوروي. کله چې امريکايان د لومړي ځل لپاره د سپوږمیٔ کُرې ته پورته شول نو داخبر يې درادېو، تلويزيون، ورځپاڼو او جريدو له

لاری ټولی نړی ته خپورکړ. دا د انسان طبیعت او فطرت دی چې غواړي یو ښه خبر نورو ته هم ورسوي. نو آیا دا لاژمه ده چې مونږ او تاسې چې د ټولونه د لوی خبر اوښه زیري لرونکي یو، هغه نوروته ونه رسوو او دهغوی سره د هغه په هکله خبرې ونه کړو؟ هغه وخت چې عیسیٰ مسیح خپل ځان سامري ښځې ته ښکاره کړ، نو هغه ښځه لکه د هغه افریقائي ښکاري په شان په تېزی سره ببرته ولاړه، او هغه څه چې مسیح د هغی لپاره سرته رسولی ؤ، هغه یې خلکو ته بیان کړل (یوحنا۴: ۵-۲۹).

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

٦ـ پطروس، پولس او سامري ښځه له یو بل سره څه مشترکه وجه لري.

الف) هغوی ټول تعلیم یافته شخصیتونه وو.

ب) هغوی ټولو غوښتل چې د مسیح په هکله د نورو سره خبرې وکړي.

ج) هغوی دخلکو نه غوښتل چې د هغوی عزت او احترام وکړي.

٧ـ ولی لو مړني مسیحیان دې ته لیواله وو چې د عیسیٰ مسیح د خوښی زیری نورو ته هم منتقل کړي ؟

٨ـ د ښي خوا په جدول کښې ګورو چې ولې، او څرنګه عیسیٰ مسیح دخدای په وسیله ځمکې ته راولېږل شو. که چېرې په دوه نورو جدولونو کښې ذکر شوي کسان د هغه دندو سره ورته والی

لري کوم چې د عیسیٰ مسیح په غاړه وې نود هغې مخې ته د (✓) نښه ورکړئ.

مسیح راغی | رسولان راغلل | مونږ راغلي یو
---|---|---
- له یوې دندې سره | |
- په قدرت سره | |
- ځو محنت وګالي | |
- د ټولو خلکو لپاره | |
- تر څو خلک آزاده کړي | |
- تر څو خلکو ته زیری ورکړي | |
- ترڅو د خدای د مینې یوه | |
ژوندۍ نمونه وي | |

لومړني مسیحیانو دیوریشلیم، یهودیې، سامرې، ښارونو او د روم د امپرا طورۍ ټولو خلکو ته د خپل شهادت او اقرارونو په وسیله په عیسیٰ مسیح باندې ګواهی ورکړه. ایمانداران به هر ځای ته سفرونه کول. هغوی خپله مسیحي تجربه خلکوته بیانوله. په حقیقت کښې کله چې بې ایمانانو ولیدل چې هغوی د عیسیٰ مسیح په څیر خبرې کوي او هم د عیسیٰ مسیح په څېر ژوند کوي نو پر هغوی ئې د «مسیحیانو» نوم کېښود چې معنیٰ ئې «د مسیح په څیر» او یا «د مسیح پیروان» ده. لومړني مسیحیانو د مسیح سره داسې مینه درلودله او خپل ځانونه یې د مسیح احسانمند ګڼل چې د دې وس ئې نه درلود چې د عیسیٰ مسیح په اړه نورو سره د خبروکولو نه ډډه وکړي. بلکه همیشه به یې په هرډول حالاتو

کښېٓ دهغهٔ زيری خلکوته رسولو. مونږ هم غواړو چې په همدې دليل د نورو سره د مسيح په هکله خبرې وکړو ځکه چې هغه سره مينه لرو او غواړو چې دهغه مينه نوروته هم ورکړو .

## خپل ځوابونه پرتله کړئ

۱ـ ج
۲ـ الف
۳ـ ځکه چې خدای مونږ سره ډيره مينه لری.
۴ـ الف) صحيح
ب) صحيح
ج) غلط
د) غلط
هـ) صحيح
و) صحيح.
۵ـ ځکه چې هغه مونږ سره مينه لري.
۶ـ ب
۷ـ ځکه چې مسيح او خلکو سره يې مينه درلوده.
۸ـ ټولو ته د (✓) نښه ورکړئ.

# ستاسو يادداشت

## دوهم لوست

# چمتو اوسئ

آیا هغه ورځ ستاسو یادیږي چې په لومړي ځل مو لوستل زده کړل؟ په ابتدا کښې دایو مشکل کار ؤ. آیا داسې نده؟ لومړی په هیڅ نه پوهیدئ مګر لږلږ مو زده کړل چې د الفبا توري ولولئ. وروسته مو یو لفظ او بیا یوه جمله او همداسې ګام په ګام مو لوستل او لیکل زده کړل او اوس دا تاسو لپاره یو عادی کار دی. ښایي هغه ورځ به مو هم په یاد وي چې غوښتل مو د خپل کار د زده کولو لپاره زده کړه وکړئ. تاسو ټول مطالب په یوه ورځ ندي زده کړي، بلکه دوخت په تیریدو سره او مرحله په مرحله مو خپلې زده کړې د عمل په ډګر کښې پلی کړیدي ترڅو پدی بریالی شوئ چې د خپل کار د عهدې او ذمه وارۍ نه په ښه توګه رابهر شئ. مسیحي ګواهي ورکول هم په همدې ډول ده. د زیری ورکولو په وخت کښې باید ډیر موضوعات زده کړو. په لومړی لوست کښې مو د خدای د نقشی او پلان په هکله او د هغهٔ پیغام ښځې اونر ته دوراندې کولو او رسولو په اړوند خبرې وکړې، اوس غواړو چې د دې لپاره چې خلک د عیسیٰ مسیح لور ته را جلب کړو باید څرنګه تیاری ولرو.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- د مسیح پیژندل زده کړئ
- د روح نه مالامال شئ

الف: تاسو قدرت ته اړتیا لرئ

ب: تاسو لارښوونی ته اړتیا لرئ
❖ د ښو وسلو څخه استفاده وکړئ
الف: د روح توره
ب: د عیسی مسیح نوم

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي څو...

پدې وپوهېږئ چې انفرادی پیغام رسونې کښې کوم بنسټيز ضرورتونه موجود دي.

---

## د مسیح پېژندل زده کړئ

---

مونږ او تاسو دیو هدف لپاره خلاصون موندلی دی. زمونږ نه غوښتل شویدي چې د مسیح ګواهان شو، او هغه څه چې خدای زمونږ په ژوندون کښې سرته رسولي دي هغه له نورو سره هم شریک کړو یعني هغوی پرې خبرکړو. مګر د دې څخه مخکې باید پخپله مسیح شخصاً وپېژنو. د هغهٔ د پېژندنې لپاره باید یو ټاکلی وخت ځانګړی کړو چې له هغه سره یې تیر کړو. څکه دا څنګه کیدای شي چې دیو داسې کس په هکله له نورو سره خبرې وکړو چې پخپله ئې نه پېژنو؟ آیا محکمه به د یوې موضوع په هکله ستاسو هغه شهادت قبول کړي چې تاسو د هغه نه هېڅ خبر نه یئ؟ دا درسته ده چې مسیح خپل شاګردان نړۍ ته واستول چې دهغهٔ د ژغورنی زیری خلکو ته ورسوي، خو دایې هم هغوی ته وویل چې: «انتظار وکړئ څو په پوره ډول چمتو شئ.» او دغه تیاری یا چمتووالی وخت ته ضرورت لري. د مقدس کتاب څخه د ځینو آیتونو حفظول او یاد خلکو سره د روابطو د ټینګولو د لارو چارو څېړل، ډیر وخت نه غواړي. حتیٰ نورو ته پاملرنه، او دا چې هغوی

څرنګه خلک د عیسیٰ مسیح لورته رابولي، هم ډیر زیات وخت نه نیسي. مګر د عیسیٰ مسیح پېژندنه، د هغه دپورته کیدو د قدرت پېژندل او د هغهٔ د میني ژورتیا، په الهی مدرسه کښې د مالک سره یوڅه وخت تېرولو ته اړتیا لري. کله چې مونږ د هغه خدمت کوو نو همیشه د هغهٔ د ښه پېژندلو هیله پیدا کوو. پولس رسول په دې اړوند دکورنتس کلیسا ته ولیکل: "ځکه چې مادا اراده کړې وه چې ستاسو په منځ کښې د عیسیٰ مسیح بلکه په سولیٔ شوی مسیح نه بغیر نور هیڅ ونه پیژنم."
(اول خط دکورنتیانو په نوم ۲: ۲)

پولس وویل تر څو چې تاسو سره یم هر څه به هېرکړم مګر په صلیب شوی مسیح به هېر نه کړم. رسولانو هم د عیسیٰ مسیح حقیقي پېژندنې لپاره وخت ځانګړی کړی وو چې داکار د انجیل شریف او دمالک د پیغام په رسونې کښې دهغوی د بر یالیتوب راز وو. بې دکوم شک نه لومړنیو رسولانو په هم هغه ابتدا کښې په مسیح ایمان درلود او هغه یې د خپل مالک په صفت منلی وو. خوبیا هم لکه څنګه چې یو ورځینی ماشوم نشي کولای چې وګرځي په همدا شان د مسیح پېژندنه هم اوږود وخت ته اړتیا لري چې د لومړنیو رسولانو د ژوند یوه برخه هم په همدې کښې تېره شوې ده. د خدای پاک په کلام کښې لولو چې عیسیٰ مسیح د یو واده په مراسمو کښې اوبه په شرابو بدلې کړې. کله چې شاګردانو یې دا حالت ولید، نو په هغهٔ یې ایمان راوړ. وختې عیسیٰ مسیح د باد سره خبرې کولې او طوفاني دریاب یې آرام کړ نو شاګردان ئې په تعجب کښې پریوتل او د خپلو ځانونو څخه ئې وپوښتل: "...دا لا څوک دی چې باد او دریاب یې هم حکم منی." (مرقس۴: ۴۱)

په هغهٔ ورځ هغوی غوښتل چې مسيح په حقيقی توګه وپېژنی ځکه چې دهغهٔ قدرت يې وليدلو او د هغوی د مالک بی انتها قدرت، هغوته هوسايي ورکړه. بيا مقدس کتاب وائي چې د ځمکې پر مخ د مسيح د خدمت د پوره کېدو پر وخت د مسيح ډېرو شاګردانو هغه خوشې کړ او يوازې يې پرېښود. مګر د مسيح دولس واړه شاګردان داسی نه وو. ځکه هغوی دې ته راغلي وو چې عيسیٰ مسيح په ښه توګه وپېژني. پطروس د ټولو په نمايندګۍ وويل: "مالکه! چاله به مونږ لاړ شو؟ تا سره خود تل ژوندون خبری دی." (يوحنا ٦: ٦٨)

همدا پوهه او درک هغوی د خپل مالک نه لرې نکړل. (توما) چې د مسيح د شاګردانو له ډلې څخه ؤ او په پوره ډول دهغهٔ د مړينې تر آغېزې لاندې راغلی ؤ، دمړو نه د مسيح د راپورته کېدو حقيقت ئې نه منلو، او د شک په سترګه به يې ورته کتل. مګر کله چې مسيح ورته پخپله خپل ځان ځرګند کړ نو توما په ځمکه راپريوته او وئې ويل: "زما مالکه او زما خدايه!" (يوحنا ۲۰: ۲۸)

دتوما ذاتی پېژندنه هغه خپل مالک ته ورنږدې کړ. پطرس د عيسیٰ مسيح جلال او عظمت په غره کښې د هغه د شکل په بدليدو کښې وليدو. "هر کله چې هغهٔ دعا کوله نو دهغهٔ شکل بدل شو او جامې يې سپينی وځليدلی." (لوقا ۹: ۲۹)

خدای د خپل ځوی حقيقي ذات پطروس ته ښرګند کړ. عيسیٰ مسيح درې ځله د هغهٔ نه وغوښتل چې ايماندارنو سره مرسته وکړي. پطروس سره د دې چې د عيسیٰ مسيح نوم ئې په پوره قدرت سره کاروۀ مګر تر دې دمه ئې د خدای د مينی پراخوالی او د هغه عظمت نه ؤ پېژندلی. پطروس په دې نه پوهيدۀ چې د خدای

مینه د کوم نژادي توپیر او درنګ د بدلون څخه پرته ټولو انسانانو لپاره په یوه اندازه او یو شان ده. خدای په ډېرې سختۍ سره وکړای شوو چې پطروس راضي کړي چې د کرنیلیوس کورته لاړشي او هم هغلته ؤ چې پطروس دې ټکي ته متوجه کېږي چې خدای د هیچا په منځ کښې فرق او تبعیض نه راولي. "ماته معلومه شوه چې دا خبره څومره ریښتیا ده چې خدای د هیچا طرفدارندی." (اعمال د رسولانو ۱۰: ۳۴)

نو اوس تاسو ګورئ چې د مسیح شاګردانو د هغۀ سره د وخت په تیرولو، دهغۀ نه د اوریدلوو او د هغۀ سره د خبرو کولو په وسیله یوه تجربوی پېژندنه دهغۀ په هکله لاس ته راوړه. مونږ هم همداسې یوې پېژندنې ته اړتیا لرو څو وکولای شو دنورو سره د مسیح په هکله خبرې وکړو او هغوی ته د مسیح زیری ورسوو.

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

۱_ د هغه عبارت مخې ته چې د سوال صحیح ځواب وي ښښه ورکړئ.

څرنګه کولای شو په ډیره ښه توګه عیسیٰ مسیح وپېژنو؟

الف) د هغه سره خپل وخت تیر کړو.

ب) خپله حافظه قوي کړو.

ج) وګورو چې مسیح څرنګه د خلکو په ژوند کښې کار کاوۀ.

د) هغۀ ته غوږ ونیسو.

هـ) د هغۀ سره خبرې وکړو.

و) د خلکو سره د خبرواترو لارې چارې مطالعه کړو.

۲_ هغه وخت چې شاګردانو مسیح په پراخه توګه وپېژانده نو په دوو حقیقتونو پوهٔ شول. دغه دوه حقیقتونه څه وو؟

۳_ څومره وخت پکاردی چې یوانسان په حقیقی توګه مسیح وپېژنی؟

خپل ځوابونه د لوست له آخري برخې سره پرتله کړئ.

# د روح نه مالامال شئ

## الف: تاسو قدرت ته اړتیا لرئ

د مسیحي خدمت څخه د نتیجې د لاس ته راوړلو لپاره، مونږ او تاسو قدرت ته اړتیا لرو. مخکې له دې چې مسیح په خپله دنده او خدمت پیل وکړي، د روح القدس د قدرت او طاقت څخه مالامال شوی ؤ. هغه وائي: "درب روح په ما نازل دی ځکه چې زه هغهٔ مسح کړی یم.." (لوقا ۴: ۱۸)

مسیح په دی پوهېده چې شاګردان به ئې ډیرې زیاتې ستونزې ولري او مرستې ته به اړ وي. نو مخکی له دې نه چې هغه د خپل پلار حضورته لاړشی هغوی ته یې وویل: "خو تاسو ته به د روح القدس په نازلیدو طاقت درکړی شي،او تاسو به په بیت - المقدس کښې او په ټوله یهودیه او سامریه کښې او د دی نه آخوا د دنیا ترپله سره زما شاهدان یئ." (اعمال د رسولانو ۱: ۸)

روح القدس ددی لپاره رالیږل شویدی چې مونږ ته جرئت او قوت راکړي. هغه مونږ سره په مسیح باندې په ورځني اقرار او ګواهۍ کښې مرسته او ملګرتیا کوي.

په ۱۹۲۵م کال کښې کله چې زه دیوه کالج زده کوونکی ووم، زمونږ هیواد د یوه لوی تحریک او بیدارۍ تجربه وکړه.

دهرې هفتې په پای کښې به مونږ ټولو د عیسیٰ مسیح په هکله ګواهي ورکوله، کلیساګانو ډیره ترقي وکړه، او ډیرې نوې کلیساوې جوړې شوې. د دې بیدارۍ سبب د روح القدس قوت ؤ. خوبیا هم ممکن تاسو پوښتنه وکړئ چې: ((څرنګه کولای شو چې د روح القدس نه معمور شو؟)) د دې کار لپاره همدا کافي ده چې خپل زړه د خدای په حضور کښې خلاص کړئ. خپلې کمزورۍ هغه ته بیان کړئ، او د دې لپاره چې په پیغام رسونې او په زیرې ورکولو کښې برخه ولرئ خپله دا هیله هغه ته بیان کړئ. هغه به تاسو په خپل قوت او خپل روح سره معمور او مالامال کړي او تاسو به دغې خدمت لپاره د تیارۍ خوشحالي تجربه کړئ. داوعده دهغه کسانو لپاره ده چې په عیسیٰ مسیح ایمان لري. درسولانو داعمالو کتاب ۲: ۱-۴ او ۳۹ ولولئ.

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

د لاندیني ورکړل شوي غبرګو ځوابونو څخه هغه یوه غوره کړئ کوم چې مناسب ځواب وي او په خالي ځای کښې یې ولیکئ.

۴_ د روح څخه د مالامال کیدو طبیعي نتیجه داده چې مونږ..................................(قوت / د خوښۍ زیری) تر لاسه کوو او ..............................(رسولان / ګواهان) جوړیږو.

۵_ عیسیٰ مسیح خپلو شاګردان ته وویل چې انتظار وکړي څو په روح القدس معموره شي. هغه دا خبره ځکه وکړه چې پوهیدۀ چې شاګردان به یې.................(دزده کولو لپاره ډیر زیات مطالب /

ستونزې ) ولري او..................(کتابونو/ مرستې) ته به اړتيا لري.

**خپل ځوابونه د لوست له آخري برخې سره پرتله کړئ.**

## ب: تاسو لارښونې ته اړتيا لرئ

د عيسیٰ مسيح فرمان دادی چې "د تمامې دنيا هری سيمې ته لاړشئ او زما د زيری وعظ ټول مخلوق ته وکړئ." (مرقس ۱۶: ۱۵) "...او ټول قومونه زما مريدان کړئ." (متی ۲۸:۱۹) د دی لوی فرمان دپوره کولو او هم د وخت د نه ضايع کولو په خاطر مونږ د روح القدس لارښونې ته اړتيا لرو. عيسیٰ مسيح خپل شاګردان پدې خبره ډاډمند کړل چې "خوکله د حقيقت روح راشی نو هغه به تاسو ته دا ټول حقيقت وښيی..." (يوحنا ۱۶: ۱۳)

خلک هر چېرې چې وي لارښونې ته اړتيا لري. ځينې د دې کار لپاره خپلو پخوانيو مړو ته ځي. ځينې نور کوښښ کوي چې د ستورو په وسيله يا د لمر او يا سپوږمۍ په وسيله ورته هدايت ورپه برخه شي. مګر کله چې وغواړو د مالک خدمت وکړو، هغه به په خپله زمونږ لارښونه وکړي. دا مهمه نه ده چې هغه مونږ کومې لورې ته لېږدوي، مونږ کولای شو چې دا ډاډ تر لاسه کړو چې هر هغه لار چې خدای يې مونږ ته ښيي هغه سمه او د حقيقت لاره ده ځکه مسيح پخپله د حقيقت لار ده. هم هغسې چې يوه الوتکه (جهاز) په تيارو کښې دوريځو له منځ ځخه تېرېږي او پر مځکه کښيني، هغه هم مونږ په مناسب وخت کښې د مناسبو شخصيتونو لورې ته رهبري کوي. فيليپس د خدای د روح په وسيله د هغه سړی لورې ته رهبري شو چې د حقيقت وږی او تږی ؤ (اعمال د رسولانو ۸: ۲۹). پولس رسول د روح دلارښونې په وسيله داسې يو ځای ته لاړو چې

یو مکدونیوي سړي د مرستې د غوښتنې نارې وهلې. او د هغهٔ سره يې مرسته او ملګرتيا وکړه. (اعمال د رسولانو ۱۲: ۹)

په کال ۱۹۲۱م کښې خدای د خپل روح په وسيله لومړنۍ زيري ورکونکې ډله دې ته چمتو کړه او هغوی ته يې لارښوونه وکړه څو د جنوبی افريقې د (سيراليون) هيواد ته لاړه شي. هغوی د هغه ځايه څخه د فرانسوي ژبې هيواد (ګينيا) او بالاخره د افريقې په زړه کښې څمونږ هيواد (پورتنی ولتا) ته راغلل. که چېرې د خدای روح دغه د زيری ورکوونکو ډلې ته لارښونه نه وای کړې نوهغوی به کېدای شول چې په دې ملکونو کښې ايسار شوي وای. مګر کله چې دوی د روح القدس تابعداري کوله نو زمونږ تر هيواده راورسيدل. او ډيرو زياتو خلکو د هغوی په وسيله په عيسیٰ مسيح باندې ايمان راوړو او هغه يې د خپل ژغورونکي مالک په صفت قبول کړ. او ددې نوو ايماندارانو له لاری د عيسیٰ مسيح پيغام نورو ګاونډي هيوادنو ته ورسيدهٔ. د روح القدس نه وغواړئ چې تاسو د هغه اشخاصو لورې ته رهبري کړي چې ستاسو خبروته غوږنيسي، څو دهغوی سره د عيسیٰ مسيح په هکله خبرې وکړئ او دا پيغام هغوی ته ورسوئ. ډېر خوشحاله يم چې مخکې له دې نه چې زه دې نړۍ ته سترګی وغړوم مالک داسی شخصيتونه ته لارښوونه وکړه څو زمونږ هيواد ته راشي او هلته د عيسیٰ مسيح پيغام خپور کړي. او دهغو د کار له برکته نن زه هم مسيح پېژنم.

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

٦_ لاندیني سوالونو ته د (هو) یا (نه) ځواب ورکړئ:

الف) آیا زمونږ پخواني خلک چې اوس مړه شوي دي، کولای شي چې مونږ ته ووایي چې په خپل ژوند کښې مونږ کوم کارونه ترسره کړو؟

ب) آیا کله چې مونږ یو تصمیم نیول غواړو نو دا ضروري ده چې باید د ستوروپېژندنې علم مطالعه کړو؟

ج) آیا هر وخت چې مونږ د روح القدس نه وغواړو هغه مونږ ته لارښوونه راکوي؟

٧_ د خلکو په ژوندون کښې د روح القدس د هدایت په هکله مو درې ځله بحث وکړ، د هغو هر یوه نتیجه څه وه؟

خپل ځوابونه د لوست له آخري برخې سره پرتله کړئ.

---

# د ښو وسلو څخه استفاده وکړئ

---

## الف: د روح توره

زمونږ په هیواد کښې (د کتاب لیکوال) یو متل دی چې وائي ((په تش لاس مارنه وژل کېږي.)) مسیح هم مونږ دې دنیا ته تش لاس نه یو رالېږلي. هغهٔ مونږ ته اسباب او روحاني وسلې راکړیدي چې پرې کاروکړو. مونږ ته هغه درنه دنده را پر غاړه ده چې په خپل وس او توان سره یې نه شو سرته رسولی. یو داسې کس موجود دی چې نه غواړي مونږ نورو سره د عیسیٰ مسیح په هکله خبرې وکړو او د

مسیح پیغام هغوی ته ورسوو او هغه شیطان دی. په ابتدا کښې هغه آدم د خدای د ارادې دپوره کولو نه منعه کړ. هغه به دبنی اسرائیلو قوم هڅاوه چې د خدای د فرمانبردارۍ نه لاس واخلي. شیطان حتیٰ دا هڅه هم وکړه څو د خلکو په نسبت د مسیح د محبت خنډ وګرځي، مګر عیسیٰ مسیح هغهٔ سره وجنګیده او هغهٔ ته يې شرمناکه ماته ورکړه. عیسیٰ مسیح شیطان ته په ماتې ورکولو کښې د څه شي نه استفاده وکړه؟ هغهٔ د خدای د کلام نه استفاده وکړه چې د (روح دتُوري) په نامه یادېږي. که چېرې مونږ هم د خدای د کلام یعنی د روح د توری څخه استفاده وکړو نو شیطان ته به ماتې ورکړو. عبرانیانو ته د لیک په ۴: ۱۲ کښې لولو: ”ځکه چې د خدای کلام ژوندی او اثرناک او د هرې یوې دوه مخې تورې نه زیات تېره دی، چې د انسان د ځان او روح نه تېرېږی او اندام اندام او مغز جدا کوي، او د زړه په خیالونو او ارادو تحقیق کوي.“ پخپله عیسیٰ مسیح هم په دښته کښې د شیطان د وسوسې په مقابل کښې د همدې تورې څخه استفاده کړې وه (متی ۴: ۴). ستیفانوس هم دهمدی وسلې نه استفاده وکړه او دښمنان ئې په غصه او وارخطا کړل. (د رسولانو عملونه ۷: ۵۴) ولولئ.

پولس دافسیانو کلیسا ته لیکي چې د خدای پر وسلو ځانونه پوره سمبال کړئ. د شیطان سره جګړه یوه ډیره ستره جګړه ده. ځکه چې مونږ د انسان سره نه جنګېږو بلکه د شرارت د روحاني ځواکونو سره مقابله کوو. پولس د یوهٔ سرتیري مثال مونږ ته وړاندې کوي چې جګړې ته چمتو دي او دهغهٔ وسلې د افسیانو د لیک (۲: ۱۴_۱۷) په ترځ کښې په ګوتو کوي چې عبارت دی د:

د حقیقت پیټی (کمربند)

| | |
|---|---|
| د صداقت | زغره |
| د زيري د خپرولو | پيزار |
| د ايمان | ډال (سپر) |
| د ژغورنې او خلاصون | ټوپی (خولۍ) |
| د خدای کلام | روح توره |

کله چې عيسیٰ مسيح د خپل ژغورونکي مالک په صفت منئ نو دخلاصون او ژغورنې خولۍ لاس ته راوړئ. ستاسو ايمان ستاسو ډال دی. کله چې د حقيقت په هکله خبرې کوئ، نو تاسو په کمربند باندې خپله ملا تړئ او ستاسو نوی ژوندون به پاک او صفا شي. زغره ستاسو صداقت دی. ستاسو پيزار د انجيل شريف خپرولو ته ستاسو ليوالتيا ده. او مقدس کتاب ستاسو لپاره د روح توره ده. کله چې تاسو په دغو وسلو سمبال شئ، نو په دغې روحاني جګړې کښې به بريالیتوب ستاسو په برخه شي.

## ب: د عيسی مسيح نوم

دا مه هيروئ چې تاسو ته دا وياړ او امتياز درکړ شويدی څو د عيسیٰ مسيح او د نجات د خوږ زيري په هکله خبرې وکړئ. تاسو د خپل نام او نشان په هکله له چا سره خبرې نه کوئ بلکه د عيسیٰ مسيح نوم بيانوئ. يو سفير د خپل ځان په هکله خبرې نه کوي بلکه هغه د خپل هيواد د نوم ځنې خبرې کوي او د هغې استازيتوب کوي. د مسيح نوم خلاصون ورکوي او دهغه د نوم نه بغير دبل چا په نوم کښې خلاصون نشته. که چېرې د دی عجيبه نوم سره د خدای لورته لاړشو، هغه زمونږ خبرې اوري او زمونږ دعاګانی قبلوي. عيسیٰ مسيح مونږ ته سره او سپين زر نه دي

پرېښي بلکه مونږ ته يې يوه ډالۍ (تحفه) راکړېده چې په پيسو سره هغه نشو اخيستلی. هغه خپل عجيبه نوم مونږ ته پرېښی دی، او دا د حيرانتيا خبره نه ده چې په زرګونو مسيحيان په ټوله نړۍ کښې د هغه نوم ستايي. د هغه په نوم کښې قوت موجود دی. مقدس کتاب وائي: "...د هغه نوم به ((عجيبه))، ((مشوره ورکونکی))، ((قادر خدای))، ((تل پاتې پلار))، او ((د سولې او نيکمرغۍ سردار)) وي." (اشعيا ۹: ۶)

## هغه څه چې تاسوئې بايد سرته ورسوئ

۸_ عيسیٰ مسيح د شيطان دلرې کولو لپاره له کومې وسلې څخه استفاده کوله؟

۹_ مسيح کومه ځانګړې وسله مونږ ته پرېښې ده؟

۱۰_ که چېرې د خدای په وسلو سمبال نشئ نو څه به درپيښ شي؟

الف) شيطان به په ډېره آسانۍ سره تاسو د خدای د تابعدارۍ نه منعه کړي.

ب) شيطان بهٔ ونشي کړای چې د خدای نه د تابعدارۍ په لاره کښې تاسو ته خنډ جوړشي.

۱۱_ آيا په لاندني وسلو سمبال ياست؟

| | هو | نه |
|---|---|---|
| کمربند | | |
| زغره | | |
| پيزار | | |
| ډال | | |

ټوپۍ یا خولۍ
توره

هیله ده چې ددوهم لوست د مطالعې څخه مو خوند اخیستی وي. مخکې له دې نه چې د کتاب لوستلو ته دوام ورکړئ، د یو داسې کس په هکله سوچ وکړئ چې غواړئ له هغه سره مرسته وکړئ څو هغه عیسیٰ مسیح وپېژني. دعا وکړئ چې خدای تاسو سره مرسته وکړي څو وشئ کړای د عیسیٰ مسیح په هکله خپله ذاتي تجربه نوموړي ته بیان کړئ. د هغه کس نوم ولیکئ او بیا هغه ته دعا وکړئ.

## خپل ځوابونه پرتله کړئ

١ـ الف) صحیح
ب) غلط
ج) صحیح
د) صحیح
ه) صحیح
و) غلط
٢ـ د مسیح قدرت او محبت
٣ـ ټول ژوند
۴ـ قوت، ګواهان
۵ـ ستونزې، مرستې
٦ـ الف) نه
ب) نه

ج) هو

۷_ هغوی خلک د مسیح لورته را جلبول.

۸_ د خدای کلام

۹_ د هغه نوم

۱۰_ الف

۱۱_ که چېرې په کومې وسلې سمبال نه یاست نو همدا اوس د خدای نه مرسته وغواړئ.

## ستاسو یادداشت

## دریم لوست

# زیری ورکړئ

یو افریقائي متل دی چې وائي: «په یو لاس هېڅکله کور نه جوړیږی». فرانسوی متل دی چې وائی: «وحدت قوت منځ ته راوړي.». یو انګلیسی متل دی چې وائي: «دیو فکر نه دوه فکرونه بهتر دی.» په مقدس کتاب کښې لولو: ”...دريږ لړه تاوه شوی رسی په آسانی سره نه سپړل کېږي.“ (جامعه ۴: ۱۲)

دغه ټول متلونه په خپل ځای کښې درست دي. دیوۀ کور د جوړولو لپاره باید یوه ډله کاروکړي. یو ختېګر په یوازی ځان نشی کولای چې ټول کارونه سرته ورسوي. عیسیٰ مسیح ویلي دي: «کلیسا به زه پخپله جوړوم.» مګر په دې ستر کار کښې مونږ هر یو خپله برخه او ونډه لرو. په دویم لوست کښې مود تیاري او چمتووالي پر اهمیت خبرې وکړې. اوس به وګورئ چې تاسو هم باید کار وکړئ او د عمل ډګر ته ور ودانګئ ځکه د مسیح په دې سترکار کښې تاسو خپله ونډه پخپله سرته رسوئ. خدای دې تاسو ته د دې لوست په مطالعې سره برکت درکړي.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- ❖ فرمانبرداره واوسئ
- ❖ لکه د مالګی په شان شئ
- ❖ ذمه واري ولرئ
- ❖ متعهد او وفاداره واوسئ

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي څو...

له هغه طريقو او لارو سره بلد شئ چې د هغې په وسيله به په شخصي زېري رسونې کښې په عملی توګه برخه واخلئ.
د زېري رسونې په کار کښې د تابعدارۍ اهميت او ځاني مسؤليت درک کړئ.

---

## فرمانبرداره واوسئ

---

په ياد به مو وي چې ديو واده د مراسمو په هکله مو خبرې وکړې چې عيسیٰ مسيح پکښې او به په شرابو بدلې کړې. باورلرم چې د مريم نصيحت چې خپلو نوکرانو ته يې وکړ، بايد د هر مسيحي کړن لاره وي. "هر څه چې دی درته وايی هغه کوئ." (يوحنا ۲: ۵)

د فرمانبردارۍ نه بغير په انفرادی پيغام رسونې او زيري ورکولو کښې برياليتوب او برلاسی وجود نلري. د مسيح فرمان مونږ او ستاسو لپاره دا دی چې د نړۍ ټولو سيمو ته لاړشو او د هغهٔ پيغام خپور کړو. نو زمونږ ځواب به څه وي؟ ولي فيليپوس د سامرې ښار، چيرته چې لوی تحريک موجود ؤ، پريښود او يوی شاړې بيديا ته لاړ؟ دا ځکه چې مالک ورته حکم کړی ؤ او هغهٔ د دې حکم څخه اطاعت وکړ (د رسولانو عملونه ۸: ۲۶).

ولی ابراهيم خپل ټاټوبی او خپلوان پرېښودل او په يو نامعلومه سفر په لورې رهي شو؟ ځکه چی خدای ورته حکم کړی ؤ (پيدايښت ۱۲: ۱). ولی هغهٔ وغوښتل چې خپل يوازينی ځوی د خدای لپاره قربانی کړي؟ هغه د دی کار په دليل نه پوهېده مګر

خدای ورته حکم کړی ؤ نو هغهٔ فرمانبرداري وکړه (پیدایښت ۲۲: ۹_۱۰).

د ډیرو کلونو په اوږدو کښې، ډیرو زیاتو خلکو د عیسیٰ مسیح نه د فرمانبردارۍ په سبب کړاوونه ګاللي دي. دهغوی څخه ځینو د مسیح نه د انکار پر ځای، مرګ غوره کړ. د هغوی په نزد د ژوند معنیٰ د عیسیٰ مسیح د پوره تابعدارۍ څخه بل څه نه ؤ. مقدس کتاب مونږ د سرتېرو سره ورته کوي (دویم تیموتیوس ۲: ۳) چې عیسیٰ مسیح زمونږ لارښود او سرلښکر دی. دسرتېرو په صفت باید د خپل قوماندان او سرلښکر څخه په پوره ډول فرمانبرداری وکړو. که چېرې یو سرتیری د خپل سرلښکر حکم ونه مني نو په جنګ کښې به ماتې وخوري. فرمانبرداری د هر لښکر د کامیابۍ کیلي ده.

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

۱_ په شخصي زیری ورکولو کښې بنیاد او اساس څه شی دی؟

الف) هغه څه چې ډیر عاقلانه ده باید ترسره کړئ.

ب) هغه څه چې مسیح تاسو ته وائي هغه تر سره کړئ.

ج) هغه څه چې دنورو خلکو خوښیږي هغه تر سره کړئ.

۲_ یو مسیحي د یو سرتېري په څېر دی کله چې:

الف) پوره تابعدار وي.

ب) په هغه څه چې پوهېږي د هغه اطاعت وکړي.

ج) خپل ځان د کړاوونو نه لرې وساتي.

۳ـ که چېرې په پوره ډول فرمانبردار واوسو، نو د څه شي تمه باید ولرو.

## لکه د مالګې په شان شئ

د عیسیٰ مسیح لپاره د هرکار د سرته رسولو نه مخکې باید هغه څه جوړشو چې هغه یې غواړي. باید د هغه ګواهان شو. ګواهي ورکول یوازې د یوکار سرته رسول نه ده بلکه د دې څخه یو څه زیات دی. دغه کار حتی زمونږ د شخصیت او هویت یوه برخه هم کیدای شي. ګواهي ورکول یوازې زمونږ د عملونو ښکارندوی نه دی بلکه زمونږ د شخصیت تشریح کوونکي هم دی. همدا دلیل دی چې عیسیٰ مسیح خپلو شاګردانو ته وویل: "تاسو د دنیا لپاره مالګه یی..." (متی ۵: ۱۳)

عیسیٰ مسیح ولې مونږ له مالګې سره پرتله کوي؟ لکه څنګه چې پوهېږئ مالګه په بیلابیلو ځایونو کښې استعمالېږي. خو زه غواړم چې په خپل هیواد کښې د هغې د استعمال ځینې ځایونه تاسو ته بیان کړم.

**مالګه خلک سره متحد کوي**: زمونږ په هیواد، برې ولتا،چې د افریقا په لویه وچې کښې پروت دی، مالګه د دوو کورنیو، دوو تنو، او دوه قبیلو د اتحاد او یووالي لپاره کارول کېږي. د واده نه مخکې زوم یواندازه مالګه د یوی روایتی سمبولیکې تحفې په توګه د خپلې ناوې د مور او پلار (خسرګنۍ) کورته وړي او په دې توګه د هغوی ترمنځ یو لوظ او تړون پرځای کېږي. عیسیٰ مسیح هم مونږ د نړۍ د مالګې په نوم یادوي څو د نړۍ خلک د خدای سره یو موټی او متحد کړو.

**مالګه ملګرتیا او دوستی منځ ته راوړي:** مالګه هغه لومړنی سوغات ؤ چې سپین پوستو پلټونکو د افریقائی مشرانو سره د ملګرتیا په خاطر ترې کار اخیسته. ګناه د خدای سره د ټولو انسانانو د دښمنۍ سبب شوی دی. خو مونږ د نړۍ مالګه یو څو د خدای او نړیوالو ترمنځ سوله برقراره کړو.

**مالګه آرامتیا منځ ته راوړي:** زما نیکه یو غویئ درلوده چې د هغه دتېرو ښکرو له امله هیچا دا جرئت نه شو کولای چې هغۀ ته نږدې شي. خو زما نیکه یوه خاصه طریقه درلوده او هغه دا وه چې هروخت به چې هغۀ غوښتل غویي ته نږدې شي. لږه مالګه به ئې په لاس کښې اخیستله او د غویي طرف ته به تللو، او غویي به لکه د وري یا ګډورې په شان آرام شو. مسیح مونږ هم جهان ته رالیږلي یو تر څو سوله راوستونکي شو. که چېرې خلک وګوري چې د هغوی اړتیاوې زمونږ لپاره اهمیت لري نو خدائي سوله او آرامتیا به په خپل ژوند کښې قبوله کړي.

**مالګه د خوسا کېدو مخنیوی‌کوي:** په ټوله نړۍ کښې او په خاصه توګه په وروسته پاتې هیوادونوکښې د مالګې څخه د غوښې د خوسا کیدو نه د مخنیوي په خاطر کار اخیستل کېږي. که چېرې خدای مالګه په سمندرونو کښې ځای په ځای کړې نه وای، نو انسان به قادر نه ؤ د ځمکې پرمخ ژوند وکړي او د سمندرونو اوبه به ډیرې ککړې او خوسا شوې وې. د خدای د مالګې په صفت زمونږ شته والی، کله چې مونږ د عیسیٰ مسیح په هکله خبرې کوو، ښځې او نارینه به د ګناه دعواقبو څخه لرې وساتي.

**مالګه خوند وربخښي**: کله چې عیسیٰ مسیح مونږ دمالګې سره پرتله کوي نو په ښکاره الفاظو وائي چې زمونږ نړۍ د بی مالګې خواړو په شان ده. دا خبره بلکل صحیح ده ځکه چې د عیسیٰ مسیح او د خدای نه بغیر ژوند، یوغمجن او نا اُمیده ژوند دی. هغه کسان چې عیسیٰ مسیح نه پیژني او په هغهٔ ایمان نلري د هغوی په ژوند کښې هېڅ خوشحالي نشته. که چېرې مونږ او تاسو دمالګې په څیر واوسو نو خلکو ته به د ژوند نوی مفهوم ورپه برخه کړو او د هغوی ژوند به په خوښۍ رنګینه کړو.

**مالګه پخپله د خوړلو نه ده**: مالګه د خوراک کوم اصلی ټوکی نه ده. مګر په هر ډول خواړو کښې د هغه شته والی محسوس کېږي. که چېرې تاسو د عیسیٰ مسیح په څېر ژوند کوئ نو ستاسو بدن به ستاسو په چاپیریال کښې نورو ته یو پیغام ولري او خلک به نتیجه کښې پدی حقیقت پوه شی چې عیسیٰ موجود دی.

مالګه د کومه ځایه لاس ته راوړو؟ معمولاً د ځمکې څخه. مونږ په افریقا کښې د مالګې کانونه او معدنونه لرو. آیا هر ښه شی مونږ د ځمکی څخه لاس ته راوړو؟ هو! بلکل همداسې ده. خدای مونږ د ځمکې د خاورې څخه پیدا کړو او مونږ د ځمکې میوه یو. مسیح مونږ هغه وخت انتخاب کړو چې د نړۍ لپاره مالګه شو، کله چې مونږ د هغهٔ دښمنان وو. آیا د قبر څخه څه ښه شی بهر کېږي؟ هو دا ممکنه ده. مسیح پخپله هم د قبر څخه بهر راوتلی دی. دا څه عجیبه او حیرانوونکی قدرت دی.

مالګه کيدای شی په هرځای کښې وموندلی شي: داسی یو هیواد، کورنی او یا کور به پیدا نکړئ چې هلته مالګه نه وي. په همدې توګه دعیسیٰ مسیح مالګه هم په هر ځای کښې خوره شوې ده او د نړۍ ګوټ ګوټ ته رسیدلې ده. عیسیٰ مسیح غواړي چې تاسو خپلو کورنیو لپاره لکه د مالګې په شان جوړ کړي څو په هرځای کښې چې استئ، خلک په تاسو کښې د مسیح خارق العاده عمل وګوري او تاسو هغهٔ ته جلال ورکړئ.

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

۴_ هغه څلور طریقې بیان کړئ چې د هغې په واسطه کولای شئ په هغه ځای کښې چې اوسیږئ خلکو ته د مالګې په شان شئ.

۵_ د مالګی په اړوند، او دهغې خوصیاتو ته په کتنې سره د صحیح عبارت مخې ته نښه ورکړئ.

الف) مسیحیان د نورو د ښمنان دي.

ب) مسیحیان دنورو سره مرسته کوي څو هغوی خدای وپیژني.

ج) زمونږ طبیعت باید د مسیح په شان وي.

د) زمونږ الفاظ د هغه څه نه چې مونږ یو ډیر د اهمیت وړ دي.

ه) زمونږ ژوند باید داسی وي، چې نورخلک دې ته وهڅوي چې مسیح وپیژني.

و) د مسیح نه بغیر ژوندون لکه بې مالګه خواړو په شان ده.

# ذمه واري ولرئ

داسې وګڼئ چې د يوې داسې پېښې شاهدان ياست چې خلکو په هغې کښې ډېر ضرر او تاوان ليدلی دی او په ژړا او ننواتو سره دنور د مرستې انتظار کوي. نواوس تاسو څه کوئ؟ تاسوکولای شئ چې هغوی نږدې روغتون ته بوځئ، اويا امبولانس راوغواړئ. مګر کله چې تاسو هغوی په خپل حال پرېږدئ او له هغه ځايه خپل ځان وباسئ نو پدی حالت کښې به څه پېښېږي؟ که څه هم تاسو هغوی نه پېژنئ او د پېښې مسئوليت هم ستاسو په غاړه نه دی، خو بيا هم تاسو د قانون پر خلاف عمل کړی دی. حتیٰ پدی دليل چې هغه خلکو ته چې مرستې ته يې اړتيا درلودله او تاسو ورته هېڅ پاملرنه ونکړه، د دې وړ ياست چې زندان ته واستولی شئ. خدای پاک په خپل کلام کښې وائي: "ای ابن آدمه! ما ته دبني اسرائيلو لپاره د څارونکي او محافظ په توګه تعين کړی يې. نو هر هغه څه چې زه وايم ورته غوږ شه او هغه سمدستی هغوی ته ورسوه او زما لخوا هغوی پرې خبر کړه. کله چې زه يو بدکاره انسان ته ووايم چې «ته به مړشی» او ته هغه ته دا اخطار او خبرداری ونه رسوې څو هغه د خپلی بدی لاری څخه واوړي، نو دغه بدکاره انسان به په خپله ګناه کښې مړ شي مګر د هغهٔ د وينې پوښتنه به زه له تانه کوم او تا به زه د هغه د مرګ ګرم بولم. خو که چېرې تا ورته خبرداری ورکړی وي چې د خپلې بدې لارې څخه راوګرځي او هغهٔ نه يي منلی نو پدې حالت کښې هغه په خپله ګناه مري، خوتا خپله ذمه واري پوره کړېده او مسئول نه يې." (حزقيال ۳۳: ۷_۹)

ډېره خواشينوونکې خبره دا ده چې ګڼ شمېر مسيحيان دنورو خلکو پر وړاندې د خپلو دندو او مسئوليتونو څخه بې خبره دي. مونږ او تاسو يو ځانګړی مسئوليت لرو چې بايد د هغې نه غافله نه شو. خپل چاپېريال ته نظر واچوئ. خپلې کورنۍ او خپلو همکارانو ته وګورئ، چې د هغو څخه څوتنه عيسیٰ مسيح نه پېژني او پرې ايمان نلري. ايا يوازې غلې ناست يئ او دهغوی د مرګ د ليدلو انتظار کوئ؟ نه ! هېڅکله! ولې د اشعيا په څير ونه وايو چې: "...ای پاکه ربه! زه چمتو يم چې لاړ شم. ما واستوه." (اشعيا ۶: ۸)

يوه ورځ مسيح يوکس ته چې د شيطاني روحونو په دام کښې ښکيل ؤ او په هديرې کښې يې خپل ژوند تيراوۀ، شفاورکړه او هغۀ ته يې وويل: "ځه، کورته واپس لاړشه او هغوی ته هر هغه څه بيان کړه چې خدای ستا لپاره کړي دی..." (لوقا ۸: ۳۹)

داسې وګڼئ چې داسړی ديوه کور څخه وبل کورته تللو ترڅو دعيسیٰ مسيح د عجيبه قدرت زيری خلکو ته واوروي. که چېرې د خلکو او خپلو دوستانو سره د عيسیٰ مسيح په هکله خبرې ونه کړو هغوی به هېڅکله هم د هغۀ د حيرانوونکې قدرت څخه خبر نشي. پولس د همدغه مسوليت احساس درلوده. حتیٰ کله چې خدای پاک هغه غوره کړ چې د مسيح پيغام هغه قومونو ته هم ورسوي چې دهغه د قوم څخه نه وو. نوهرځای ته به تللو اول به يې خپلو خلکو ته او بيا به يې نورو امتونو ته دا زيری رسولو او په دې کار کښې به يې هېڅ قسمه غفلت نه کولو. درسولانو د عملونو په کتاب ۱: ۸ کښې لولو چې عيسیٰ مسيح زمونږ څخه غواړي چې اول په اورشليم (خپل کور) او بيا په يهوديه (خپل هيواد) او ورسته

په سامره (ګاوندیو هیوادونو) او په آخر کښې په ټوله نړۍ کښې د عیسیٰ مسیح په هکله ګواهي ورکړو او د هغه پیغام خلکو ته ورسوو. مسیح له تاسونه غواړي چې د خپلو خلکو سره خبرې وکړئ او دهغه زیری ورته ورسوئ، ځکه مسیح د خلکو ژغورل غواړي او غواړي چې د هغو نومونه خپل د ژوند په کتاب کښې ولیکي. مګر هغه داکار ستاسو په مرسته سرته رسوي. کله چې پولس د افسس د کلیسا د مشرانو سره خبرې کولې، دغه موضوع ته ئې اشاره وکړه: "ځکه چې ما هېڅ درنه پټ ساتلی نه دی ، او ماتاسوته د خدای ټول امرونه ښرګند کړی دی. د خپل ځان او دهغه ټول کنډک خیال ساتئ کوم چې روح القدس ستاسو په حواله کړی دی او تاسو د مالک د هغې جماعت (کلیسا) شپونکی یئ کوم چې هغه د خپلې وینی په قیمت اخیستی دی."

(اعمال د رسولانو ۲۰: ۲۷_۲۸)

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

۶_ د خدای د ښارونکي په توګه ستاسو ډیره مهمه دنده څه ده؟

الف) د مقدس کتاب مطالعه کول.

ب) بی ایمانان په هغه شرائطو خبرول چې هغوی پکښې ښکیل دي.

ج) د خلکو ژغورل.

۷_ لومړی باید خپلې................سره د خدای په هکله خبرې وکړو.

۸ـ وروسته بیا د خپلو..............سره د خدای په هکله خبرې وکړو.
۹ـ په آخر کښې باید په ...........او.............کښې د خدای په هکله ګواهي ورکړو.
۱۰ـ داسې وګڼئ چې خدای تاسوته دا موقه درکړه څو دیو کس سره د عیسیٰ مسیح په هکله خبرې وکړئ مګر تاسو د هغی څخه استفاده ونکړه. وروسته بیا هغه سړی بی له دې نه چې د عیسیٰ مسیح په هکله څه واوری مړ شو، نو تاسوته کوم احساس لاس ته درځي؟
۱۱ـ داسې وګڼئ چې تاسو د یو تن سره دعیسیٰ مسیح په هکله خبرې وکړې او هغهٔ ستاسو خبره ونه منله، بیا هغه سړی مړ شو، نو په داسې حالت کښې تاسو ته څه احساس لاس ته درځي؟

## متعهداو وفاداره واوسئ

که څه هم ډیره درنه دنده مو پر اوږو پرته ده خوبیا هم خدای په دې خوشحاله دی چې دیو انسان د ګواهۍ او انسانی وسائلو څخه استفاده وکړي ترڅو ټول خلک دخلاصون ښه زیری واوري او دهغه نه خبر شي. په دې پوهٔ شئ چې خدای غواړي مونږ او تاسو څخه استفاده وکړي او دا حقیقت د دی سبب ګرځي چې په ډیرې خوشحالۍ سره د عیسیٰ مسیح په هکله ګواهي ورکړو. خدای کولای شول چې د فرېښتو څخه کار واخلي څو په یوې شپې په د ننه کښې له ټولو خلکو سره د عیسیٰ مسیح په هکله خبرې وکړي. داصحیح خبره ده چې خدای فرېښتې راولېږلې څو د عیسیٰ مسیح د زېږېدنې زیری شپونکو ته ورکړي. درسته ده چې په هغه سهار

چې عیسیٰ د مړو څخه راپورته شو فرېښتې د دې ښه خبر خپرونکې وې. تر اوسه هم خدای د هغو څخه استفاده کوي څو خپل قوم سره مرسته وکړي. مګر خدای فرېښتې نه دي غوره کړي چې د صلیب یا سولۍ په هکله خلکو ته ګواهي ورکړي. خدای مونږ او تاسو غوره کړي یو. یعنې همدا ضعیفه انسانان، تر څو دغه د خوښۍ زیری په هرځای کښې خپور کړي. خدای مونږ بې ارښته او ناتونه نه ګڼي. آیا دا عجیبه خبره نه ده چې لوی خدای مونږ او تاسو باندې دومره حساب کوي څو نور خلک دهغۀ لورې ته راولو؟ خدای نه غواړي چې بی ایمانان دې همداسې په ګناه کښې ککړ مړه شي. او دا د خوشحالۍ زیری دی چې د خبروکولو او بیانولو ارزښت لري. خدای پاک ډیرو لاسونو، پښو، شونډو او کسانو ته اړتیا لري څو د خلاصون زیری هغو کسانو ته ورسوي چې تراوسه پورې مالک خدای نه پېژني. مسیحیان اکثراً وایي چې د عیسیٰ مسیح په انتظار کښې دي څو هغه بیا راشي. د مسیح د بیاراتګ په هکله ډیرې روحاني سندرې او کتابونه لیکل شویدي. اکثر وخت مونږ هم د یوحنا رسول په څیردعا کوو او وایو: ”ای عیسیٰ مالکه راشه!“ مګر ډیر ځله هغه شرایط چې مسیح د خپل بیاراتلو لپاره بیان کړیدي، هېروو. ”او په ټول عالم کښې به دپادشاهی زیری وعظ کیږی او د ټولو قومونو لپاره به ګواهی شی او بیا به آخرت وی.“ (متی ۲۴: ۱۴)

آیا غواړئ چې مسیح دی ژر راشي؟ آیا غواړئ چې تل ترتله له هغه سره واوسئ؟ نوبیا د زیري ورکولو فرصت د لاسه مه ورکوئ او دې سپڅلې دندې ته وفا داره او په خپل وعدې ټینګ ولاړ اوسئ. پولس درومیانو کلیسا ته د لیک په ترځ کښې وائي: ”د دی

لپاره زما ورونو! زه د خدای رحمتونه تاسو ته دریادوم او درته خواست کوم چې خپل ځانونه هغه ته د داسې ژوندۍ قربانۍ دپاره وړاندې کړئ چې هغه ته قبوله او مناسب وی، او ستاسو عبادت دی دزړه او پوهې دواړو له رویه معقول وی."

درومیانو په نوم خط ۱۲: ۱)

دځان وقفولو څخه مطلب یو لوظ او تعهد ته وفاداره پاتې کېدل دي او دیو هدف لپاره د ځان سپارلو په معنی استعمالېږي. نوبیا خپل ځان د عیسیٰ مسیح د زیری خپرولو لپاره وقف کړئ.

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

۱۲_ دوه هغه دلیلونه ذکر کړئ چې د زیري ورکولو لپاره زمونږ تعهد ښکاره کوي.

۱۳_ آیا غواړئ چې په پوره توګه خپل ځانونه د پیغام رسولو او دزیري د بیان لپاره وقف کړئ؟ ولی همدا اوس د دی کار په هکله دعا نه کوئ؟.

## خپل ځوابونه پرتله کړئ

۱_ ب

۲_ الف

۳_ کامیابی او بریالیتوب.

۴_ د خدای لورې ته د خلکو لاربښونه، د خلکو سره مرسته کول څو یوتر بله مرسته او ملګرتیا وکړو، سوله کوونکي او سوله

خپرونکي واوسوو. زمونږ ژوند بايد د ګناه سره د مقابلې ګواه وي. بايد د مسيح په څير شو څو نور خلک پدې وپوهېږي چې مسيحي ژوند څومره روښانه او ښکلی دی.

**۵ـ الف) غلط**

ب) درست

ج) درست

د) غلط

ه) درست

و) درست

٦ـ ب

۷ـ کورنۍ

۸ـ دوستانو او ګاونډيانو

۹ـ ګاونډيو هيوادونو ـ ټوله نړۍ

۱۰ـ دير خفه کېږم ځکه هغه پرته له دې نه چې د مسيح د پېژندلو موقه پيدا کړي، مړشو او ما هم پدی اړه خپل کوښښ ونه کړ.

۱۱ـ دير خفه کېږم ځکه هغه خبرداری چې ما هغۀ ته ورکړ ورته يې پاملرنه ونکړه. مګر خوشحاله يم چې ما تر آخري حده خپله هڅه وکړه څو هغه په مسيح ايمان راوړي.

۱۲ـ ځکه خدای مونږ د دی کار لپاره انتخاب کړي يو. او غواړو چې مسيح دير ژر راشي.

۱۳ـ هيله من يو چې ستاسو ځواب «هو» وي. خدای غواړي چې ستاسو څخه استفاده وکړي.

## څلورم لوست

# خپلې تجربې سره شریکې کړئ

په کال ۱۹۲۸م کښې کله چې زه په کلیسا کښې یوځوان ښوونکی وم، خدای ماته لارښونه وکړه څو یو بوډا سړي سره خبرې وکړم. ما د مسیح په هکله خپله تجربه له هغه سره شریکه کړه. هغه ته مې وویل چې څنګه مې عیسیٰ مسیح د خپل ژغورونکي مالک په توګه قبول کړی دی. یوه اونۍ وروسته هغه سړي وغوښتل چې له ما سره وګوري. کله چې د هغه کورته لاړم، نو د کرنیلیوس کور را په یاد شو چې په مقدس کتاب کښې یې ذکر راغلی دی. دهغه دکور ټول غړي هلته حاضر وو. نوموړی سړی او دهغه د کورنۍ غړي زما لیدلو ته چمتو وو. په هغهٔ ماسپښین کښې د دې کورنۍ شپاړس تنو په عیسیٰ مسیح ایمان راوړو چې ټول افریقائي وګړي وو او د هغوی شمیره د هغه وخت نه راپدې خوا نوره هم زیاته شوېده. نن ورځ هغوی دیوی کلیسا په څیر سره راغونډېږي او خدای ته لویي او جلال ورکوي. آیا پوهېږئ چې ولی ما د مسیح سره ملاقات وکړ؟ ځکه یوه ورځ یو کس خپله شخصي تجربه له ما سره شریکه کړه. آیا تاسو پوهېږئ چې زه ولی تراوسه پوری مسیحي یم؟ ځکه چې عیسیٰ مسیح مې پخپله په خپل ژوند کښې تجربه کړی دی. په مخکیني لوست کښې مو پدې اړوند خبرې وکړې چې باید زیری ورکړو. اوس به وګورو چې څنګه داکار سرته رسولی شو، یعنې د هغه څه په هکله خبرې کول چې مسیح زمونږ په ژوند کې تر سره کړیدي. څنګه کیدای شي چې یو داسې د

خوشحالۍ ډک زيری د خپل ځان سره پټ وساتو؟ بايد د هغې په هکله د نورو سره خبرې وکړو.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به يې ولولئ

- ❖ هر وخت د مسيح په هکله خبرې وکړئ
- ❖ د مسيح په هکله د خبرو کولو نه مه شرمېږئ
- ❖ د خلکو د بدلون په هکله له هغوی سره خبرې وکړئ
- ❖ زيری ورکول د هغې له بدلې سره

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي څو...

د دې اهميت درک کړئ چې هر وخت بايد د مسيح په هکله د ګواهۍ د ورکولو لپاره چمتووالی ولرئ.
په هره بيعه چې وي خپل ژوند د مسيح دګواهۍ ورکولو ته وقف کړئ.

---

## هر وخت د مسيح په هکله خبرې وکړئ

---

زمونږ د زيری ورکولو په کارکښې زمونږ د شخصي تجربې بيانول د بل هر شي څخه مهم او د اهميت وړ ده او بل هيڅ شی د هغه ځای نشي نيولی. دا د زېري ورکولو يو ډير مهم او اساسي رکن دی. ښايي تاسو مسيح پېژندلی وي. او دهغهٔ ژغورونکی قدرت به مو په خپل ژوند کښې تجربه کړي وي. امکان لري چې مسيح به ستاسو په ژوند کښې ډير لوی لوی کارونه سرته رسولي وي او د روح القدس قدرت به ستاسو ژوند کښې مشاهده شوی وي. مګر که چېرې دهغی په هکله دنورو سره خبرې ونکړئ،

نوخلک به څنګه پرې پوه شي؟ که چېرې خلکو ته د هغه ګواهي ورنکړئ هغوی به څنګه خبر شي؟ او که چېرې هغوی دا ښه خبر وانه وري هغوی به څنګه ايمان راوړي او خلاصون به ترلاسه کړي؟ داسې وګڼئ که چېرې عيسیٰ مسيح زمونږ سره د خدای او د خلاصون په اړه خبرې نه وای کړې، نو مونږ به څنګه دا وس پيدا کړی وای چې د خدای محبت وپېژنو؟ داسې ګومان وکړئ، که چېرې سامري ښځې د خلاصون زيری د خپل ځان سره پټ ساتلی وای نو ځرنګه کيدای شول چې د هغې د ښار خلکو د عيسیٰ مسيح په هکله پوهيدلي وای؟ عيسیٰ مسيح پخپله هم هرځای ته چې تګ کاوه هلته به يې د خلکو سره خبرې کولې او زيری به ئې خپرولو. هغه به د خلکو سره دهغوی په کورونو کښې خبرې کولې. مسيح به چې هرځای کښې پاتې کيده خلک به يې ځانته منل او هغوی ته به يې خپل پيغام او رولو. کله چې انجيلونه مطالعه کوو نو ګورو چې هغه په لارو کوڅو کښې له خلکو سره خبرې کولې او هم به ئې د سيند په غاړه قدم وهلو او هلته يې خلکو ته زيری رسولو. يوه ورځ يې خپلو شاګردانو ته وويل: ”راځئ چې نژدی کلو ته لاړشو چې زه هلته هم خپل پيغام واوروم ځکه چې زه هم په دغه غرض راوتلی يم.“ (مرقوس ۱ : ۳۸)

هغهٔ خپل شاګردان دنړۍ بيلابيلو سيمو ته واستول. تيرکال ما او زما ميرمن اته تنه د مسيح لورې ته راوستل چې دې کار مونږ ته ډېره لويه خوشحالی راپه برخه کړه. مونږ يوازې د هغه څه په هکله له هغوی سره خبرې وکړې چې مالک زمونږ په ژوندکښې سرته رسولي وو. نو کله چې داسی د خوشحالی يو زيری ولرو څنګه کيدای شی چې چپ پاتې شو؟ مونږ بايد په هر ډول شرايطو

او حالاتو کښې د زېري يا بشارت ورکولو کار پرمخ يوسو. پولس تيموتيوس ته ليکي: "..زه د هغهٔ په نامه حکم درکوم، چې ته د کلام زيرى ورکوه. او وخت ناوخت په دى کار کښې تيار اوسه.." (دويم تيموتيوس ۴: ۱او۲)

مسيح به د پيغام رسونې په کار کښې دهرې موقې نه استفاده کوله. هغهٔ حتى دهغه کس لپاره هم وخت درلوده چې ورسره يوځاى په سولۍ شو او هغه ته يې وويل: "زه تاته رښتيا وايم چې ته به نن ماسره په جنت کښې يې." (لوقا ۲۳: ۴۳)

پولس رسول هم د زيري ورکولو په کار کښې هېڅ يوه موقه د لاسه نه ورکوله. حتى په داسې حال کښې چې لاسونه او پښې يې په ولچکو او زولنو تړلې شوې وې د اګريپا پادشاه مخى ته ودريده او د عيسى مسيح په هکله يې ورسره خبرې وکړې (اعمال د رسولانو ۲۲: ۲۹). پولس حتى د زندان هغه ساتونکي ته هم د عيسىٰ مسيح زيرى بيان کړ کوم چې غوښتل يې خپل ځان له منځه يوسى (اعمال د رسولانو ۱۲: ۲۷_۲۸).

ځينې داسې خاصې موقې او فرصتونه دي چې انسان ته په ژوند کښې فقط يو ځل لاس ته ورځي او نور کله هم نه پېښېږي. که چېرې پولس د زندان هغه ساتونکي ته د عيسى مسيح زيرى نه واى بيان کړى نو هغه به په خپلو ګناهونو کښې مړ شوى ؤ. مونږ بايد تل دا چمتو والى ولرو څو د خلاصون دغه ښه زيرى اړوندو کسانو ته ورسوو.

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

۱ـ د هغو دوو درستو ځوابونو مخې ته نښه ورکړئ.
که چېرې د خپل ملګری سره د عیسیٰ مسیح په هکله د خبرو موقه دلاسه ورکړو...............

الف) امکان لري چې د خبروکولو بله موقه به له هغه سره پیدا نکړو.
ب) کیدای شي چې یو بل کس به د مسیح په هکله ورسره خبرې وکړي.
ج) خدای به ماته سزا راکړي.
د) کیدای شي چې هغه نور هېڅکله خدای ونه پېژني.

۲ـ د صحیح ځواب مخی ته نښه ورکړئ.
د مسیح د زېري ورکولو طریقه څه ډول وه؟

الف) هغه به یوازې د هغو کسانو سره خبرې کولې چې هغه ته راتلل.
ب) مسیح به د خلکو لورې ته تللو او د زیري د ورکولو لپاره به ئې موقې پیدا کولې .

۳ـ د زېري او بشارت د ورکولو تر ټولو ښه ځای کوم دی؟

## د مسیح په هکله د خبرو کولو نه مه شرمېږئ

داسې لیدل کېږی چې ډیر خلک په دې شرمېږی چې د عیسیٰ مسیح په هکله خبرې وکړي. دا امکان شته دی چې کله مونږ خلکو ته زیری ورکوو نو هغوی مونږ درک نکړي او یا ځینې ممکن مونږ پوری وخاندی او ملنډې ووهي، مګر کله عیسیٰ

مسيح ته فکر وکړو او وګورو چې هغه څومره ليواله ؤ چې بې د شرميدلو څخه زمونږ لپاره کړاوونه ورغمي، نو دې نتيجې ته به ورسېږو چې بايد د هغۀ د قدمونو پل تعقيب کړو. هغه زمونږ لپاره ډېره اوچته نمونه او مثال دی. د يوې شېبې لپاره په سولۍ يا صليب شوی مسيح په خپلو ذهنونو کښې انځور کړئ. خلکو به په ملنډو وهلو سره د هغۀ له څنګه تېرېدل. هغه خلک چې عيسیٰ مسيح د هغو ناروغيو ته شفا ورکړې وه، هغوی ته يې خواړه ورکړي ؤ، اوس هغه د همدې خلکو د ملنډو او بې عزتۍ لاندې راغلی ؤ.

مسيح دی ته ليواله وه څو يو د شرمه ډک مرګ ولري ځکه چې دا دخلکو د خلاصون يوازينۍ لاره وه. مونږ او تاسو بايد پدی ونه شرمېږو چې خپلې تجربې نورو مخې ته کېږدو او ورته يې بيان کړو، ځکه چې دا هغه لاره ده چې مالک غوره کړېده څو ښځې او سړي خپل لورې ته را کاږي. پولس رسول د دار نه خجالت نه ويستلو، هغه په لرګو ووهل شو لاس او پښې يې په ځنځيرونو زولنې شوې او بيايې هم شرم نه کاوۀ چې په نيمو شپو کښې د ټولو بنديانو سره د عيسیٰ مسيح په هکله خبرې وکړي او زيری ورته ورسوي (اعمال د رسولانو ۱۲: ۲۵). هغه وخت چې هغه په روم کښې بندی ؤ او دوستانو يې هغه هېرکړی وو، خو بيا هم هغه شرم نه کولو.

په افريقا کښې مې داسی خلک ليدلي دي چې په بازارونو کښې به يې د عيسیٰ مسيح زيری بيانول او دهغۀ په هکله يې ويناوې کولې او ديوۀ سيمې نه به بلې سيمې ته تلل څو د خپل ژغورونکي مالک زيری خلکو ته ورسوي. عيسیٰ مسيح مونږ او

تاسو څخه د راتلو نه خجالت ونه ویستلو، هغه پدې هم ونه شرمیدۀ چې مونږ ته د خپل دوست خطاب وکړي، هغه په دې خجالت ونه ویستلو چې زمونږ غوښتنې د خدای پاک حضور ته ورسوي. نو آیا مونږ ته لازمه ده چې د هغۀ به اړه له خبرو کولو څخه وشرمېږو؟

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

۴ـ (سلیم) غواړي چې د خپل ملګري (اجمل) سره د عیسیٰ مسیح د مینې په هکله خبرې وکړي. مګر د دې نه وېرېږي چې اجمل به ورپورې وخاندي. نو هغه دوه شیان چې سلیم ئې باید په پام کې ونیسي کوم دي؟

۵ـ دا لاندینی آیت له یاده زده کړئ او کله چې مو د زیری ورکولو په کار کښې څه تشویش درلود هغه در یاد کړئ.

"زه له زیری نه نۀ شرمېږم ولی چې د هر چا د پاره چې ایمان راوړی دا د خلاصون د پاره د خدای قوت دی.." (دررمیانو په نوم لیک ۱: ۱۶)

## د خلکو د بدلون په هکله له هغوی سره خبرې وکړئ

ښایي تاسو به هم دې ټکي ته پام کړی وي چې که چېرې وغواړو چې د یو ماشوم نه څه شی واخلو نو باید پر ځای یې ورته یو بل شی ورکړو چې د هغۀ نه ښه وي، کنه هغه به په چغو او ژړا پیل وکړي. په زیری ورکولو کښې هم همدا مطلب سمون خوري. که چېرې غواړئ چې خلک د خپلو ګناهونو او بتانو څخه راواړوئ،

هغوی ته بل نوی مذهب مه ورکوئ ځکه چې هغوی په کافی اندازه هغه آزمایلي دي. همدارنګه خپل دود او دستور هغوی ته مه ورکوئ، ځکه هغوی بل کلتور نه غواړي. نوي جوړښتونه اویا تازه فلسفې هم هغوی ته مه وړاندې کوئ ځکه چې دهغې بی ګټې توب یې هم لیدلي دي. یوازی د عیسیٰ مسیح په هکله له هغو سره خبرې وکړئ، لکه څنګه چې فیلپس دسامرې دښار له اوسیدونکو سره خبرې وکړې. ځکه عیسیٰ مسیح دهغه کسانو لپاره چې تږي دي، دژوند او به او دهغو کسانو لپاره چې وږي دي، د ژوند ډوډی ده. عیسیٰ مسیح د ناروغانو لپاره روغتیا او دهغه کسانو لپاره چې په تیارو کښې ناست دي رڼا ده. هغه د بې پلاره او یوازې کسانو لپاره پلار او دټولو هغه کسانو لپاره چې په هغهٔ باور لري اول او آخر دی. هغه دانسان ټول ضرورتونه پوره کوي.

پولس رسول دلوړو زده کړو خاوند ؤ. هغه باید ډیر ژر د خپلې ټولنې لپاره یو مشر او لاربنود جوړ شوی وای. پولس به خپل پلارني دین څخه په ډیره سختۍ دفاع کوله او هیچابه دا فکر نه کولو چې هغه به د خپل آبایي دین څخه واوړي. خوسره د دی ټولو، کله یې چې د عیسیٰ مسیح سره پخپله لیدنه وکړه ډیر په چټکۍ سره بدل شو. پولس وائی: "اګر چه زه خو په جسم توکل کولی شم. که څوک په خپل ځان د توکل کولو خیال لری نو زه د هغه نه هم زیات کولی شم. په اتمه ورځ سنت شوم، د اسرائیل د قوم او دبنیامین د قبیلی نه یم، د عبرانیانونه عبرانی، او دشریعت له رویه فریسی یم. د جوش په نسبت د جماعت (کلیسا) عذابوونکی، او د شریعت د صداقت په نسبت بی عیبه یم. خو چې څومره خبری زما د ګټې وې، هم هغه ما د مسیح د خاطره نقصان وګڼلی."

(د فلیپیانو په نوم خط ۳: ۴_۷)

پولس کله چې د عیسیٰ مسیح سره وکتل، وې شو کړای چې ټول شیان بی ارزښته وګڼي. څوک د یوې داسې معجزې د پوهېدلو درک درلود؟ حتی ښایي چې نورو رسولانو او شاګردانو هم دیوې اوږدې مودې څخه وروسته دې بدلون ته چې د پولس په ژوندون کښې منځ ته راغلی ؤ متوجه شوي وي. خو خبره دا وه چې پولس د مسیح سره یوه شخصي تجربه درلوده او په ډیره خوشحالۍ ئې خپل زوړ ژوند پرېښود. زکائ یو شتمند سړی ؤ او خلکو هغه دیوهٔ غلهٔ په توګه پېژندهٔ. هېڅا دا ګومان نه کاوه چې یوه ورځ به زکائ د غلا څخه لاس واخلی. مګر کله چې عیسیٰ مسیح ورسره پخپله ملاقات وکړ نو ژوند ئې په پوره توګه بدل شو (لوقا ۱۹: ۱_۱۰).

هغوی موسیٰ شاهی مانی ته راوستو او هلته یې ورته ټول درسونه زده کړل. او په وینا او عمل کښې ترینه لوی شخصیت جوړ شو. هغه کیدای شو چې یو وختې لوی فرعون جوړ شي. هغه هر څه چې غوښتل هغه یې درلودل. د دې نه زیات نور څه شی کیدای شول چې هغهٔ غوښتي وای؟ مګر په زړې لوظنامې کښې لولو چې کله موسی پخپله دایمان په واسطه د مسیح لوئي او جلال ولیدلو، نو زرګونه کاله مخکې د مسیح څخه دې ته لیواله وه چې بدل شي. په شخصي تجربه کښې یو بدلوونکی طاقت وجود لري چې زمونږ ژوند ته نوې ښه او معنی وربخښي. په بل کوم دلیل موسیٰ کولای شول چې خپل شتهٔ، شهرت او قدرت په سختیو، کړاوونو او یوازېتوب باندې بدل کړي؟

څه موده وړاندې مې یوه عجیبه ګواهی دیوهٔ ځوان سړی په هکله ولوسته چې د مسیح د ملاقات نه وروسته یې خپل ډېر ګټور

کاروبار پريښی ؤ. د نوموړي دې ته پام شو چې د هغهٔ دا کاروبار خدای نه خوشحالوي او د خدای په خاطرئې هغه پرېښود.

مقدس کتاب وائی: "د دی دپاره که څوک په عيسیٰ مسيح کښې وی نوهغه نوی مخلوق دی، زاړه څيزونه تيرشول، وګوری هغه اوس نوی شول." (دويم خط د کورنتيانو په نوم ۵: ۱۷)

هوکی! داخبره پوره حقيقت لري. هر څوک چې د عيسیٰ مسيح سره ملاقات وکړي هغه د ننه او بهر څخه بدلون مومي. هغه وخت چې د مقدس کتاب په تعليمي ښونځئ کښې وم، زما د پيدايښت د ښار د کليسا شپون مړشو. هغه داسې يوسړی ؤ چې خدای دهغهٔ په وسيله ډير لوی لوی کارونه سرته رسولی ؤ. ډير مسيحيان او غير مسيحيان د هغهٔ د جنازې په مراسمو کښې د ګډون لپاره راغلی وو. دوه کسان چې په خپلو کښې سره دښمنان وو، هم هلته ګډون کړای وو. هغوی هېڅکله له يو بل سره خبرې نه کولې او حتیٰ يوبل ته به ئې لاس هم نه ورکاوو او نه به ئې سلام اچولو. مګر په هغې ورځ وروسته د شلو کالو دښمنئ څخه د خدای د خادم د مزار پرسره هغوی سره روغبړ وکړ او پخلا شول. دا زما لپاره يوه عجيبه او حيرانووکې پېښه وه او ما ته يې هغه بدلون رایاد کړ چې د صليب پر سر د مسيح د مړينی نه وروسته د خدای او دانسان ترمنځ په اړيکو کښې پيدا شو. مونږ که مړه شو يا ژوندی پاتې شو، زمونږ ګواهی به ژوندونو ته بدلون ورکړي.

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

۶ـ د یوکس د هڅولو او تشویقولو ښه طریقه چې د هغې په واسطه خپله غلط عقیده پریږدي او پر مسیح ایمان راوړی، کومه ده؟

الف) هغۀ ته تشریح کړئ چې عقیده یې ښه نده.

ب) هغه ته ووائئ چې په ګناه ککړ ژوند لري.

ج) هغه عجیبه کارونه چې مسیح به د هغۀ په ژوندون کښې سرته ورسوي، هغه ته تشریح کړئ.

۷ـ درې هغه برکتونه چې هېڅ یو مذهب او یا عقیده یې نشی کولی چې په کامله توګه مونږ ته وبخښی مګر مسیح یې زمونږ په ژوند کښې مونږ ته راکولای شي، د لاندیني لست څخه غوره کړئ.

الف) واقعی خوشحالي

ب) بریالیتوب.

ج) د ژوند نوې بڼه او معنی

د) ښه زده کړه

ه) حکمت

و) تل پاتې ژوندون

۸ـ کله چې وایو مسیح د وړو خلکو لپاره د ژوند ډوډی ده زمونږ مقصد څه شی دی؟

الف) هغه کله هم نه پرېږدي چې مونږ وږي شو.

ب) هغه زمونږ باطني هیله او لوږه چې د خدای د پېژندنې لپاره یې لرو، پوره کوي.

ج) که چېرې ډوډی ونه لرو نو د معجزې له لیارې به ئې مونږ ته تیاره کړي.

۹ـ هغه درې ځانګړي بدلونونه چې د مسيح د پېژندنې پر وخت مو په خپل ژوند کښې احساس کړيدي، وليکئ؟.

## زيرى وركول د هغې له بدلې سره

کله کله له نورو سره د خپلې شخصي تجربې شريکول يو قيمت او بدلې ورکولو ته اړتيا لري. لومړني مسيحيانو زما په هيواد کښې ډيرې ستونزې او تکليفونه ګاللي دي. د هغو څخه ځينې اوس هم ژوندي دي او مسيح ته وفاداره دي او ځينې نوريې د خپلو کورينو څخه جلا شويدي او ډير کړاوونه ئې ليدلي دي. د يوۀ افريقايى لپاره دا يو ډير ګران کار دى. کافر کيدل يعنى دا چې سړى د نورو له نظره مړ شويدى. ستاسو په کورنۍ او ټاټوبى کښې به هېڅوک تاسو ته سلام نه اچوي او خپلې اړيکې به له تاسو سره شلوي. که چېرې کوم کس چنغله ولري نو هغه ترې بېلوي او بل چا ته يې واده کوي. د ډيرو کسانو لپاره به چې ديکشنبى په ورځ کليسا ته تلل، روژه نيول يوه لاژمي خبره وه، ځکه چې که چېرې څوک کليسا ته تله، نو هغه ته به خواړه نه ورکول کيدۀ.

زما په هيواد کښې «د کتاب ليکوال» په مسيحيانو ډيرى سختۍ او زورونې راغلي دي. کله کله به دغه وفاداري ډير دروند قيمت ادا کول غوښتل او قربانۍ ته به ئې اړتيا درلوده. خو بيا هم زه د خداى شکر ادا کوم چې ايمانداران به تل مسيح ته وفاداره پاتې کيدل. دا د هغوى له برکته وو چې ما هم مسيح په خپل ژوند کښې تجربه کړ او پر هغۀ مې ايمان راوړ.

اوس راځئ چې هغه درې عبراني ځوانانو ته چې په زړې لوظنامې کښې د هغو يادونه شوې ده، يو نظر واچوو. د دانيال

کتاب (۳: ۸_۲۵) ولولئ. دغه درې ځوانان خدای ته ډیر وفاداره وو. هغوی پریکړه وکړه چې په هر قسم حالاتو کښې به دخدای خدمت کوي او دخپلې هغې ګواهۍ په خاطر یې چې د پادشاه پر وړاندې کړې وه، درې واړه دلمبه وهونکې داش اور ته واچول شول. هغوی د خپل خدای څخه د انکار پر ځای مرګ ته غاړکېښوده او زمونږ لپاره یې یوه مثالي نمونه پر ځای پرېښوده چې څرنګه باید شهادت ورکړو.

خدای هم خپل یوازینی ځوی مونږ ته راولیږه او زمونږ د خلاصون قیمت یې ادا کړ. عیسیٰ مسیح زمونږ منځ ته راغی څو مونږ ته د خدای مینه څرګنده کړی. ځکه چې ټولو انسانانو ګناه کړې وه او د خدای سره د یووالي او مشارکت بله لاره نه وه موجوده. کله چې خدای ولیدل چې انسان پر عیسیٰ مسیح باندې څومره لوی مصیبت او تکلیف راولي نو ډیر زیات خواشینی شو. مګر د انسان سره د خپلې مینې په خاطر هغه پدې راضي ؤ چې مسیح دې دا کړاوونه وګالي.

هغه قیمت چې مسیح ادا کړ هغه د هغی بدن وه. هغه پوهېده چې ډیر تکلیفونه ودهٔ ته په انتظار کښې دي. اشعیا نبی په ریښتیا هغه د غمونو د خاوند په نامه یاد کړی دی (اشعیا ۵۳: ۳).

مسیح د خپل خدمت په ترخ کښې هره ورځ د مرګ له ګواښ سره مخامخ ؤ. مګر د ګناه څخه دانسان د خلاصی لپاره بله لاره نه وه. هغه زمونږ ګناهونه په خپل ځان ومنل. عیسیٰ مسیح په دې پوهېدهٔ چې کومه بدله چې ددې کار لپاره لازمي ده، هغه باید ادا کړي او هغه مرګ او د خدای څخه بیلتون وو. مګر لکه هسې چې هغهٔ زمونږ سره مینه درلوده زمونږ د خلاصون قیمت یې اداکړ. آیا

مسیح پخپله خپلو شاګردانو ته ونه ویل چې: ”څوک په ماپسی راتلل غواړی، هغه دی د خپل ځان نه منکر شی، خپله سولۍ دی پخپله راواخلی او ماپسی د راځی.“ (متی ۱۲: ۲۴)

که چېرې په رښتیا غواړئ چې خپله مسیحي تجربه نوروته ورسوئ نو لازمي ده چې د هغې قیمت ادا کړئ. امکان لري چې خپل دوستان او خپلوان له لاسه ورکړئ، او یا ستاسو پلار او مور تاسو درک نکړي. یا نور خلک له تاسو سره ناوړه چلند وکړي او ستاسو د پېژندلو نه انکار وکړي. تاسو کله هم مه پرېږدئ چې دا ستونزې ستاسو د کار خنډ وګرځي. د عیسیٰ مسیح فداکاري په یاد لرئ او دا به له تاسو سره مرسته وکړي څو په هر ډول حالاتو کښې، او په هره بیه چې وي د خلاصون دغه پیغام خلکو ته ورسوئ.

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

۱۰ـ آیا فکر کوئ چې کله مسیح په سولۍ شو، خدای ډېر خواشینی او خفه شو؟

۱۱ـ ولې خدای او مسیح په لېوالتیا سره دا ټول کړاوونه وزغمل؟

۱۲ـ آیا داسې کوم کس پېژنئ چې د خپل مسیحي توب په خاطر زورول شوی وي؟ هغه په څه ډول زورول شوی دی؟

۱۳ـ دغه نمونې او مثالونه څنګه کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي چې په زړه ورتیا سره د عیسیٰ مسیح په هکله ګواهی ورکړئ؟

## خپل ځوابونه پرتله کړئ

١_ الف او (د)

٢_ ب

٣_ داسې کوم خاص ځای نشته. مونږ په هرځای کښې زيری ورکولای شو.

۴_ الف) عيسی د دی په خاطر چې زمونږ د ګناهونو لپاره قربانی شي، هيڅ ډول شرم ته يې په خپل ځان کښې لاره ورنکړه.

ب) بايد ده چې د عيسی مسيح په هکله د خبرو کولوڅخه خجالت ونه باسو، ځکه چې دا يوازينۍ لاره وه چې خدای غوره کړې وه. د دی لپاره چې خلک هغه وپېژني.

۵_ اوس ددی آيت په زده کولو کښې د خدای نه مرسته وغواړئ او چې د انجيل شريف په بيانولو کښې تاسو سره مرسته وکړی څو شرم ونکړئ.

٦_ ج

٧_ الف ، ج او (و)

٨_ ب

٩_ ستاسو خپل ځواب، آيا خوشحاله نه ياست چې مسيح ستاسو ژوند بدل کړي؟

١٠_ هو! زه ايمان لرم چې خدای خواشينی او خفه شو لکه يو پلار چې په خپل زورول شوي ځوی باندې خفه کيږي او زوريږي.

۱۱_ ځکه چې مونږ سره ډيره مينه لري او غواړی چې د ګناه څخه وژغورل شو.
۱۲_ ستاسو خپل ځواب.
۱۳_ کله چې ګورو نور مسيحيان په ډيره خوشحالۍ سره د مسيح په خاطر کړاوونه تيروي، مونږ دی ته تشويق کيږو چې په هر قيمت چې وي د مسيح پيروي وکړو.

## پنځم لوست

# دنده او وظیفه وپېژنئ

لمړی تاسوته هغه واقعه بیانووم چې زمونږ په هیواد کښې پېښنه شوې وه. په کروندو کښې دکار د سختۍ نه ډکې درې میاشتې تېرې شوې، او دکال په ترځ کښې په کافي اندازه بارانو نه هم ووریدل او زمونږ حاصلات او فصلونه ډیر ښه وو. ددې لوی برکت په ویاړ مونږ یو لوی جشن جوړ کړ. ښځې او نارینه، هلکان او نجونې چې د بیلابیلو سیمو څخه را تلل، یو ښایسته بازار ئې جوړ کړی وو. خلکو به د خوشحالیو سندرې ویلې او ګډېدل. خلک تلل او راتلل تا به ویل چې ټول کلی د بازار په لورې روان دی. غرمه وه چې ناڅاپه یو زړه بګنوونکی آواز پورته شو او وروسته بیا د خلکو په منځ کښې یو عجیبه شور ماشور ګډ شو. داسې برېښېده چې کوم کس په خطر کښې دی. هغه داسې چیغې وهلې چې د ټولو پام یې ځانله راواړوۀ. ځینو ګومان کاوه چې داسړی لیونی دی. مګر هغۀ پخپله نارې کړې چې ګنې هغه لیونی نه دی او د دی شورماشور د اچولو لپاره دلیل لري. هغه وویل: «ما فکر وکړو چې یوه ورځ که د دې ځمکې پرسر د قدم وهلو پرځای د هغې تر لاندې شو، څه به پېښ شي. نو د نومیدۍ احساس پر ما دومره غلبه وکړه چې چغو او نارو نه بغیر مې هېڅ بله لاره نه درلوده. غوښتل مې له خپل ځانه سره کښېنم او پټ وژاړم خو داسې ونه شول او ما خپل کنترول له لاسه ورکړ او نابېره مې په چغو پیل وکړ.»

دغه قصه په یورشلیم کښې د جشن آخری ورځ راپه یاد کړه. د ټولو ملکونو نه راټول شوي خلک د یوروشلیم دپرېښودلو په

درشل کښې وو، په حقیقت کښې بغیر د دې نه چې خدای سره ملاقات وکړي. د دې نشتوالي په درکولو سره، عیسیٰ مسیح بغیر د چیغو وهلو څخه بله کومه مرسته نشوه تر سره کولای: "...څوک چې تږی وی هغه دی ماله راشی، هغه دی وڅښی." (یوحنا ۷: ۳۷) د مسیح دا فریاد د مرستې کولو لپاره د هغۀ د جذبې ښکارندویه وه. زمونږ په چاپیریال کښې د مرسې د کولو لویه اړتیا لیدل کېږي او خلک د مسیح د پېژندلو نه بغیر مري. که داسې یوې لویې تباهۍ ته پاملرنه ونکړو نو په حقیقت کښې مونږ خپل پوره زیار او کوښښ ندی کړی.

مالک دې د دې درس د لارې ستاسو سترګې پرانیزي څو شخصي پیغام رسونې لپاره چې کومې اړتیاوې لرئ، هغه وپېژنئ او د خوشحالۍ زیری نوروته ورسوئ.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- کارګرو ته اړتیا لرو
- کتنې (روحاني بصیرت) ته اړتیالرو
- ځان وقفولو ته اړتیا لرو
- دعا ته اړتیا لرو
- عاجزۍ ته اړتیا لرو
- زده کړې ته اړتیا لرو
    - الف: ورسپارنه زده کړئ
    - ب: مقدس کتاب زده کړئ

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي څو...

په دې وپوهېږئ چې یو زیری ورکوونکی د خپل خدمت د ګټورتیا لپاره کومو شیانو ته اړتیا لري.
د زیری ورکولو پر اهمیت او ضرورت پوهٔ شئ.

---

## کار ګرو ته اړتیا لرو

---

که چېرې خپل چاپېریال ته نظر واچوو نو په میلونونو کسان به وګورو چې عیسی مسیح نه پېژني. که چېرې روغتونونو ته لاړشو نو وبه ګورو چې یو ګڼ شمېر خلک د مسیح د پېژندنې نه بغیر مري. که د سیندونو غاړو او لوبغالو ته لاړشئ نو ډېر داسې کسان به ووینئ چې د مسیح او دهغهٔ د زېرې په هکله یې هېڅ نه دي اورېدلي. هغه وخت چې عیسی مسیح دیو لوی کار په هکله د خپلو شاګردانو سره خبرې وکړې، نو هغه کارېې دیوې کروندې د حاصلاتو د ریبلو سره پرتله کړ. هغه وویل: "...فصل ډیردی خو مزدوران لږ دی." (متی ۹: ۳۷)

ډیر مسیحیان د دی لوی ضرورت نه بې خبره دي. ځینې وائي چې ګواکې دا دهغوی وظیفه نه ده چې بدنونه او روحونه ښکار کړي. ځینې نور وېرېږي او یا نه پوهېږي چې څه ډول خلکو ته ځانونه نږدې کړي، نو ځکه د دې دندې څخه ډډه کوي. مګر د کلیسا د تاریخ په هر دور کښې د خدای محصول د مزدورانو د کموالي سره مخامخ دی. خدای هر وخت داغوښتنه کوي او وائي: «څوک به زما لپاره لاړشي؟ څوک به زما قربانی یو بی ایمانه سړي ته تشریح کړي؟ څوک به زما پښې شي چې لاړشي او زما خوله شي

چې زما په هکله خبرې وکړي؟» فرښتې دې کار ته ليواله دي چې سرته ئې ورسوي. مګر مالک هغوی د دې کار لپاره غوره نکړې ځکه چې د هغه دا خوښه ده چې د انسانانو څخه استفاده وکړي.

که چېرې ټول مسيحيان د زيری بيانولو په کار کښې سره شريک شي په پوره ډاډ سره ويلای شو چې ډير کسان به په خپلو ګناهونو کښې نه مري او د مسيحيانو شميره به په نړۍ کښې نوره هم زياته شي. د عيسی مسيح پيغام يوازې يو ملت ته ندی ورکړ شوی، بلکه دغه فرمان د ټولې نړۍ او ملتونو لپاره دی او د دنيا ټول خلک هر چېرې چه دي پکښې شموليت لري. هغه دنده چې مسيح زمونږ په اوږو ايښې ده بې دکومه شکه کوچنۍ نه ده او حتیٰ دومره درنده او لويه ده چې تصوريې نشي کيدای. په هر ځای کښې کارګرو ته ضرورت لرو. دا درسته ده چې نن ورځ په ميلونو خلک د نړۍ په ګوټ ګوټ کښې د مالک عبادت کوي او په ډير زيات شمير کښې خلک د مسيح لورې ته را درومې. او مونږ هم د هغهٔ د دې لوی کار په خاطر شکر ادا کوو. خو بياهم د نړۍ وګړي په چټکۍ سره مخ په زياتېدو دي او د دې معنیٰ دا ده چې فصل لويېږي او ډېرېږي. کله چې ګورو چې ددې مځکې څومره زياته برخه شاړه او بې کښته پاتې شوېده، په داسې حال کښې چې اوس هم په ميليونونو انسانان په خپلو ګناهونو کښې مړه کېږي، نو پرته له دې چې له خفګانه څخه نارې او چغې ووهو بل کار نشو کولای. ممکن زمونږ کار د سيند څخه ديوسطل اوبو د راوستلو په څير، او يا ديولوی غره څخه د يو څو کاڼو د رغړولو په شان وي. مګر که مونږ هريو خپل مسئوليت ته چې د وروکو شوو بدنونو بيا موندل دي پاملرنه وکړو او زيري ورکوونکي شو، نو د هغې ښې نتيجې

به وګورو. راځی چې د حاصلاتو د مالک نه وغواړو او دهغې په نوم دعا وکړو څو د محصولاتو دراټولولو لپاره کار ګران راولېږي. کله چې دعا کوئ نو په یاد لرئ چې داسی ووایئ: «مالکه! زه دلته یم، ماولېږه.» که چېرې دا کار مو وکړ، نو د عیسی مسیح سره د همکارۍ خوشحالي به احساس کړئ او په خوند به ئې پوه شئ. دا سمه ده چې په کلیسا کښې ددې کار لپاره ځانګړي خادمان ګمارل شوي دي (افسیان ۴: ۱۱). مګر زیری د ټولو مسیحیانو لپاره دی. لکه څنګه چې یوسړی ویلی دی «نړۍ ته انفرادی زیری ورکول او شخصي پیغام رسونه دټولی کلیسا کار دی.» د بیا زیږېدنې نه وروسته مونږ نور په خپل ځان پورې تعلق نلرو. مونږ باید په خپل ټول قوت او طاقت سره د خپل نوي مالک او بادار خدمت وکړو.

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

۱ـ د درمند یا حاصلاتو مالک څوک دی؟

۲ـ د درمند مزدوران او کارګران څوک دي؟

۳ـ مونږ څه شی ریبو؟

۴ـ د صحیح عبارت مخې ته نښه ورکړئ.

ولی نن ورځ په شخصي پیغام رسونې کښې د کارګرو له لږوالي سره مخ یو؟

الف) ځکه مسیحیان نه پوهېږي چې څه باید وکړي.

ب) ځکه چې د مسیحیانو شمېره د دې کار د سرته رسولو لپاره کافي نده.

ج) دير مسيحيان دې ته متوجه ندي چې زيات شمير خلک د مسيح د زيري داوريدو نه بغير، په ګناه کښې مړه کېږي.
د) کله کله مسيحيان د زيري د بيانولو څخه ويره لري.
هـ) په هرځای کښې مالک د ګوتو په شمار کسان د زيری د بيانولو لپا ره ټاکلي دي.

۵ـ په درمند کښې د کارګرانو د اړتيا په اړه د خدای ځواب څه دی؟

الف) زمونږ څخه غواړي چې دعا وکړو څو کارګران د درمند طرف ته لاړشي.
ب) هغه ددې کار لپاره فرښتي رالېږي.
ج) هغه د روح القدس څخه غواړي څودغه کار سرته ورسوي.

۶ـ درې هغه دليلونه ذکر کړئ چې ولې مونږ هريو بايد د پيغام رسونې او زيري ورکولو په کار کښې برخه واخلو؟

## روحاني کتنې (بصيرت) ته اړتيالرو

مونږ په سختو شرايطو کښې ژوند تېروو. ځينې خلک په خدای باندې خپل ايمان دلاسه ورکوي. ځينې نور دداسې زده کړو او دروغجنو روحونو تابعداري کوي چې د پاک خدای څخه د انکار پر بنياد ولاړ دي. داسې ښکاري چې دنړۍ حالت ورځ پر ورځ خرابېږي او د بدۍ او تباهۍ په طرف درومي. اخلاقی ارزښتونه بدلېږي. د ټولنيزو مرستو ادارې له منځه ځي، راديو، تلويزيون او ورځپانی د جنايتونو، قحطی، جنګونو، لوږې اوتندې خبرونه خپروي. د نړۍ په هره سيمه کښې خلک د راز راز ناخوالو او

کړکیچونو سره لاس په ګریوان دي. که چېرې خدای مونږ ته دلیدلو قوت رانکړي، نو مونږ به پخپله دا وس ونلرو چې دغه کړکیچونه وګورو او د خلکو اړتیاوې معلوې کړو. دیو مبشر په توګه مونږ او تاسو د هغه انسانانو د وضعیت لپاره چې خلاصون یې نه دی ترلاسه کړی، یو روښانه بصیرت او درستې پېژندنې ته اړتیالرو او همدغه بصیرت او پېژندنه مونږ سره مرسته کوي څو د زړه له کومې د دی انسانانو مرستې ته ور ودانګو.

کله چې پولس یو مکدوني سړی په رویا کښې ولیدو (اعمال د رسولانو ۱۲: ۹) نو وخت ئې ضایع نه کړ. هغهٔ او ملګرو ئې هلته لاړل او په نتیجه کښې د یورپ دغه برخه بدله شوه او دهغې ورځې نه را پدې خوا په سلګونو زره کسان د مسیح لورې ته راغلل.

هغه وخت چې مسیح دیوروشلیم د ښار د خلکو عام وضعیت ولیدهٔ، نو په ډیر شفقت ئې د هغې لپاره اوښکې تویې کړې. مسیح په دې پوهېدهٔ چې که چېرې هغوی د دهٔ محبت درک کړی وای او په دهٔ ئې ایمان راوړی وای، نو هغهٔ به هغوی په خپل سیورې کښې ساتلي وای لکه هسې چې یوه چرګه خپل چرګوړی دخپلو وزرو لاندی ساتی او حفاظت یې کوي (لوقا ۱۳: ۳۴).

روحانی بصیرت مونږ ته په ورځیني ژوند کښې د ګناه سره د مبارزې لپاره قوت او مېړانه راکوي. دلیدنې د قوت درلودل مونږ سره مرسته کوي څو خلکوته د مرګ څخه نجات ورکړو. د یوې قوي او کلکې کتنې د نه لرلو په صورت کښې به زمونږ شاوخوا خلک په خپلو ګناهونو کښې مړه شي. وخت باید له لاسه ورنکړو. د خدای اراده باید تر سره کړو.

## هغه څه چې تاسوئې بايد سرته ورسوئ

۷_ ليدنه يا روحاني بصيرت درلودل په دې معنى ده چې:

الف) په نړۍ کښې دټولوګناهونو او غلطيو ليدل او هغې ته کتنه.

ب) هغو ښځو او نارينوو ته کتنه چې په ګناه کښې ورک شوي او مړه شوي وي، لکه هسې چې خداى هغوى ته ګوري.

۸_ مونږ روحاني بصيرت ته اړتيا لرو ځکه: ..............................

۹_ لاندينى جدول په ريښتونې توګه ډک کړئ.

| زما روحـــانى بصيرت | هميشه | اکثراً | ډېرکم |
| --- | --- | --- | --- |
| د نورو اړتياوې احسا سوم | | | |
| هغه څه ته پاملرنه لرم چې نوروته پېښېږى. | | | |
| د ګواهى ورکولو لپاره زړه ورتيا لرم. | | | |
| غواړم چې د نورو سره د عيسى مسيح په هکله خبرى وکړم. | | | |
| غواړم چې د نورو سره مرسته وکړم څو مالک عيسى مسيح وپيژنى. | | | |

## ځان وقفولو ته اړتیا لرو

لکه څنګه مو چې مخکې وویل شخصي پیغام رسونه او زیرى ورکول یوه داسې دنده ده چې ټول مسیحیان د هغې په سرته رسولو کښې مکلف دي. خو د خپل ځان په پوره توګه د وقفولو څخه پرته، او تر هغې چې دا کار زمونږ د ژوند یوه برخه نشي، مونږ نشو کولاى چې له خپل دې کار څخه په زړه پورې نتایج تر لاسه کړو. عیسى مسیح خپل ځان داسې وقف کړى ؤ چې خپلو شاګردانو ته یې وویل: "زما خوراک څښاک هغه دى چې زه دهغه رضا وکړم او هغه کار پوره کړم کوم له چې را استولى شوى یم." (یوحنا ۴: ۳۴)

مسیح، دا د نړۍ سترمبشر او زیرى ورکونکى دا خواړه تر هغې ورځې پورې وخوړل چې نارې کړې «پوره شو» او خپله ټاکلې دنده ئې سرته ورسوله. پولس رسول هم خپل ځان شخصي زیرى ورکونې او انفرادي پیغام رسونې ته وقف کړى ؤ. هغه ته د روح په وسیله خبر ورکړاى شو چې په یورشلیم کښې به ډیرې ستونزې ولري. ملګرو ئې په انساني منطق داکوښښ وکړ چې هغه یورشلیم ته د تلو څخه منعه کړي. مګر پولس هغوى ته وویل: "دا دومره اوښکى ولى؟ تاسو زما د زړه د ماتولو کوشش ولې کوئ؟ ترڅو چې ځما خبره ده، زه نه یوائې تړلو ته، بلکه دى ته هم تیاریم چې د

مالک عیسی مسیح په نوم په بیت المقدس کښې مړ شم.“ (اعمال د رسولانو ۲۱: ۱۳_۱۴)

پولس د خدای لپاره کارکول حتیٰ د خپل ځان څخه هم مهم ګڼلو، هغه دا پروا نه کوله چې مړشی او یا ژوندی پاتې شي. پولس خپله دنده په ډېره زړه ورتیا سرته ورسوله.

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

درست ځواب غوره کړئ.

۱۰_ پولس (دخدای کار/ خواړه) د خپل (سالمتیا/ ژوند) څخه ډیر مهم ګڼلو.

۱۱_ کولای شو ووایو چې (دخدای کار/ کارګر) له (دخدای کار/ کارګر) څخه ډیر مهم وي.

۱۲_ د خدای د کار په سرته رسولو کښې د حقیقی وقف کیدو معنی دا ده چې:

الف) د خدای اراده ماته د خپلو شخصي هیلو څخه د لومړیتوب حق لري.

ب) د هغه کار سرته رسول دی چې زما په نظر ډیر ښه وبرېښي.

## دعا ته اړتیا لرو

کله چې عیسی مسیح خپلو شاګردانو ته د درمند (فصل) لویوالی بیان کړ نو تاسو څه فکر کوئ چې د هغې نه وروسته ئې څه کار تر سره کړ؟ ممکن داسې فکر وکړئ چې سمدستي یې خپل شاګردان د فصل د راټولولو لپاره وګمارل. مګر هغه داکار ونه کړ

بلکه وئې ویل: "...دفصل خاوند ته سوال وکړئ چې د خپل فصل لپاره مزدوران راولیږی." (لوقا ۱۰: ۲)

کله چې د فصل مالک ته د دعا لاسونه پورته کوو، نو داخبره په ډاګه کوو چې دا موضوع زمونږ لپاره ډېر اهمیت لري. د دی پاملرنې نه بغیر، او د ورکو شویو بدنونو سره د محبت نه پرته، او د دې ټکي د درکولو نه بغیر چې مونږ په خپل قوت سره د خپلو اړتیاوو د پوره کولو وس نلرو، مونږ نشو کولای چې دعا وکړو.

یوه ورځ د سینا د غره د پاسه خدای پاک موسیٰ ته وفرمایل چې د بنی اسرائیلو قوم به دهغوی د نافرمانۍ او ګناهونو له امله په پوره توګه له منځه یوسي. خدای موسی ته وویل چې د هغهٔ څخه به یو نوی ملت منځ ته راوړي، چې داکار یو بنسټیز بدلون ؤ. سره ددی چې دغه کار د موسیٰ د جلال او لویوالي سبب کېدهٔ خو بیائې هم قبول نه کړ. ځکه چې د بنی اسرائیلو دقوم سره یې مینه درلوده او سمدلاسه یې په دعا کولو پیل وکړ او د خدای څخه ئې د رحم او بخښنې غوښتنه وکړه. خدای د موسی دعا واوریده او د هغهٔ غوښتنه ئې پوره کړه (خروج ۳۲: ۳۲).

مونږ ایمان لرو چې مالک خدای خپل روح د پنطیکاست په ورځ په یوسلوشلو تنو ایماندارانو نازل کړ ځکه چې هغوی د ورکو شوو بدنونو لپاره خوابنوګی او د مسولیت احساس درلود (اعمال د رسولانو ۲: ۱_۴). ډېرو شاګردانو د عیسیٰ مسیح آسمان ته ختل، او خپل پلار ته ورتلل یې په خپلو سترګو ولیدل. هغو ټولو دروح القدس د راتلو په اړوند د عیسی مسیح دغه فرمان واوریدلو (اعمال د رسولانو ۱: ۱_۵) خو یوازې یوسلوشل تنه دعا

په حالت کښې د دې وعدې د پوره کيدو په تمه وو چې مالک هغوی خپل فصل ته ولېږل.

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

۱۳_ هغه مسیحیان چې په رښتیا د وروکو شوو بدنونو په فکر کښې دي، هغوی........................................................................

الف) همیشه دعا کوي.

ب) خواخوږي لري.

۱۴_ هغه ایماندارنو چې د پینطکاست په ورځ یې دعا کوله،

الف) هغه کسان وو چې خدای غوره کړل څو خپل فصل ته یې ولېږي.

ب) په واقعي توګه د خدای کارته وقف شوي نه وو.

۱۵_ کله چې خدای ته دعا کوو چې مزدوران راولېږي نو دې ټکي ته متوجه کېږو چې،

الف) هغه زمونږ دعا نه قبلوي.

ب) هغه ممکن مونږ ولېږي.

## عاجزۍ ته اړتیا لرو

په شخصي پيغام رسونې کښې تر ټولو لوی خطر چې وجود لري دا دی چې زيری ورکوونکی خپلو برياليتوبونو او هغه کارونو ته چې يې تر سره کړيدي نظر واچوي. مونږ او تاسو د خدای د لورې راستول شوي يو او په ګواهی او ټولو کارونو کښې د هغهٔ د نامه څخه استفاده کوو. که چېرې د فصل مالک زمونږ کار کښې برکت واچوي او دا برکت د دې سبب شي چې مونږ ښه نتايج لاس ته راوړو، نو بايد دې ټکې ته هم پاملرنه ولرو چې مغروره نشو. بلکه د دی په بدل کښې بايد هغه مالک ته خوشحالی ښکاره کړو چاچې مونږ ليږلی يو او د هغه شکر پرځای کړو. حتیٰ زمونږ مالک عيسی مسيح هم کولای شول چې خپل ځانله ډېر لوړ مقام او منزلت اختيار کړي، مګر هغهٔ دا کار ونکړ او په خپله خوښه يې خپل ځان عاجزه کړ او ټول لوئي او جلال يې خپل پلارته ورکړ.

داود د جالوت د جنګ لپاره راوړاندی شو (اول سموئيل ۱۷: ۳۴_۳۷). د هغه هدف څه وه؟ هغه څه چې داود جالوت ته ويلی ؤ په غور ورته پاملرنه وکړئ. "ته په توره، نيزه او ډال سره زما مخی ته راځې. مګر زه د ابدی څښتن په نوم چې داسرائيلو د لښکر مالک او تا هغه ته سپک نظر کتلي دي، ستا مقابلی ته درځم.. او خدای به نن ورځ تا ماته په ګوتو راکړي. نو ستا په وهلو سره به ستا سر د تن نه جلا کړم..او ټول دغه خلک به پدې وپوهېږي چې بني اسرائيل خدای لري او دهغوی خدای د برياليتوب لپاره تورې او نيزې ته اړتيا نلري. او نه څوک ترې د توری او نيزې په زور بچ کيدلی شي." (اول سموئيل ۱۷: ۴۵_۴۷)

داود دا ونه ويل چې ټوله نړۍ به پدې پوه شي چې هغه يو ډير اتل او توريالی دی. د هغه ارزو داوه چې ټول خلک پدې وپوهېږي

چې خدای محدود ندی او په هر ډول حالاتو کښې د عمل کولو قدرت لري. د خدای د کروندې د مزدورانو په صفت مونږ باید دیر خاکساره و اوسو او هېڅکله په خپلو کړوو کښې د بریالیتوبونو په وجه پر خپل ځان مغروره نشو بلکه ټوله لوئی او جلال باید د فصل مالک ته ورکړو. باید دی ته لیواله اوسو چې د کروندې مالک مونږ په کار وګماري څو نور خلک هم د خدای لوئی او عظمت وګوري. د بشارت ورکولو اصلی انګېزه او مقصد خدای ته د جلال ورکول دي.

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

۱٦ـ د عاجزۍ کلمه د ...................... د کلمې سره متضاده معنی لري.

الف) د ځان نه ښودنې

ب) غرور

۱۷ـ یو مسیحي خادم باید عاجزه وي او په ټولو کارونو کښې خدای ته جلال ورکړي ځکه،

الف) د خدای د مرستې نه بغیر، خادم هېڅ کار نشي ترسره کولای.

ب) د خادم برخه د خدای د برخی نه زیاته ده.

---

# زده کړې ته اړتیا لرو

---

## الف: ورسپارنه زده کړئ

په رښتیا چې دا ډېره خواشینوونکې خبره ده چې یو زیری ورکونکی داسې کارونه سرته رسوي چې د هغه دشان سره مناسب نه دي. "ولې چې مونږ دخدای سره کارکوونکی یو..." (اول خط دکورنتیانو په نوم ۳: ۹) مونږ یوازې د خدای لپاره کار نکوو. د کلیسا د هر خدمت په څیر، مونږ هم په شخصي پیغام رسونې کښې خپله برخه لرو، او خدای هم خپله برخه لري. او کله چې دا هر یو په خپل وار سره ترسره کېږي نو ډېرې ښې نتیجې ترې حاصلېدای شي. مونږ د دې لپاره استول شوي یو چې تخم وکرو او ورته اوبه ورکړو. او دا په دې معنی ده چې هغه څه چې مسیح زمونږ لپاره کړيدي د هغې په اړه د نورو سره خبرې وکړو او د زیری بیانولو لپاره د هرې موقې نه استفاده وکړو. هغې نه وروسته ټول کارونه د خدای، ځوی او روح القدس پورې اړه لري. داښه ده چې خلک وګورو چې خلاصون مومي او زمونږ په ګواهۍ سره د خدای لور ته را ځي. خو په یاد لرئ چې په خپلو خبرو سره مونږ نشو کولای چې په خلکو د ګناه الزام ولګوو. کله چې خبرې کوو او خلکو ته زېری ورکوو، د خدای روح دغه الزام په خپله منځ ته راوړي. مونږ نشو کولای چې خلک د ګناه څخه خلاص کړو مګر عیسی مسیح زمونږ له طریقه کولای شي هغوی وژغوري. له همدی کبله که ښی نتیجی وګورئ او یائې ونه ګورئ، خو داخبره په یاد ساتئ چې زمونږ دنده دانجیل شریف خپرول او خلکو ته د هغه مرګ د خطر په هکله خبرداری ورکول دي کوم چې په عیسی مسیح باندې د عدم ایمان په سبب منځ ته راځي. هغه چا چې مونږ رالیږلي یو په مقدس کتاب کښې یې ویلي دي چې د هغهٔ کلام کله هم بی آغېزې نه پاتې کیږي (اشعیا **۵۵**: ۱۱).

له همدی کبله راځئ چې خپل مسئولیت د خدای له مسئولیت سره غلط نه کړو او په اشتباه کښې پرې نه وزو.

## ب: مقدس کتاب زده کړئ

په شخصي زیری ورکونې کښې، که چېرې یو تن په تمامه معنی په مقدس کتاب نه پوهیږي، هغه نشي کولای چې دښو نتیجو د لاسته راوړلو اُمید ولري. مونږ باید د کلام د کوچني او غټ وېش باندې پوه شو ترڅو د خلکو سره د بحث پر وخت وکولای شو د نظر وړ آیتونه د خدای د کلام څخه پیدا ، او هغوی ته یې بیان کړو. باید دا وس هم ولرو چې آیتونه تفسیر کړو او هغه د خپل ورځني ژوند په مطابق تشریح کړو. د ځانونو هر ښکاري، او هر مسیحي شخصیت باید د خدای د کلام په اساسي ټکو باندې پوه شي او د خپل مسیحي ژوند د ودې لپاره د مقدس کتاب ښه درک ولري. د مبشرینو او زېري ورکونکو په توګه باید دا ټکی په یاد ولرو چې د خدای کلام زمونږ د ایمان سبب ګرځي. کلام عقیده منځ ته راوړي او ژوند ته بدلون ورکوي او مونږ ته د پاکوالي او سپېڅلتیا تعلیم راکوي او مونږ د ګناه کولو څخه منع کوي. کله چې دخدای په کلام پوه شو نو د خبرو په وخت کښې به د مناسبو الفاظو څخه کار واخلو او هره خبره به مو دوخت د غوښتنو سره سمه وي.

### هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

۱۸ـ د صحیح جملې مخې ته نښه ورکړئ.

الف) د خدای لپاره زمونږ د کار څخه مطلب دادی چې خلک په دې قایل کړو چې هغوی ګناهکاران دي.

ب) د خدای سره د کارکوونکو په توګه مونږ هم خپله برخه لرو او خدای هم خپله برخه لري.

ج) له دې لپاره چې زړې ورکوونکي و اوسو نو باید د خدای په کلام ښه پوه شو او د مقدس کتاب څخه مکمل درک ولرو.

د) که چېرې په خپل د زیری ورکولو په کار کښې په زړه پورې نتایج تر لاسه نکړو، نو په دې پوهېږو چې خپله برخه مو په پوره توګه نده تر سره کړې.

هـ) دیو مسیحي اصلی خدمت د مسیح په هکله دانجیل شریف بیانول دي.

و) پوهېږو چې د خدای کلام د مسیح لورته د خلکو په راوستلو کښې همیشه خپله آغیزه پر ځای پرېږدي.

۱۹ـ دا دوه لاندیني عبارات په خپلو الفاظو سره تشریح کړئ:

الف) ورسپارنه زده کړئ.

ب) مقدس کتاب زده کړئ.

## خپل ځوابونه پرتله کړئ

۱ـ خدای

۲ـ د مسیح ایمانداران

۳ـ دښځو او نارینوو ځانونه.

۴_ الف) صحيح
ب) غلط
ج) صحيح
د) صحيح
ه) غلط
۵_ الف
۶_ الف) خلک په مسيح باندې د ايمان راوړو نه بغير مړه کيږي.
ب) د خلکو ډله زياتېږي.
ج) مالک مونږ غوره کړي يو څو د خپل مزدورانو په توګه زمونږ څخه کار واخلي.
۷_ ب
۸_ دا يوازينۍ لاره ده چې د هغې په وسيله کولای شو د هغو خلکو لوی حاجت درک کړو چې مسيح نلري.
۹_ دهغه خلکو په اړوند فکروکړئ چې ورک شوي او مړي شويدي. د مالک نه وغواړئ چې تاسو ته نوره هم زياته پوهه درکړي څو هغوی ته لاړشئ او انجيل شريف ورته ورسوئ.
۱۰_ دخدای کار، ژوند
۱۱_ د خدای دکار، کارګر
۱۲_ الف
۱۳_ الف
۱۴_ الف
۱۵_ ب
۱۶_ ب
۱۷_ الف

۱۸_ الف) غلط

ب) صحیح

ج) غلط

د) غلط

هـ) صحیح

و) صحیح

۱۹_ الف) مونږ د خدای کلام بیانوو او مالک ته اجازه ورکوو چې پاتې کار هغه تر سره کړي.

ب) دیوی آغېزمنې ګواهۍ لپاره د ټول کلام او د مهمو آیاتونو مکمل درک ته اړتیا لرو.

## شپږم لوست

# پر خنډونو غلبه وکړئ

کله چې پولس په زندان کښې ؤ، هغۀ نور نه شو کولې چې د عیسی مسیح په هکله زېری ورکړي. نه شوکولې چې خلکو ته لاړشی او د هغوی خدمت وکړي. هغه څوک چې د هغۀ لویه هیله د خپل خلاصونکي په هکله خبرې کول ؤ، هغه اوس په زنځیرونو تړل شوی ؤ خود دی سره سره هغه وایي: "...دخدای کلام قید نه دی." (دویم تیموتیوس ۲: ۹)

په زیری ورکولو په کارکښې به ډیرې زیاتې ستونزې او کړاونه تجربه کړو او راز راز خنډونه او دیوالونه به زمونږ په لاره کښې پیدا شي، چې د غه ستونزې به په بیلابیلو هیوادونو کښې د هغوی د ځانګړي کلتور په مطابق فرق لري. که چېرې غواړو چې بدنونه او روحونه د عیسی مسیح لپاره ښکاره کړو نو نشي کیدای چې دغه ستونزې او مشکلات له پامه وغورځوو. اوس مو چې په خپل ژوندون کښې د عیسی مسیح لوئې کارنامې لیدلي دي نو د ډیر قوي ایمان خاوندان یو، او پدې ټینګ باور لرو چې دانجیل شریف د خپرولو په لارې کښې داسې کوم خنډ نشته چې هغه له منځه لاړ نشي. د خدای کلام د ټولو ملتونو لپاره بیانېږي، او د عیسی مسیح انجیل د هېڅ یو خاص ملک او قوم پورې تړلی نه دی. یو متل دی چې وایي: ((پرهېز او ساتنه د علاج نه ډېره ښه ده.)) پوره یقین لرو چې هر څومره زیات خنډونه او ستونزې وپېژنو په هغۀ اندازه کولای شو چې په ښه توګه ورسره مقابله وکړو.

په تیرلوست کښې مو دبشارت او زیری ورکولو په کار کښې د خلکو ځینې اړتیاو ته اشاره وکړه. اوس غواړو چې وګورو چې څنګه کولای شو پر هغو ستونزو او خنډونو غلبه تر لاسه کړو چې د انجیل شریف د خپرولو په لارې کښې منځ ته راځي. داخبره په یادلرئ چې خدای ته هر ډول ناممکنه او سخت کار آسانه او ممکن دی.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به يې ولولئ

- د هویت او شخصیت خنډونه
- مذهبی خنډونه
- ژبه ایز خنډونه
- ټولنیز خنډونه

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي څو...

د شخصي زړيي رسونې خنډونه معلوم او پر هغۀ د غلبې او بریالیتوب لارې چارې وپېژنئ.

---

## د هویت او شخصیت خنډونه

---

نن ورځ په ټوله نړۍ کښې خلک دا هیله لري چې خپل واقعي شخصیت پیدا کړي. یو امریکائی هېڅکله نه غواړي چې ورته فرانسوی وویل شي او یا یوانګریز ته جرمنی وویل شي. همدارنګه یو افریقائي دا ټول نه خوښوي او غواړي چې فقط افریقایی یاد شي. په هر ځای کښې خلک پر خپل ملي هویت فخر کوي او دایو طبیعي خبره ده. د عیسی مسیح د خدمتګارانو په صفت باید

خلکو ته په هغه سترګه وګورو چې خدای پاک هغوی ته ګوري. د خدای مینه د ټولو انسانانو لپاره په یو شان ده. هغه د ټولې نړۍ سره مینه لري.دا په دې معنی ده چې ټول قومونه او نژادونه یا پرګنې، پرته له ژبې او رنګ څخه په دغه ډلې کښې شاملیدلای شي. کله چې د خدای روح په بیت المقدس کښې د عیسی مسیح شاګردانو ته قوت ورکړو، هلته خلک د مختلفو پرګنو او ملتونو څخه حاضر وو. ټولو واوریدل چې شاګردانو دهغوی په ژبو کښې خدای ته جلال ورکړو (اعمال درسولانو ۲: ۱_۱۲).

اسرائیل د یو هیواد په توګه په نړۍ کښې یو بې سارې موقعت درلود. ویل کېږي چې د مقدس کتاب په دور کښې د اسرائیلو خاوره دنړۍ په مرکزی برخه کښې پرته وه چې د اړیکو او ارتباطاتو له پلوه یې د یوې څلور لارې حیثیت درلود. د نړۍ بېلابېلو سیمو څخه به بیړۍ د دغې کوچني هېواد له دریابونو څخه تېرېدلې. کله چې خدای عیسی مسیح راولېږه نو په حتمي توګه ئې د دنیا ټولو وګړو او ملتونو ته فکر کړی ؤ. له دې لیارې کېدای شول چې انجیل شریف د ټولو ملتونو او پرګنو لاس ته ورسېږي، ځکه چې خدای ټولو انسانانو ته په یوه سترګه ګوري. په آسمان کښې به هم د مختلفو ملتونو او پرګنو څخه خلک راټول شوي وي او په مختلفو ژبو به روحاني سرودونه او سندرې وایي او د خدای عبادت به کوي (مکاشفه ۷: ۹).

هماغه مسیح چې زماپه څیر یو افریقائي ته ئې (د دې جملې څخه مقصدد کتاب اصلي لیکوال دی) خلاصون ورکړ، تاسوته یې هم درکولای شي. دا مهمه نه ده چې تاسو دکوم ملت او یا قوم څخه یاست،. مونږ یو تربله سره فرق لرو. مختلف خواړه خورو، مختلفې

جامې اغوندو او په قسما قسمو او مختلفو ژبو سره خبرې کوو. مګر عیسی مسیح مونږ ټول سره یو کړي یو او روح القدس مونږ ته یووالی راپه برخه کړی دی.

په ځینو هیوادنو کښې داکار عادت او رواج ګرځیدلی دی چې په مسیح باندې د ایمان راوړو نه وروسته یوکس خپل ځان ته یو خاص مسیحي نوم غوره کوي. مګر باید په یاد ولرو چې یوازې نوم دا قدرت نه لري چې د چا ژوندون ته بدلون ورکړي. مسیح تاسو دې ته نه یئ استولي چې د خلکو نومونه بدل کړئ او یا د هغو د کړووړو لارې بدلې کړئ، بلکه هغه تاسو ته دا دنده سپارلې ده چې خپل ژوند او مسیحي ایمان هغو ته بیان کړئ څو د هغوی ژوند هم بدل او نوی شي.

هماغه روح چې د افریقې په دښته کښې یې د فیلیپوس لارښونه وکړه (اعمال د رسولانو۸: ۹) پولس ته ئې هم د اروپا لاره وښودله (اعمال د رسولانو۱۲: ۶_۹). همهغه روح چې د پنطکاست پر ورځ پر رسولانو نازل شوی ؤ (اعمال د رسولانو۲: ۴)، هغه روح ؤ چې د کورنیلیوس پر کور هم نازل شوی ؤ (اعمال د رسولانو ۱۰: ۴۵). که چیرې مونږ او تاسو پدی وپوهیږو چې خدای ټولو انسانانو ته په یوه سترګه ګوري. نو مونږ به هم د هغه په څیر خلکو ته نظر کوو څو وشو کړای پر نژادي او رنګیزه خنډونو بریالي شو. وروسته بیا خدای کولای شي چې نه یوازې مونږ په خپل کور یا هیواد کښې بلکه د نړۍ په هرې سیمې کښې وکاروي.

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

۱ـ خدای غواړی چې زمونږ (شخصیت / ژوندون) بدل کړي.
۲ـ د خدای په نظر ټول انسانان سره (یوشان دی / فرق لری).
۳ـ کله چې د خپل شخصیت په هکله خبرې کوو مقصد مو هغه څه دي (چې سرته یې رسوو / چې یو).
۴ـ د یومسیحي په توګه مونږ د (یووالي / خنډونو) څخه خلاصون ته اړتیا لرو.

## مذهبي خنډونه

په نړۍ کښې ډیر مذهبونه موجود دي. په ځینو پرمختللي هیوادونو کښې هر قوم یامنطقه ځانله خپل دین او مذهب او یا بېل بېل مذهبونه لري. او داکار د مسیح لپاره د خلکو په ښکار کولو کښې او دهغهٔ لوری ته د خلکو په رابللو کښې یو لوی خنډ دی. څوځو ځله خلکو ماته ویلی دی چې ((زه نشم کولای چې د خپل پلارني دین څخه لاس واخلم. زه باید خپل د پلرونو دودونو او دستورونو ته وفاداره پاتې شم. عیسویت څما نیکونو لپاره یو نا آشنا مذهب دی او دا دین یوازې د سپین پوستو لپاره دی. زه نشم کولای په هغې باور وکړم.)) کله چې له داسې یوې مسئلې سره مخ کېږئ نوڅه باید وکړئ؟ لومړی هغو خلکو ته چې داسې خبرې کوي اجازه ورکړئ څو ستاسو بدل شوی ژوند وګوري. هغوی ته ووایئ چې خدای پاک له هغو سره مینه لري او هغوی خپل دوستان بولي. بحث ورسره مه کوئ ځکه دا کار کوم ځای نه نیسي. د پولس هغه وینا په یاد لرئ چې په دې اړه یې کړې وه. هغه هم د همدا ډول

خلکو څخه ؤ. خپل پلارنی دین ئې درلود او دخپلې کورنۍ دودونو ته په پوره ډول وفادار ؤ. هغهٔ به هغه ښځې، نارینه اوکوچنیان زورول او زندان ته به یې اچول چې د مسیح په هکله یې خبرې کولې او دهغه زیری ئې خلکو ته رسولو. د پولس لپاره مسیحیت په پوره ډول د هغهٔ د پلارني دین او کلتور پر خلاف ؤ. مسیحیت د هغهٔ لپاره په تمامه معنی یوه نوې مفکوره وه. هغه د انجیل د ډیرو ګواهانو په وژلو کښې لاس درلود (اعمال د رسولانو ۸: ۱ـ). سره د دې ټولو حقیقتونو کله چې پولس د مسیح سره ولیدل، دی ته چمتو شو چې ټول هغه مطالب چې پخوا ئې پرې ایمان درلود پرېږدي او هېرئې کړي.

درسولانو د عملونو دکتاب په ۸: ۹ کښې د شمعون په نوم دیو سړي په هکله لولو چې په خپلو معجزو سره یې ټول خلک په حیرانتیا کښې اچولي ؤ. ما هم ډیر داسی کسان لیدلي چې د دی قسم کارونو د لارې د ډیر زیات قدرت خاوندان وو. خلکو به هغو ته د پیاوړو شخصیتونو په سترګه کتل. دهغو د اجازې نه بغیر به نه د چا د واده مراسم پرځای کیدل او نه به د چا مړی او ژوندی تر سره کیدهٔ. حتی د دانې کښت به هم چا د هغو د اجازې نه بغیر نشو کولای. د دې سره سره کله چې هغوی عیسی مسیح د خپل ژغورونکي په صفت قبول کړ، زه ددې ګواه وم چې د هغوی ژوندون څنګه بدلون وموند. هغو به خپل بتان سوزول او دجادوګرۍ څخه به یې لاس اخیسته. هېڅ چا هغوی د دې کار په کولو نه مجبورول، بلکه هغوی دا کار د عیسی مسیح په خاطر تر سره کاوهٔ. هېڅ داسې یوخنډ نشته چې د انجیل شریف د قدرت په واسطه له منځه لاړ نشي. د خپل زیري رسونې په کار کښې

هېڅکله هم مه نا اُمیده کېږئ او د هغه څه په هکله د خبروکولو ځخه ویره مه کوئ چې مسیح تاسو ته ترسره کړېدي. عیسی مسیح وویل: ”... دآسمان او د مځکی ټول واک ماته راکړی شوي دی.“ (متی ۲۸: ۱۸) حتی چې مرګ او دوزخ هم نشی کولای چې د انجیل شریف د خپرېدو په لارکښې خنډ واقع شی. د روم امپراطورۍ د دی کار هڅه وکړه خو له ماتی سره مخ شوه. دانجیل شریف قدرت په ټولو مذهبي خنډونو بری تر لاسه کوي. ځکه چې مونږ په یوازې ځان کارنه کوو بلکه روح القدس هم په مونږ کښې کار کوي، زمونږ سره مرسته کوي، او مونږ ته بری رابخښي.

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

۵_ کله چې دیو کس سره خبرې کوو. نو په مذهبی خنډ باندې د بریالیتوب ښه لار داده چې:

الف) هغه په دې قانع کړو چې د هغه مذهب غلط دی.

ب) هغه ته ووایو چې دا مذهب ما تجربه کړی دی او را ته بی ګټې معلوم شویدی.

ج) د خپل ژوند په وسیله ورته داثرګنده کړو چې هغه څه چې لرو هغه ته ئې هم ورکوو.

۶_ د مذهبی کسانو لپاره د زیري ورکولو په خاطر، مونږ ته ښنایي چې وویریږو ځکه ........

الف) د انحیل قدرت د هر طاقت نه اوچت دی.

ب) هغوی اساساً ښه خلک دي.

۷ـ آیا تاسو د کوم بل مذهب څخه د مسیح لورته راغلی یاست؟ او یا په دې شرایطو سره کوم کس پېژنئ؟ که چېرې ستاسو ځواب «هو» وي نو دا ووایئ چې د دې لامل څه ؤ چې تاسو خپل مذهب بدل کړ؟

## ژبه ایز خنډونه

تاسو خپل خلک دبل هر چا نه ښه پېژنئ. ځکه د هغو په ژبه پوهېږئ. په همدې د لیل د عیسی مسیح طریقه په شخصي زړې رسونې کښې دا ده چې په لومړی قدم کښې له خپلې کورنۍ سره خبرې وکړئ. خو زه ایمان لرم چې کله مسیح مونږ ته نجات راکړ او مونږ یې ولېږلو څو د هغهٔ د مینې ګواهان واوسو، نو مونږ سره دا مرسته هم کوي چې د ژبې د توپیر والي پر خنډ هم برې حاصل کړو. هغه زمونږ سره مرسته کوي څو د نورو خلکو ژبې زده کړو او هغه څه چې خدای مونږ ته تر سره کړیدي، د هغوی په خپله ژبه هغو ته بیان کړو.

زمونږ په هیواد کښې (د دې کتاب لیکوال) ډیر مبشرین، زمونږ په ملي ژبه دومره روانې خبرې کوي چې خلکو ورته د افریقائي لقب ورکړی دی. زمونږ په هیواد کښې د مسیح ځینې خادمانو، د دې لپاره چې د نورو قومونو او پرګنو سره د مسیح په هکله خبرې وکړي، د هغو ژبې یې یادې کړیدي. که چېرې خدای تاسو ته دا موقه برابروي چې یوه بله ژبه هم زده کړئ نو هغه له لاسه مه ورکوئ. ځکه چې ددغې ژبې په زده کولو سره به تاسو ته دا موقه پیدا شي چې د انجیل شریف پیغام په ښه توګه خلکو ته ورسوئ. پولس رسول د هغه مهارت له وجې چې په عبراني او

یوناني ژبو کښې یې لرلو، ترجمان ته ئې هېڅ اړتیا نه درلوده. او ښایي چې نورې ژبې به ئې هم یادې وې.

که چېرې خدای تاسوغوره کړي چې هغه خلکو ته د انجیل شریف زېری ورسوئ چې له تاسو څخه بېله ژبه لري، نو د دې خنډ په مقابل کښې د شاته تګ لپاره هېڅ دلیل نلرئ. یوه بله ستونزه چې د نړۍ دوه پر درې برخې خلک پرې اخته دي هغه د بې سوادۍ مسئله ده. داسې خلک شته چې حتی په خپله مورنۍ ژپه هم لیک او لوست نشي کولای. درسته ده چې د ملګرو ملتونو سازمان د دې ستونزې د هوارولو لپاره ډېرې منصوبې او خاص پروګرامونه لري او ډېر مالي لګښت هم ورکوي او د زده کړې بېلابېل مرکزونه تقویه کوي. زیاتره هیوادونه دخپل اقتصادي ودې لپاره په عامه زده کړه ټینګار کوي، او مقدس کتاب هم د زرو څخه زیاتو ژبو باندې ترجمه شویدی. خوبیاهم دنړۍ دوه پردرې برخې خلک نشي کولای چې مقدس کتاب ولولي. زمونږ په هیواد کښې (مقصد ئې د کتاب د لیکونکي هېواد دی) یوازې پنځه نوی ۹۵ فیصده خلک د لیک او لوست د نعمت نه بې برخې دي چې دا ډېر د خواشینۍ ځای دی. ځنګه کولای شو چې پر دې خنډ بری تر لاسه کړو؟ مونږ باید مقدس کتاب او نور مسیحي کتابونه هغه کسانو ته ورنکړو څوک چې لیک او لوست یې نه وي زده. آیا دا خنډ به مسیح لره د خلکو په راجلبولو او دهغوی د روحونو په ښکار کولو کښې زمونږ کار په ټپه ودروي؟ نه! هېڅکله به داسې نه وي. زمونږ مالک هم پردې ستونزې برلاسی شو. هغه به چې کله د تعلیم یافته فریسیانو سره خبرې کولې نو دخدای لیکل شوي کلام ته به ئې اشاره کوله: "آیا تاسو دانه دی لوستی..؟" (متی ۱۹ : ۴) خوکله به ئې چې له

عاموخلکو سره خبرې کولې د ژوند د ورځني چارو څخه په مثال ورکولو سره به يې هغوی ته د خدای کلام تشريح کولو. دمثال په توګه مسيح دخدای پاملرنه مونږ ته داسې بيانوي: "او څو پوری چې ستاسو تعلق دی ستاسو د سر ويښته هم شمارل شويدی." (متی ۱۰: ۳۰)

د خدای د پادشاهۍ د توصيف په هکله هغه مختلف داستانونه او قصی خلکو ته بيان کړئ چې په نوې لوظنامې کښې ذکر شوي دي لکه د ورکې شوې سکې قصه، دواده د محفل قصه، او د هغه بزګر قصه چې تخم کري او داسی نورې قصې او مثالونه. مسيح به په يو داسې واقعي او روښانه لهجې سره خبرې کولې چې عامو خلکو به هم په ډيرې علاقمندۍ سره ورته غوږ نيولو. مرقوس ۱۲: ۳۷ وائي: "هلته ډيره ګڼه وه او ډيرپه مينه يې د ده خبری اوريدی."

هغه خلک چې لوستلی يا ليکلی نشي، مونږ کولای شو چې هغوی ته زده کړو چې د مقدس کتاب آيتونه حفظ کړي يا له ياده يې زده کړي. "هر کله چې په زړه کښې د خدای کلام لرئ نو د ګناهونو څخه به په امان يئ." (زبور ۱۱۹: ۱۱)

## هغه څه چې تاسوئې بايد سرته ورسوئ

۸_ هغه دوه خنډونه چې د ژبې او سواد سره تړاو لري عبارت دی د:

الف) ..........................................................................

ب) ..........................................................................

۹_ مسيح دبی سوادۍ پر ستونزې څنګه بری ترلاسه کړ؟

الف) هغۀ خلکو ته ورزده کړل چې څرنګه باید مقدس کتاب ولولي.

ب) د هغو داستانونو څخه په استفادی سره چې د خلکو دورځني ژوند سره يې تړاو درلود، هغوی ته يې د روحاني حقيقتونو تعليم ورکاوه.

۱۰ــ که چېرې خدای تاسو داسې خلکو ته ولېږي چې ژبه يې تاسو نه بدله وي، نو هغه ښه کار چې تاسوئې کولای شئ څه ده؟

الف) هڅه کوو چې د هغوی ژبه زده کړو.

ب) يو ژباړونکی (ترجمان) پيدا کوو څو خپل پيغام د هغۀ په ذريعه خلکو ته ورسوو.

## ټولنيز خنډونه

ځينې ټولنيزې عقيدی هم د شخصي زيري رسونې په لارې کښې خنډ واقع کيدای شي. د بيلګې په توګه زمونږ په هيواد کښې (دلته مقصد ددې کتاب د ليکوونې هېواد دی) خلک په دې عقيده دي چې هر څوک ډير مشر او زوړ وي هغه هوښيار او پوه دی. يعنې پوهه او خبرداری، هوښياري او تجربه په پوره ډول ديو سړي په عمر پورې مربوط ګڼل کيږي. له دې وجې دا مناسبه نده چې يو ځوان سړی دې ديو مشر سړي سره لکه د ايمان په څير په مسائلو باندې بحث وکړي. په داسې حالاتو کښې بايد ځوان کس دې پوره زړه ورتيا او بهادري ولري. د داسې ستونزې سره د مخامخ کيدو پر وخت مونږ يوازې نه يو حتی مسيح په خپله هم ورسره مخامخ ؤ. هغه په دولس کلنۍ کښې د شريعت عالمانو او پوهانو سره خبرې وکړې او هغوی ټول يې هک پک حيران کړل

ځکه چې یو ځوان کس له خولې څخه د حکمت د خبرو اوریدل د هغوی لپاره غیر معمولي خبره وه (لوقا ۲: ۴۲).

د څه مودې د تېرېدو نه وروسته ځینو کسانو دا هڅه وکړه چې مسیح پدې دلیل د زیري بیانولو نه منعه کړي چې هغه د ټولنې د ټیټې طبقې سره تعلق درلود. حتیٰ د مسیح دوستانو به هم د خپلو ځانونو څخه دا پوښتنه کوله چې آیا هغه پو هېږي چې څه کوي (مرقوس ۳: ۲۱). هغه وړوند کس چې مسیح ورته شفا ورکړې وه، داهڅه وکړه چې مذهبي مشران په دې قانع کړي چې مسیح د خدای له طرفه څخه راغلی دی، مګر هغو د هغهٔ خبره ونه منله او حتی د هغهٔ خبرې ته یې غوږ هم ونه نیو. دا ځکه چې هغوی د عمر له لحاظه مشران وو او ځانونه یې د مسیح څخه پوه او هوښیار ګڼل (یوحنا ۹: ۳۴ او ۲۸_۲۹).

تیموتیوس د کلیسا یو ځوان شپون ؤ چې د پولس رسول له خواد افسس په کلیسا کښې په خدمت ګمارل شوی ؤ. هغه هم د یوهٔ ځوان په توګه دې ته ورته ټولنیزو ستونزو سره مخامخ ؤ. پولس هغه د خدای او فریښتو پر وړاندې ذمه وار ګڼي چې خپل دا مسئولیت ومني (د تیمو تیوس په نوم د پولس رسول لومړی خط ۴: ۱۱_۱۲).

تاسو هم ممکن له داسې ټولنیزو خنډونو سره مخامخ شئ. ممکن خدای تاسو ته هدایت درکړي چې د بډایه، با نفوذه او تعلیم یافته خلکو سره د عیسی مسیح په هکله خبرې وکړئ. او هغوی هم ممکن د خدای دمینې په هکله ستاسو خبرې بې ارزښته وګڼي. خو بیا هم د انجیل شریف په خپرولو کښې ځنډ مه راولئ. فقط داخبره په یاد ساتئ چې هغه چا چې تاسو یې استولي یئ هغه له

تاسو سره دی. مسیح بریالی شو، تیمو تیوس بریالی شو او تاسو به هم بریالي شئ.

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

۱۱ـ د صحیح عبارت مخې ته نښه ورکړئ.

الف) که چېرې د مسیح څخه پیروي وکړم، نور نو له دې څخه وېره نه لرم چې لویو خلکو ته د مسیح زېری ورسووم.

ب) زه باید یوازې له هغو کسانو سره د عیسی مسیح په هکله خبرې وکړم چې زمانه کشران دي.

ج) هغه خلکو ته په زېري ورکولو کښې چې زما سره توپیر لري جرئت او حکمت ته اړتیا لرم.

د) باید دا چمتو والی راسره همیشه موجود وي چې هر وخت د مسیح په هکله خبرې وکړم.

ه) که چېرې داسې احساس کړم چې د مسیح په هکله زما خبرې په چا ښه نه لږي، نو ښه به دا وي چې کرار غلی کینم او چپ پاتې شم.

۱۲ـ ډیر مهم حقیقت چې پدې لوست کښې مو زده کړ کوم دی؟

## خپل ځوابونه پرتله کړئ

۱ـ ژووندون

۲ـ یو شان

۳_ چې یو
۴_ خنډونه
۵_ ج
۶_ الف
۷_ ستاسو خپل ځواب. ځکه خوشحاله یم چې عیسی مسیح زما ژوندون ته نوی معنوي ارزښت وربخښلی دی.
۸_ الف) د هغه سړي په ژبه نه پوهېدل چا ته چې زیری بیانول غواړو.
ب) هغه چاته زیری بیانول چې مقدس کتاب نشی لوستلی. یعنی بی سواده دی.
۹_ ب
۱۰_ الف
۱۱_ الف) صحیح
ب) غلط
ج) صحیح
د) صحیح
ه) غلط
۱۲_ ستاسو خپل ځواب، ما په خپله دا موضوع زده کړه چې هېچرې داسې کوم قدرت نشته چې د انجیل شریف د خپرولو په لارې کښې خنډ واقع شي. د خدای کلام نشو کولای چې قید کړو.

# اوم لوست

## خپل سلوک ته پاملرنه وکړئ

زمونږ په هیواد کښې (مقصد دکتاب لیکوال دی) یو متل دی چې وائي: ((په یوۀ کوتک سل پسونه ساتل کېدای شي خو د سلو کسانو لپاره سلو کوتکو ته اړتیا شته.)) خلک یو له بله فرق لري. حتی په یوۀ هیواد، کلي او کورنۍ کښې تاسو نشئ کولای چې له ټولو سره یو شان سلوک وکړئ. هغه څه چې زماپه هیواد کښې شوني دي کېدای شي ستاسو په هېواد کښې ناشوني وي او یا هم د دې برعکس. معمولاً د یو چا سره د اړیکو په ټینګولو کښې باید بیلابیل ګامونه اوچت کړو، یعنې د مختلفو طریقو څخه کار واخلو ترڅو ځان هغۀ له نږدې کړو. کله چې د سلوک او کړو وړو په اړه خبرې کوو نو زمونږ مقصد د هغو ګامونو څخه دی چې مسیح ته د یو کس د نږدې کېدو په خاطر یې اوچتوو. ښایي چې تاسو وپوښتئ چې دا سلوک یا کړه وړه باید څه ډول وي؟ او له کومو خاصو طریقو او مېتودونو څخه کار واخلو څو هغو خلکو ته ځانونه نږدې کړو چې د بېلابېلو خصوصیاتو درلودونکي دي؟ چې رښتیا ووایم زه هم نه پوهېږم. تاسو باید د مناسبې طریقې د موندلو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړئ. که چېرې ستاسو د کړو وړو طریقه بدلون ته اړتیا لري نو روح القدس ته اجازه ورکړئ څو تاسو هدایت کړي. مونږ په دې وپوهیدو چې څرنګه باید په دودنیزو او فرهنګي خنډونو بریالیتوب تر لاسه کړو. په دې لوست کښې به دې ټکي ته پاملرنه وکړئ چې څرنګه کولای شو خلکو ته ځانونه نږدې کړو او هغوی سره خبرې وکړو.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- ساده او عادي واوسئ
- خلک مه ملامتوئ
- د خلکو درناوی وکړئ
- پاملرنه ولرئ

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي څو...

پدې وپوهیږئ چې ښه سلوک څنګه کولای شی خلک د مسیح لورې ته راولي.
خلکو ته د زړې ورکولو په کار کښې د مثبتو او ګټورو طریقو څخه استفاده وکړئ.

---

## ساده او عادي واوسئ

---

که چېرې وغواړو چې زړونه ښکار کړو، باید پدې پوه شو چې خلکو ته د زیری په بیانولو کښې کوم ګامونه باید اوچت کړو. تر ټولو د مخه باید زمونږ الفاظ او عملونه د پوهې وړ او ژوندي مثالونه وي. او وروسته بیا باید ساده او عادی واوسو یعنې تشریفاتي کرکتر ونلرو. او په داسې ډول پیغام خپور کړو چې اوریدونکي پرې پوه شي. د سامري ښځې سره د عیسی مسیح سلوک د هغۀ مسافر په شان ؤ چې مرستی ته یې اړتیا لرله. حتی دې ګناهګارې ښځې هم کولای شو چې مسیح سره ډیرلوی مدد وکړي. مسیح هم دې ښځی ته اجازه ورکړه څو دهغۀ سره مرسته وکړي او ځان یې د هغې نه بیل نکړ او ورته یې وویل: "...ماله اوبه راکړه." (یوحنا ۴: ۷)

زمونږ په هيواد کښې (د کتاب ليکونکی) د نږدېوالي دغه طريقه، د مسافر او باديو پردي د راتللو په نامه يادېږي. په ډېر طبعيي اوعادي سلوک سره عيسی مسيح دهغه ښځې ژورې اړتيا ته ځواب ورکړ، ځکه هغه قادر ؤ چې هغې ښځې ته د ژوند او به ورکړي. په زړې لوظنامې کښې لولو چې د ابراهيم مرئی هم ربکا ته دوراندې کېدو لپاره د همدې طريقې څخه کار واخيست او هغې ته يې وويل چې: "يو غړپ اوبه د خپل منګي نه په ماوڅښه." (پيدايښت ۲۴: ۱۷)

ما ډېرو ملکونو ته سفر ندی کړی خو په هر ځای کښې خلک د حاجتمندو خلکو سره مرسته کول خوښوي. که چېرې يو کس ته اجازه ورکړئ چې يو ډير کوچنی خدمت ستاسو لپاره سرته ورسوي، هغه به ستاسو زېري او پيغام ته هم غوږ ونيسي.

پولس رسول هم د اړيکو د ټينګولو لپاره د طبعيي او ساده طريقو څخه استفاده کوله. کله چې د اتن ښارته لاړو او وې ليدل چې ښار د بتانو څخه ډک دی ډير خواشينی شو. خوکله يې چې د خلکو سره خبرې کولې نو د پوهې او حکمت څخه يې ډير کار اخيسته او د خلکو د نظر ټکي يې په پام کې نيول: "...ای اتنيانو! زه وينم چې هر هغه څيز چې د مذهب سره تعلق لری نو تاسو د حد نه زيات سرګرم يئ. ځکه هر کله چې ما تاسو د عبادت د څيزونو ننداره کوله نوما د نورو څيزونو سره يوه قربانګاه وليده چې دا پری د پاسه ليک وو چې: ديو نامعلومه خدای لپاره. تاسو چې د کوم څيز عبادت کوئ د هغی درته پته نشته. هم دغه څيز زه درته بيانوم." (اعمال د رسولانو ۱۷: ۲۲_۲۳)

دیوې ډیرې ساده طریقې په مرسته، پولس د هغوی د ژوند دیوې برخې په هکله له هغوی سره خبرې وکړې او وې شو کړای چې د هغوی پاملرنه ځانله واړوي. حتی سره د دې چې هغوی د بتانو عبادت کولو خو بیا هم پولس د همدې موضوع نه په استفادې سره هغوی ته زیری بیان کړ او په نتیجه کښې زیات شمیر خلکو ایمان راوړو (اعمال د رسولانو ۱۷: ۳). اوس فکر وکړئ که چیرې پولس هغوی ته ویلي وای چې ((تاسو ګناهکاران ئئ او څوک چې د بتانو عبادت کوي هغه به هیڅکله خدای ونه ګوري، او تاسو به جهنم ته ځئ.)) نو په ډاډ سره ویلای شو چې د دې کار نتیجه به ډیره بده وه او ښایي په هغې ورځ هیچا هم ایمان نه وای راوړی. د هغه چا په هکله سوچ وکړئ چې تاسو ته یې د مسیح پیغام ورسوو. آیا د هغه سلوک ساده نه ؤ؟ په بدې رویې او سلوک سره نشو کولای چې خلک د مسیح لورې ته راولو. باید طبعی او مثبت سلوک غوره کړو څو دخلکو سره اړیکې ټینګې کړو.

څوکاله مخکې ما خپل تره چې د کلیسا پالونکی (شپون) هم دی، یوځ کلي ته له ځانه سره یووړ. هغه په سترګو هم وړوند ؤ. هغه رویه او سلوک چې هغهٔ د هغه ځای له خلکو سره وکړه تر اوسه هم زما په یاد ده. پدی کلي کښې به خلکو دخدای د خوشحالۍ او رضاء لپاره ساروي حلالول. زما تره هغو ته وویل چې د څارویو حلالول څه نوې خبره نه ده. خدای په پخوا زمانو کښې خپل قوم ته فرمایلي ؤ چې د هغهٔ د خوشحالۍ او رضایت لپاره قرباني تر سره کړي. د دی ټکی په بیانولو سره د کلی ټولو خلکو د هغهٔ خبروته په پوره غور سره غوږ کښیوده ځکه چې داسې یوه خبره یې هیڅکله هم پخوا نه وه آوریدلې. همیشه به د هغوی سره بد چلند کیده.

وروسته بيا زما تره زياته کړه او وې ويل: «په خپل ټاکلی وخت خدای خپل يوازينی ځوی راوليږۀ څو قرباني شي.» هغۀ وويل چې مسيح د صليب پر سر مړ شو تر څو بشريت ته خلاصون ورکړي او دهغې ورځې نه پس خدای نوره قرباني نه غواړي. ځکه د عيسی مسيح د قربانۍ په وسيله کولای شو چې د خدای حضور ته لاړشو، هغۀ سره خبرې وکړو او هغه زمونږ خبروته غوږ نيسي. زما وړوند ترۀ په يوې ډېرې مثبتې او مناسبې طريقې سره وشو کړای چې د خلکو پاملرنه هغه څه ته واړوي چې هغوی ته په زړۀ پورې وه، او په دې کار سره يې ډېر کسان مسيح لورې ته راوستل. د هغو څخه ځينې د توبې څخه وروسته اوس ډېر لوی تبليغيان او زېري ورکونکي دي او د انجيل شريف د خپرولو په کار کښې بوخت دي.

## هغه څه چې تاسوئې بايد سرته ورسوئ

۱ـ د هغو کسانو سره چې په ګناه کښې ژوند تېروي څرنګه کولای شو چې په يوې ښې او مناسبې طريقې سره مرسته وکړو؟

الف) هغوی ته وايو چې که چېرې ځانونه بدل نکړی او نوی ژوند خپل نکړي جهنم ته به ځي.

ب) د دی لپاره چې هغوی سره مرسته وکړو، د هغو په کارونو کښې شريک کېږو.

ج) هغوی ته عملاً دا ښيوو چې د مسيح مينه څرنګه زمونږ په ګناه ککړ ژوند ته بدلون ورکړی دی.

۲ـ د لاندې تګ لارو څخه کومه يوه مثبته او کومه منفي ده؟

الف) نيوکې او انتقادکول........

ب) عادي او ساده سلوک.........
ج) مرسته کول.......................
د) د مرستې قبلول..................
ه) محکومول ......................
و) مینه کول.......................

# خلک مه ملامتوئ

خدای مونږ ملامت کړي نه یو. کله چې آدم او هوا ګناه وکړه، خدای کولای شول چې سمدلاسه هغوی دواړه له منځه یوسي مګر دا کاریې ونه کړ. بلکه د هغوی په لټه کښې ؤ او ویې ویل: "ای آدمه ته چیرته یې؟" (پیدا ایښت ۳: ۹)

د داود پاچا په وخت کښې ټولې نړۍ په ګناه کښې ژوند کاوه. خلکو به بتانو ته سجده ایښوده او د هغو عبادت به یې کاوه. ځینو به خپل اولادونه اور ته غورځول څوهغوی خپلو خدایانو ته د قربانۍ په توګه نذرانه کړی (لاویان ۱۸: ۲۱). حتیٰ داسرائیلو قوم هم خدای پریښود او د نورو قومونو په شان شول او داود پاچا داسی لیکي: "خپل کارونه یې بد او ککړ کړي دي او هیڅ نیکی او ښه والی پکښې نه شته.. ټولو د خدای څخه مخ اړولی دی او په ګډه فاسد شوي دي. یونیک کرداره سړی پکښې نشته."
(زبور ۱۴: ۱او ۳)

ممکن داسې فکر وکړئ، کله چې خدای دنیا ته کتل او ګناهونه ئې لیدل، هغه ئې غندل او خپل غضب ئې په خلکو اورولو. مګر خدای داسې نه دی. هغه څه چې وائي تاسو ورته په غور سره پاملرنه وکړئ. خدای وائي: "زما بحث او شخړه تاسو سره

داده: که څه هم ستاسو د ګناهونو لکې (داغونه) لکه د وینې په شان سرې دي، خوزه هغه لکه د وړۍ په شان پاکوم او تاسو لکه د واورې په څېر سپینوم.“ (اشعیا ۱: ۱۸)

خدای د انسانانو شفاعت کوي. خدای پاک د ګناه څخه ډېره کرکه لري، خو بیا هم له ګناهګار سره مینه کوي او خپل دوست یې ګڼي. کله چې د آسمان څخه د ځمکی خواته ګوري یوازی ګناهګاران نه وینی، بلکه هغه انسانان هم ګوري چې په تیاروکښې ناست دي او نه پوهیږي چې څه کوي او چېرته روان دي. هغه داسې کسان ګوري چې د ګناه په وسیله تباه شوي دي. هغه نه غواړي چې ووایي چې ګڼې هر شی سم او پر خپل ځای دي.

سره د دی ټولو ناخوالو مونږ په مقدس کتاب کښې لولو چې: ”خدای د دې دنیا سره داسی مینه وکړله چې خپل یکي یو زوی یې هم ورکړو چې هر هغه څوک چې په ځوی یې ایمان راوړي هغه هلاک نشي خو د تل عمري ژوندون بیا مومي. خدای خپل ځوی دنیا ته د دنیا د مجرم کولو د پاره نه دی رالیږلی بلکه د دې د پاره چې د هغه په وسیله دنیا خلاصون بیا مومي.“ (یوحنا ۳: ۱۲_۱۷)

عیسی مسیح مونږ محکوم نه کړو ځکه د هغه دنده دانه وه چې خلک مجرم وګڼي. هغه وخت چې هغۀ د سامري ښځې سره خبرې کولې، هغه په دې پوهېدۀ چې دابنځه په ګناه کښې ژوندون کوي. پدې هم پوهیدۀ چې د شریعت په مطابق دا ښځه باید په ډبرو وویشتله شي او سنګساره شي. مګر مسیح په ډېرې مهربانۍ سره هغې ته د ژوند او به او تل پاتې ژوندون وبخښه. عیسی پوهېدۀ چې دا د ژوند اوبه به هغه خدای ته نږدې کړي. (یوحنا ۴: ۱۰)

د خدای په کلام کښې ديوې ښځې په اړوند لولو چې هغه په زنا تورنه شوه او د دوو څخه زياتو کسانو د هغې په هکله شهادت ورکړ. هيڅا حتی د هغې خاوند او اولادونو نشو کولای چې هغه د سنګسارولو نه بچه کړي، مګر عيسی مسيح هلته حاضر ؤ او وې ويل: ”...په تاسو کښې به هغه څوک په دې وړومبی ګانی وروليي چاچې هيڅ ګناه نه وي کړي،“ (يوحنا ۸: ۷) ټولو هغه ځای پرېښود ځکه هغوی پوهيدل چې ګناهګاران دي. يوازې مسيح پدې قادر ؤ چې په هغې ښځې د کاني ګوزار وکړي. مګر هغه وويل: ”...هغوی څه شول؟ ته هيچاهم مجرمه نه کړې؟ هغې ځواب ورکړو، مالکه هيچاهم نه! عيسیٰ وويل: او نه دی زه مجرمه کوم ته تلی شی خو بيا ګناه مه کوه.“ (يوحنا ۸: ۱۰_۱۱)

فکر وکړئ چې دا ښځه به په څومره خوشحالۍ بېرته خپل کورته ستنه شوې وي. عيسی مسيح د دی لپاره نه دی راغلی چې خلک محکوم او ملامت کړي، بلکه د دې لپاره چې ټولو هغه کسانو ته ابدی ژوندون ورکړي چې پرې ايمان راوړي. راځی چې مونږ هم د مسيح څخه پيروي وکړو او هغه ګناهګارانو ته چې مځکې محکوميدل، د اُميد زيری ورکړو. بايد هغوی ته په داسې مينې سره وګورو لکه څنګه چې خدای ورته ګوري.

## هغه څه چې تاسوئې بايد سرته ورسوئ

۳_ د هغه دوه ګناهګارو ښځو په اړوند د عيسی مسيح څه ډول فکر کاوۀ؟

الف) هغوی ئې ملامتې کړې او د سزا وړ ئې وګڼلې.

ب) هغوی ئې معافې کړې.

۴_ کله چې داسرائيلو قوم ګناه وکړه د خدای فکر د هغوی په اړوند څه ؤ؟

الف) خدای غوښتل چې هغوی ته سزا ورکړي.

ب) خدای غوښتل چې هغوی دمالوچو په شان سپين کړي.

۵_ ګناهګار انسان ته د خدای ځواب څه دی؟

۶_ خدای ولی عیسی مسیح راولیږه ځوزمونږ د ګناهونو لپاره مړشی؟

الف) ځکه چې د ګناهګارانو څخه زيات نفرت او کرکه لري.

ب) ځکه چې ګناهګارانو سره ډيره مينه لري.

۷_ زمونږ نظر او سوچ بايد د ګناهګارو انسانانو په اړوند څه ډول وي؟

---

# د خلکو درناوی وکړئ

---

په تيرو درسونو کښې مو د هغو کسانو سره د سلوک د اهميت او څرنګوالي په اړوند خبرې وکړې چې د عمر له لحاظه او يا هم د ټولنيز مقام له پلوه زمونږ څخه توپير لري. او د مقدس کتاب څخه مو يو شمير مثالونه هم وڅېړل. ديوې کوچنۍ اسرائيلي انجلۍ د رويې هغه طريقې ته پاملرنه وکړئ چې وائي: "...کاشکی زما بادار هغه نبی ته تللی وای چې په سامرې کښې اوسېږي. ترڅو ورته يې د دې جذام مرض څخه شفا ورکړې وای." (دوهم پادشاهان ۵: ۳)

د سلوک په دغې طريقې کښې يو لوی حکمت نغښتی دی. سره ددې چې دا کوچنۍ نجلۍ يوه وينځه وه او دپرديو په منځ

کښې يې ژوند کاوه مګر دا ئې احساس کړه چې د هغې وړاندېز به د هغو لپاره مرسته وکړي او يوه مثبته او ګټوره پايله به ولري. د هغې بادار چې نعمان نومېده دنبی حضور ته لاړۀ. بيا کله چې نبی نعمان ته وويل چې لاړ شي او خپل ځان د اردن په سيند کښې پرېمينځي، نعمان کولای شول چې يو نادرست تصميم غوره کړي او د خپل ټولنيز موقف په سبب دی ته حاضر نه شي چې خپل ځان د اردن د سيند په ناولو اوبوکښې پرېمينځي او د نبي خبرې ته د غوږ نيولو او منلو نه بغير خپل کور ته ستون شي. مګر د نعمان خادمانو هغۀ ته وويل: "ای باداره! که چېرې دا نبي له تا څخه د يو سخت کار غوښتنه کړې وای نو آيا تا به هغه نه وه تر سره کړې؟ په سيند کښې ځان وينځل دومره سخت کار نه دی. دا کار وکړئ او ځان وژغورئ." (دوهم پادشاهان **۵**: ۱۳)

د دې عاقلانه سلوک او مثبتی کړنلارې پر بنا نعمان په ډېره عاجزۍ د اردن د سيند په خټو ککړو او بو لورته روان شو او په هغې کښې يې ولمبل او ځان يې پاک کړ او په پوره توګه ئې روغتيا حاصله کړه. زما په هېواد کښې (د کتاب ليکوال) ډېر کلي او باندې د اشخاصو د مثبت او ښه سلوک له وجې يې پر مسيح باندې ايمان راوړی دی. خو ځينو يې د اشخاصو د منفي او نامناسبو رويو له وجې تر اوسه پورې د انجيل شريف دا ښه زيری ندی منلی حتی سره ددې چې خادمينو او دانجيل شريف خپروونکو ډېرې ښېکې هيلې او اهداف درلودل.

يوه ورځ يو تن داود ته چې د پادشاهی په تخت تاست ؤ، ورغی او ورته ئې وويل: "راځی چې د خدای کور ته لاړشو." نو

داود په ډېرى خوشحالۍ سره ځواب ورکړ او وئې ويل: "زه ډير خوشحاله کېدم چې ماته يې ويل چې د خداى کور ته لاړشو."
(زبور ۱۲۲: ۱)

دا د اسرائيلو د پادشاه سره د يومعمولي اسرائيلي سړى مثبته سلوک او رويه وه. کله کله د يومثبت او صحيح رويى سرته رسول ډير ګران کار وي خوبيا هم بايد ډاډه اوسو چې هميشه روح القدس زمونږ سره مرسته او زمونږ لارښونه کوي.

## هغه څه چې تاسوئې بايد سرته ورسوئ

۸ـ آيا کولاى شئ چې داسې يو مثال ذکر کړئ چې ستاسو د درناوي څخه ډک سلوک دې د ګواهۍ د ورکولو په کار کښې له تاسو سره مرسته کړې وي ؟

۹ـ د کوچنۍ اسرائيلۍ انجلۍ قصه مونږ ته دا زده کوي چې مونږ کولاى شو نوروته خپل درناوى ......................................

الف) د توجه او پاملرنى له لارې څرګند کړو.

ب) د خپل فکر د نه بيانولو له لارې څرګند کړو.

۱۰ـ که چېرې د نعمان خادمانو له دې نه وېريدلي واى چې هغۀ ته حقيقت ووائي نو نعمان ته به څه پيښ شوي واى؟

## پاملرنه ولرئ

په شخصي پيغام رسونې کښې يو مهم ټکى دا دى چې د خلکو اړتياوې په پام کښې ونيسو. د مسيح د سفيرانو او استاذو په توګه دا بايد زده کړو چې دهغۀ په څېر رفتار وکړو او د خلکو د

اړتیاو په اړوند زمونږ زړونه باید ډیر حساس وي. د خلکو ضرورتونه امکان لري په مختلفو ځایونو کښې سره فرق ولري، مګر په بنسټیز ډول ټول یو بل ته سره ورته دي. کله چې د مسیح نه د واده په محفل کښې د ګډون بلنه وشوه هغه هلته ورغی. څرنګه چې هغه هلته موجود ؤ نو دا قدرت یې هم درلود چې د خلکو یو ضرورت پوره کړي. داسې فکر وکړئ که چېرې هغهٔ دا بلنه نه وای منلې نو څه به پېښ شوي ؤ؟ اول خو د هغوی د واده خوشحالي په غم بدلېده او دوهم دا چې هغهٔ به د معجزې د ښودلو یوه ډېره مناسبه موقه له لاسه ورکړې وه او مریدانو به یې دومره ژر په هغه ایمان نه وای راوړی او مونږ به هم د هغهٔ د پاملرنې نه د ډکې مینې څخه څه نه وو اوریدلي (یوحنا ۲: ۱۱)

کله چې د صیدون یوې ښځې عیسی ته زارۍ او تنواتې وکړې چې لور یې د پېریانو او شیطاني روحونو له خوا راګیره شوې ده، نو عیسی مسیح دهغې حاجت ته ځواب ورکړ او دهغې لورئې له شیطاني روحونو څخه ازاده کړه. که څه هم د هغهٔ دنده په ابتدا کښې یواځې د اسرائیلو پر قوم پورې محدوده وه خو بیا هم مسیح د هغې ښځې نارې او څیرې له پامه ونه غورځولې. مسیح به په حقیقت کښې د غمځپلو سره خواښوږي کوله او د هغه کسانو سره به چې خوشحاله وو، خوشحالي ښکاره کوله. مونږ او تاسو هم همداسې یوه دنده لرو.

په کال ۱۹۷۴م کښې د زیري د بیانولو د یوې غونډې په درشل کښې زه او زما یو ملګري دا دنده درلوده چې هر چېرې لاړ شو او خلک د دې غونډې څخه خبر کړو او هغو ته په غونډې کښې د ګډون بلنه ورکړو. په یو ځای کښې مو یوه ښځه ولیدله چې زوی

ئې مړ شوی ؤ او د هغۀ په وير کښې ناسته وه. خلکو هغې ته تسلي ورکوله. مونږ هم د هغې ښځې او دهغې د خاوند سره خبرې پيل کړې. مونږ ورته د (حوا) په هکله چې کله يې خپل ځوی له لاسه ورکړ، او خدای ورته څرنګه يوبل ځوی د هغې د تسلۍ لپاره ورکړ، خبرې وکړې (پيدايښت ۴: ۲۵). همدارنګه مو د داود پادشاه په هکله چې څرنګه لوی غم پرې راغی او څنګه خدای ورته تسلي ورکړه، هم خبرې وکړې. د دې ښځې او خاوند زړه خلاص شو او مونږ نه ئې د دعا غوښتنه وکړه. مونږ د خدای نه وغوښتل لکه څنګه چې حوا او نوروته يې تسلی ورکړې وه، همداسې دې دوی دواړو ته هم ورکړي. يوکال وروسته د نومووړې ښځې کره يوه ښائسته لور پيدا شوه. هغې د خدای تسلي د سر په سترګو وليدله. دغه مېړه او ښځه فقط په دې افسوس کاوه چې ولې يې پخوا مسيح نه ؤ پېژندلی او د هغۀ نه ناخبره وو. دا ټول ځکه پيښ شول چې د هغوی اړتيا مونږ ته مهمه وه نو خدای هم د هغوی په ژوند کښې عجيبه کارونه سرته ورسول. او د هغو د ګواهی په وسيله د کلي نورو خلکو هم عيسی مسيح د خپل ژغورونکی په صفت ومنلو.

## هغه څه چې تاسوئې بايد سرته ورسوئ

۱۱ـ د پاملرنې د لفظ پرځای (خيال ساتل/ عقيده) هم استعماليدلی شي.

۱۲ـ کله چې مونږ د يو چا څخه پاملرنه کوو هغه په دې پوهېږي چې مونږ (له هغه سره مينه لرو/ ورته محتاج يو).

۱۳ـ آیا د مقدس کتاب هغه آیت مو په یاد دی چې مونږ ته ښیي چې خدای زمونږ سره څومره مینه لري؟ هغه له ځانه سره ولیکئ او له یاده یې زده کړئ.

۱۴ـ اوس ددې وخت رارسېدلې دی چې خپلې زده کړې په عمل کښې پلې کړئ. په تیر درس کښې مو دیو تن نوم ولیکه چې غوښتل مو هغهٔ ته د انجیل شریف زېری ورسوئ او ورته دعا وکړئ. همدا اوس یې وخت دی چې هغهٔ ته خپله تجربه وړاندې کړئ، د هغه نوم او د زیري د بیانولو نیته دا لاندې ولیکئ. بیا وروسته نور هغه نومونه او نېتې ولیکئ چې له نورو خلکو سره خپلې عقیدې شریکوئ.

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

## خپل ځوابونه پرتله کړئ

۱ـ ج

۲ـ الف) منفی

ب) مثبت

ج) مثبت

د) مثبت

هـ) منفی

و) مثبت

۳_ ب

۴_ ب

۵_ هغه خپل یوازینی ځوی عیسی مسیح ورکړ څو زمونږ د ګناهونو لپاره قربانی شی.

۷_ مونږ باید د مسیح په څیر د محکومولو او ملامتولو پر ځای له خلکو سره مینه او محبت وکړو.

۸_ ستاسو خپل ځواب، هیله ده چې همیشه د خلکو سره په احترام او ادب خبرې وکړئ. په یاد لرئ چې په مینی او اخلاص سره کولای شئ چې د خلکو د روحانی اړتیاو په هکله له هغو سره وغږیږئ.

۹_ الف

۱۰_ ممکن هغۀ شفا نه وه تر لاسه کړې.

۱۱_ خیال ساتل

۱۲_ له هغه سره مینه لرو.

۱۳_ یوحنا ۳: ۱۲ ولیکئ او هم ئې له یاده زده کړئ.

۱۴_ په یاد لری چې تاسو باید تخم وکرئ او هغی ته اوبه ورکړئ او پاتې کارونه به خدای په خپله سرته ورسوي.

# ستاسو یادداشت

## اتم لوست

# د اجرونو او مکافاتو انتظار کوئ

آیا داسې یو سرک او یاودانۍ مو لیدلې ده چې دیو نامتو شخصیت په ویاړ نومول شوې وي. که چېرې خپل شاوخوا ته وګورئ نو ډېر داسې سرکونه، کوڅې، ودانۍ، الوتکې، هوائی ډګرونه، ښارونه، کلي او بانډې، کشتۍ، سیندونه، نهرونه او داسې نور ډیر شیان به وګورئ چې د خلکو نومونه پرې ایښودل شویدي. داکار د هغوی د ویاړ او قدردانۍ د ادا کولو په خاطر سرته رسول شویدي. دا ځکه چې هغوی خپلې ټولنې او خلکو ته لوی خدمت کړیدی نو خلک هم په دې ډول د هغو قدر پر ځای کوي او پرې ویاړي. ښایي د نوبل د جایزې په اړه به مو اوریدلي وي چې هرکال هغه کسانو ته ورکول کېږي چه د انسانانو سره یې لویه مرسته کړې وي. په دې وروستیو کښې زمونږ په هیواد کښې (د کتاب د لیکوني هېواد) په ډېرې درناوۍ او ویاړ سره د یو بل هېواد سفیر ته د ښار د سرو زرو کلي ورکړای شوه. ټول دغه انعامونه په فوق العاده توګه قیمتی او ارزښتناکه دي او له هېڅ شی سره یې نشو کولای چې پرتله کړو. خو له دې سره سره یوه ورځ دغه ټول انعامونه د منځه ځي. خو هغه انعام او مکافات چې د مالک خدای له لورې مونږ ته راکول کېږي هغه به څنګه وي؟ که انسانان پدې پوهیږی چې څنګه یو دبل بدله ورکړي او د هغوی د اعمالو قدردانی وکړي، نو آیا خدای پاک به دې نه زیات خپلو دوستانو قدردانی ونه کړي او هغوی به احسن المکافات نکړي؟ خامخابه ئي کوي. یوازې همدا دلیل چې عیسی مسیح به د خپل

آسمانی پلار په مخکښې په مونږ ویاړ کوي، کافي نده چې مونږ تر ابده پورې وفاداره او ایمانداره پاتې شو؟ "نو بیا چې د ګواهانو دومره لویه وریځ زمونږ نه چاپېره ده نو راځئ چې مونږ هم هریو پیټی او هغه ګناه چې مونږ په آسانئ سره نښلوی د ځان نه لرې کړو، او په هغه منډه کښې په صبر سره وزغلیږو چې مونږ ته وارندې ده." (عبرانیانو په نوم لیک ۱۲ : ۱) مونږ هم کولای شو چې د اجرونو او مکافاتو انتظار ولرو.

# هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- ❖ اوسني یا حالیه اجرونه
  - الف: د خدای حضور
  - ب: رضایت
- ❖ راتلونکي اجرونه
  - الف: پېژندل شوي اجرونه
  - ب: ناپېژندل شوي اجرونه

# دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي څو...

په دې پوه شئ چې خدای د هغو کسانو لپاره چه زړې ورکوي، ډېر زبردست او لوړ اجرونه او مکافات ورکوي.

---

## اوسني یا حالیه اجرونه

---

د یو زیړی ورکوونکي اساسی هدف انعام اخستل او مکافاتو لاس ته راوړل نه وي. هغه داکار له دې لپاره سرته رسوي چې خدای هغه سره مینه کړې ده او مسیح هغۀ ته خلاصون

ورکړېدی. هغه د عیسی مسیح د فرمان څخه د اطاعت کولو په خاطر خلکو ته د انجیل شریف زیری رسوي. زیری ورکول یا بشارت په مسیح کښې د یو کس د نوي طبعیت یو نه جلاکیدونکی جز ګرځیدلی کوم چې په عیسی مسیح باندې د ایمان په سبب یې حاصل کړیدی. هغه غواړي چې خلک هم د هغه اُمید او مینې څخه خپله برخه یوسي چې هغۀ په خپله په مسیح کښې موندلی دی. د دې سره سره چې انعام لاس ته راوړل دیو زیری ورکوونکی اساسی هدف نه دی، خوبیاهم د خدای دا خوښه ده چې ډېر زیات مکافات او اجرونه د هغۀ په برخه کړي. زما په عقیده په نړۍ کښې هېڅ یو کار د زیری بیانولو په شان د دومره لوی انعام مستحق نه دی. د غه مادي او روحاني انعامونه د حال او راتلونکې زمانې پوری تړلی دي او همیشوني دي.

## الف: د خدای حضور

په شخصي زیری ورکونې کښې تر ټولو لوی انعام او اجر چې موجود دی هغه دخدای دائمي حضور د ډاډمندۍ ترلاسه کول دي. مسیح د خپل مرګ نه وروسته او مخکې له دې چې آسمان ته پورته شي، خپل شاګردان یې د نړې لرې لرې ځایونو ته ولېږل څو ټولو انسانانو ته د هغۀ د خوشحالۍ پیغام ورسوي. دهغوی دنده په واقعت سره ډیره ستره وه او پدې لاره کښې یې ډېرې ستونزې درلودې. ښایي شاګردانو ئې پخپله هم دا یقین نه درلود چې څنګه کېدای شي چې د دوی په شان ډارن او معمولی کسان دې وشي کړای چې په ټولې نړۍ کښې د مسیح زیری خپور کړي. خو مخکې له دېنه چې هغوی خپله ویره ښرګنده کړي، مسیح هغوی د خپل دائمي حضور نه ډاډه کړل او ورته ئې وویل: "د آسمان او د مزکی

ټول واک ماته راکړی شوی دی. ځکه تاسو په مزکه خواره شئ او ټول قومونه زما مریدان کړئ او د پلار، د زوی او د روح القدس په نامه ورته بپتیسمه ورکړئ. او دا تعلیم ورکوئ چې په هغه ټولو خبرو عمل کوئ چې ما تاسوته حکم کړی دی. او دا یقین لرئ چې زه به تل تاسو سره یم تر آخره وخته پوری." (متی ۲۸: ۱۸_۲۰)

ټول قدرت په ځمکه او آسمان کښې عیسی مسیح ته ورکړ شویدی او دهغهٔ دغه قدرت هېڅ حد او اندازه نلري. مرګ او قبر دا وس نه درلود چې هغه ایسار کړي. عیسی مسیح کولای شي چې ټولو هیوادونو ته سفر وکړي ځکه چې هغهٔ پاسپورت یا کومې اجازتنامې ته اړتیا نلري. د داسې یو شخصیت حضور زمونږ په ورځني ژوند او خدمت کښې تر ټولو ستر انعام دی چې یوکس ئې کولای شي ولري. او دغه انعام زمونږ سره مرسته کوي چې په خپل خدای او ژغورونکي باور او اعتماد وکړو. خدای همیشه خپلو وفادارو خدمتګارانو لپاره دغه امکان برابروي څو دهغهٔ اراده په خپل ژوند کښې عملی کړي.

هغه موسیٰ راولېږهٔ څو په مصر کښې بنی اسرائیل د غلامۍ د بند څخه خلاص کړي. وروسته بیا ټول د بنی اسرائیلو قوم په یوه لویه دښته کښې میشته شول. موسیٰ پدې پوهېدهٔ چې ډیره درنه دنده ور په غاړه ده او لړلږ ئې په خپل ځان شک پیدا شو. دا څنګه ممکنه ده چې داسې یو لوی قوم دې د یو کس له خواه هدایت شي؟ هغهٔ ته دا ناممکنه برېښېده. موسیٰ وروسته له دې چې خپلې کمزورۍ ته یې پام شو د خدای حضور ته ورغی او خدای هغهٔ سره ژمنه وکړه چې په دغې پراخې د ښتې کښې به تل له هغهٔ سره مل وي څو هغې خاورې ته ورسیږي چې دوی ته ئې پخوا وعده ورکړ

شوې وه. موسیٰ د دی په ځواب کښې خدای ته وویل: "که چېرې ته (خدای) زمونږ د لارې مل نشې نو دکومه ځایه به معلومه شی چې زه او زما قوم ستا د مهربانی لاندې راغلي یو او د نورو قومونه څخه فرق لرو." (خروج ۳۳: ۱۲)

د موسیٰ لپاره د دی سترې او خطرناکې دندې د سرته رسولو یوازینۍ لاره د هغۀ سره د خدای دایمي حضور او ملګرتیا وه. او زمونږ لپاره هم د فصل د مالک همیشنی حضور او شتوالی د زیري رسونې په خدمت کښې بری او زړورتیا را په برخه کوي. پولس رسول په زندان کښې ؤ. هغه پوهیدۀ چې د مسیح د انجیل شریف په خپرولو کښې به د ډیرو تکلیفونو او ګړاونو سره مخ شي. ټولو دوستانو او حتی ملګرو ئې د زیری د رسولو په کار کښې هغه خوشې کړ او یوازې یې پرېښود. کله چې د هغۀ محاکمه پیل شوه هېڅوک یې تر څنګ ولاړ نه ؤ. سره له دې بیا هم هغۀ و شوکړای چې تیموتاووس ته ولیکي: "خو مالک زما مددګار وو، او هغه ماله دا طاقت راکړو چې زما په معرفت دا زیری په پوره طور خور شی او ټول غیر یهودیان دا واوری او زه د زمری د کومې نه را خلاص کړی شوم." (دوهم تیموتیوس ۴: ۱۷)

آیا تاسو هم غواړئ چې د خپل خدمت په دوران کښې چې د مسیح په خاطر یې سر ته رسوئ د همداسې یو اعتبار او باور څخه برخه مند شئ، حتی که په ستونزو او یواځیتوب کښې هم یاست؟ انعام په حقیقت کښې ډیر لوی دی خولاس ته راوړل ئې هم یو شرط لري او هغه دا دی چې لومړی حرکت وکړئ او د زیری د بیان لپاره خواره شئ. "ځکه تاسو پرمځکه خواره شئ..او دا یقین لرئ چې زه به تل تاسو سره یم، تر آخره وخته پورې." (متی ۲۸: ۱۸او ۲۰)

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

۱ـ کله چې مسیح خپل شاگردان د زیری د بیانولو لپاره ولېږل کومه بی مثاله ژمنه ئې هغوی سره وکړه؟

۲ـ مونږ څرنگه کولای شو چې د دې وعدې څخه برخه مند شو؟

۳ـ کله چې پولس په زندان کښې ؤ د هغهٔ ترڅنګ څوک ولاړؤ؟

۴ـ موسیٰ څرنگه وکولای شول چې د بنی اسرائیلو قوم د دښتې څخه د وعده کړای شوې خاورې لورې ته هدایت کړي؟

۵ـ د زیری د ورکولو څخه زمونږ هدف څه دی؟

الف) د انعامونو او مکافاتو لاس ته راوړل.

ب) د مسیح لورته د خلکو را جلبول.

## ب: رضایت

دیو مسیحي خادم لپاره تر ټولو نه لوی انعام او خوشحالي هغه ده چې هغه له خپل کاره څخه راضي او خوشحاله وي. حتی مادی انعامونه هم نشي کېدای چې ورسره پرتله شي. عیسی مسیح پدی اړه د درې مریانو ښکلې قصه د مثال په ډول بیان کړېده (متی ۲۵: ۱۴ ـ ۳۰). د هغو هر یوهٔ ته د هغهٔ د طاقت په مطابق یو کار ورکړای شو. مگر د هغو له ډلې څخه فقط دوه تنه ددې جملې په اورېدو سره خوشحاله شول: ((آفرین زما اعتباري او ایمانداره نوکره.)) دریم کس د ویرې نه رپېدهٔ. ځکه هغه کارئې نه ؤ سرته رسولی کوم چې ورنه تمه کیده. نو د خپل د عمل مکافات یې هم ترلاسه نکړ.

ما په خپل هېواد کښې د څلورو کلونو لپاره په یوې ښونځۍ کښې د ښوونکي په توګه دنده درلوده. یوکال ئې ماته د لومړینو زده کړو یو صنف وسپاره چې په هغې کښې د ۷۰ تنو زده کوونکو د ښونې او روزنې دنده را په غاړه وه. ټول د کلو او باندو نه راغلي وو. هېڅ یو قادره نه وو چې حتی یوه کلمه هم په فرانسوی ژبه خبرې وکړي. نو ما باید له هغو سره له صفره څخه پیل کړی وای، او همداسې مې وکړل. د تعلیمی کال په پای کښې هغوی کولای شول چې یوبل سره په فرانسوی ژبه خبرې وکړي او دغه ژبه ئې زده کړه. هغوی حتیٰ کولای شول چې لیکل او لوستل هم پرې وکړي. دایو ډیر فوق العاده کار ؤ. زما لپاره د دغې ژورې خوشحالۍ احساس د بل هر لوی انعام نه زیات ارزښت درلود. داسی یوه خوشحالي چې د یو نیک کار د سرته رسولو نتیجه او میوه وه. دغه واقعت په پیغام رسونې او دانجیل په خپرولو کښې هم موجود دی. کله چې یو نوي ایماندار ته ګورو چې د عیسی مسیح لپاره روحانی سندرې او ترانې وائي او نوی مسیحي ژوندون لري او نورو خلکو ته د هغې ګواهي ورکوي، او دا هم مونږ ته یاد ده چې هغهٔ پخوا څه ډول ژوندون درلود، نو زمونږ زړه له داسې یوې خوشحالۍ څخه مالامال شي چې د دنیا هېڅ ډوله مادي شته مني ورسره پرتله کېدلی نشي. د دې حقیقت درکول چې یو کس د ابدي مرګ څخه خلاصون موندلی دی حتی د آسمان فرښتې هم په خوشحالۍ راولي چې دا په خپل ذات کښې یو ډېر ستر انعام دی. عیسی مسیح پخپله پطرس ته وویل: "هر هغه چا چې زما د خاطره ورونه، خویندی، پلار، مور، اولاد، مزکه، جائیداد او کورونه

پريښې دی هغوی به يې يو په سل بيا مومی او تل عمری ژوندون به يې نصيب شی." (متی ۱۹: ۲۹)

زما په هيواد کښې ډېرو افريقائی مسيحيانو زياتې ستونزې او کړاوونه ګاللي دي. هغو څخه ځيني يې د خپلو کورنيو او خپلوانو څخه ورټل شول او ډېر وځورېدل. مګر خدای د هغو سره ډېر صادق او امانت دار ؤ او هغوی يې په ډيرو ښو برکتونو ښاد کړل.

د يو مسيحي په صفت چې د نړۍ هری سيمې ته لاړ شئ نو هلته به خپلې مسيحي خويندې او ورونه پيدا کړئ. مسيحيان خپلې نوې کورنۍ ته چې هماغه د خدای کورنۍ ده داخل شوي دي. امکان لري چې د خپلو خويندو او ورونو په ژبې ونه پوهېږئ، ممکن ستاسو دپوستکي رنګ د هغو نه فرق ولري، خو بيا هم د وروروولۍ او خوروولۍ په محبت کښې سره يو ياست. که چېرې د مسيح او د هغۀ د زيري د خپرولو په خاطر يو ملګری يا دوست په دې دنيا کښې دلاسه ورکړئ، مګر د خدای په کورنۍ کښې به ډېر نوي دوستان او ملګري پيدا کړئ چې دا ستاسو لپاره يو لوی انعام او اجر دی. ابراهيم خپل کور، خپلوان، د کورنۍ غړي او خپله پلرنۍ خاوره د خدای نه د فرمانبرداری په خاطر پريښوده او يو ښکلی وطن يې د انعام په توګه لاس ته راوړلو. هغه د ټولو ملتونو او پرګنو پلار شو او په حقيقت کښې په ټولو آسمانی او ځمکنی برکتونه مبارک کړای شو. د هغه يو مرئي لابان ته داسی وويل: "خدای زما بادار ته ډير زيات برکتونه ورکړيدي. هغه يو لوی او نامتو سړی شويدی. خدای هغۀ ته ډېرې رمې، څاروي، سرۀ او سپين زر ،مريان، وينځې، اوښان او خرۀ ورکړيدي او زما د

بادار ښځې سارا د زړښت په عمر کښې هغۀ ته يو ځوی هم زېږولی دی.“ (پيدايښت ۲۴: ۳۵_۳۶)

که چېرې مونږ د عيسی مسيح د دې فرمان څخه پيروي وکړو چې وئيلي دي: ((لاړشئ او دنړۍ په ګوت ګوت کښې زما زيری خپور کړئ)) او هغۀ ته اجازه ورکړو چې زمونږ څخه د زيری په خپرولو کښې کارواخلي نو مونږ به هم د هغوی په شان شو چې ”څوک چې په ژړا دکورنه وځي او تخم کري نو خامخابه د خوشحالۍ په سرودنو سره بيرته کور ته راستنېږي او د ځان سره به د هغۀ حاصل راوړي.“ (زبور ۱۲۶: ۶)

عيسی مسيح ۷۰ کسه ولېږل او په واپسۍ کښې ټول خوشحاله وو ځکه چې د مالک په نوم ئې خپل کارونه سرته رسولي وو. په رښتيا چې د دې څخه بله لويه خوشحالي او انعام نشته چې خدای مونږ د روحونو او بدنونو د ښکار لپاره ګماري.

## هغه څه چې تاسوئې بايد سرته ورسوئ

۶_ هغه وخت چې ابراهيم د خدای نه د فرمانبردارۍ په وجه خپل کور او وطن پرېښود هغه ته څه پيښ شول؟

۷_ هغه زيری بيانونکي ته کوم انعام په انتظار دی چې د کور څخه په ژړا وځي او دکرهنې لپاره تخم د ځان سره وړي؟

۸_ دلاندينو انعامونو څخه کوم يو د عيسی مسيح په قبلولو سره لاس ته راوړئ؟

الف) د مسيح په کورنۍ کښې د نيوو خويندو او ورونو پيداکول.

ب) کله چې ګورم چې يو تن زما د بشارت په نتجه
کښې د مسيح لورې ته راځي نو ډېر د خوښۍ او
خوشحالۍ احساس کوم.

ج) د عيسی مسيح په خدمت خوشحالي او رضامندي.

د) ډير هغه نوي ملګري پيدا کول چې د مسيح سره مينه لري.

ه) د خدای هميشنی حضور زمونږ سره.

# راتلونکي اجرونه

## الف: پېژندل شوي اجرونه

سر بيره پرهغو انعامونو او اجرونو چې په حاليه دور کښې زيري خورونکي ته ورکول کيږي، د يوشمير نورو انعانونو وعدې هم ورسره شويدي چې په راتلونکي کښې به ئې حاصلوي. د خدای په کلام کښې راتلونکي انعامونه په دوو برخو وېشل کېږي، لومړی پېژندل شوي او دوهم ناپيژندل شوي انعامونه. چې د هغو څخه به ځيني تر ځېرنې لاندې ونيسو.

۱- هغه کسانو چې ډير خلک ئې سمې لارې ته رابللي وي او هغو ته ئې لارښوونه کړې وي، هغوی به لکه دستورو په شان تل تر تله ځلېږي (دانيال ۱۲: ۳). سائنس پوهان او ستوري پېژندونکي په دې عقيده دي چې ستوري د ځمکې څخه ډير لرې دي. او دا په مياشتو مياشتو وخت نيسی کله چې د يوی فضائی بيړۍ په واسطه چې د نور په سرعت حرکت وکړي مونږ يوې ډېرې نږدې ستوري ته سفر وکړو. سره د دې دومره اوږد واټن بياهم مونږ قادر يو چې دا ځلانده ستوري وګورو. نو آيا دا يو په زړه پورې حقيقت نه دی چې يو وخت مونږ او تاسو هم د خدای په ملکوت کښې لکه

د ستورو په شان ابدي ځلاه ولرو؟ خوشرط دادى چې خلک د عيسى مسيح لور ته را جلب کړو.

۲- د عيسى مسيح سره به پادشاهي کوو! عيسى مسيح مونږ ته خلاصون راکړيدى څو ابدي ژوندون ولرو. او دغه حقيقت مونږ ته ليوالتيا او شوق را بخښي. د دې څخه لوړ اجر او انعام هيڅ نشته. مسيح مونږ سره د پادشاهۍ وعده هم کړې ده. هو کې! مونږ به د عيسى مسيح سره حکومت کوو او فرمانونه به جاري کوو. مونږ به د عيسى مسيح په څېر يو او تل ترتله به د هغه سره يوځاى ژوند کوو. کله چې مسيح پلار ته بيرته ستنېدۀ نو خپلو شاګردانو ته يې د غه حقيقتونه په ځلانده توګه بيان کړي ؤ.

۳- همدارنګه خداى خپلو دوستانو سره د ډېرو تاجونو وعده هم کړيده، راځى چې هغه په ګوتو کړو.

الف) د عدالت تاج (دوهم تيموتيوس ۴: ۸).

ب) نه فنا کيدونکى او ابدي تاج (اول کورنتيان ۹: ۲۵).

ج) د ژوندون تاج (يعقوب ۱: ۱۲).

د) د جلال تاج (اول پطرس ۵: ۴).

که چېرې هغه کار چې خداى مونږ ته سپارلى دى تر سره کړو، د هغۀ دغه ټول انعامونه به زمونږ وي. نو بيا ښايي چې خپل کارونه په ډېر غيرت او مېړانې سره ترسره کړو. دا په ياد لرئ چې تاسو خپل وخت هسې عبث نه ضايع کوئ لکه څنګه چې ځينې خلک دا الزام په تاسو ترې. تاسو د باد پسې منډې نه وهئ بلکه خپلې سترګې مو د آسمان لورې ته نيولي دي. ځکه چې دا نړۍ له خپلو ټولو شتمنيو سره له منځه تلونکې ده، خو زمونږ کار به د خداى سره ابدي وي.

## هغه څه چې تاسوئې باید سرته ورسوئ

۹ـ کوم کار باید وکړو څو د ستورو په شان وځلېږو؟

۱۰ـ د مسیح سره پادشاهي کول څه معنی لري؟

الف) هغه سره به د آسمان په پادشاهۍ کښې شریک کېږو.

ب) ډیر خلک به مونږ ته سرونه ټیټوي او زمونږ لمانځنه به کوي.

۱۱ـ هغه مهم کار چې مونږ ئې کولای شو هغه د خدای کار دی. ځکه چې:

الف) ډیر زر پای ته رسي او له منځه ځي.

ب) تر ابده پورې به باقي وي.

۱۲ـ دوهم تیموتیوس ۴: ۸ ، اول کورنتیان ۹: ۲۵، یقعوب ۱: ۱۲ ، اول پطرس ۵: ۴ ولولئ. دا آیتونه دڅه شي په هکله بحث کوي؟

## ب: ناپېژندل شوي اجرونه

دیوحنا د مکاشفې په کتاب کښې عیسی مسیح فرمایلي دی: ”هو! ګورئ! زه عیسی زر درځم او خپل اجر د ځان سره راوړم چې هر یوله د هغهٔ د عمل په مطابق اجر ورکړم.“
(مکاشفات ۲۲: ۱۲).

عیسی مسیح خپلو شاګردانو ته داسې وویل: ”تاسو بختور ئئ چې کله چې خلک تاسوته په نفرت ګوری او دخپل منځ نه مو شړی او تاسو سپکوی او ستاسو نوم په بده اخلی او د ابن آدم په وجه ستاسو نوم د خپل منځ نه لری کوی. نو په هغه ورځ تاسو

خوشحالی کوئ او په ښادۍ ټوپونه وهئ، ځکه چې تاسو لپاره په آسمان کښې ډير لوی اجر دی هم په دغه شان د دوی پلرونو هم د نبيانو سره دغه سلوک کړی وو." (لوقا ۶: ۲۲_۲۳)

پولس رسول د کورنتيانو په کتاب کښې د مسيحيانو لپاره د خدای لويې وعدې بيانې کړيدي، هغه وعدې چې خدای ډيره موده د مخه کړې وې: "...څه چې نه سترګو ليدلی، نه غوږونو اوريدلی او نه د انسان په زړۀ کښې راغلی دی، هغه څيزونه خدای د هغوی لپاره چې ورسره مينه لری، تيار کړی دی." (اول کورنتيان ۲: ۹)

مونږ ټول هغه انعامونه او اجرونه چې خدای زمونږ لپاره مقرر کړي دي، نه پيژونو. او د آسماني خوشحاليو څخه يوه خوشحالي د هغو برکتونو ليدل دي چې خدای زمونږ لپاره مقرر کړيدي. مګر د دې نه هم ډيره لويه خوښي، په آسمان کښې د هغه سړيو، ښځو، زامنو او لورګانو ليدل دي چې زمونږ د زيري د بيان ميوه ده. هغه ورځ به څومره د وياړ څخه ډکه ورځ وي.

## هغه څه چې تاسوئې بايد سرته ورسوئ

۱۳_ پوهيږو چې د عيسی مسيح لپاره خدمت کول ډير ارزښتناک دي که څه هم د ستونزو څخه ډک هم وي ځکه چې:

الف) هغه څوک چې مونږ ته ضرر رسوي خدای هغوی ته سزا ورکوي.

ب) که چيرې د خدای په خاطر کړاونه وزغمو نو د هغۀ انعام او اجر به تر لاسه کړو.

۱۴_ هغه ډېر د ویاړ او برم څخه ډک انعام چې په آسمان کښې مونږ ته راکول کېږي، کوم دی؟

تاسو ته ددې کتاب د ختمولو مبارکی وایم. خدای دی تاسوته دزیری د بیانولو په کار کښې برکت درکړي. کولای شئ چې د انفرادی زیری رسونې پر وخت دغه کتاب د دوهم ځل لپاره هم مطالعه کړئ او دزیري دبیانولو په کار کښې په لاژمو ټکو بیا یو نظر واچوئ. هرکله چې د نااُمیدی احساس تاسو ته پیدا کېږي د دی کتاب اخري لوست ولولئ. هېڅکله دا مه هېروئ، چې عیسی مسیح همیشه ستاسو سره مل دی، او ستاسو مرسته کوي.

## خپل ځوابونه پرتله کړئ

۱_ همیشه به له هغوی سره وي.
۲_ په دې ډول چې د انجیل شریف پیغام ته رېښتني و اوسو او د نورو خلکو سره د هغو کارونو په اړه خبرې وکړو چې مسیح زمونږ په ژوند کښې تر سره کړیدي.
۳_ خدای
۴_ خدای د هغه سره ؤ.
۵_ ب
۶_ داسی برکتونه ئې تر لاسه کړل چې پخوا یې هېڅکله هم نه ؤ لیدلي.
۷_ په خوشحالی به بیرته ستون شي.
۸_ دغه ټول اجرونه به تر لاسه کړئ.

۹_ باید خلک په سمې لارې هدایت کړو.
۱۰_ الف
۱۱_ ب
۱۲_ دهغه تاجونو په هکله بحث کوی چې د عیسی مسیح د ملګرو او خادمانو لپاره دي.
۱۳_ ب
۱۴_ د هغه کسانو د لیدلو خوشحالي چې زمونږ د زیری ورکولو په وسیله ئې عیسی مسیح د خپل ژغورونکي په صفت منلی دی.